بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

د کابل اداره به تر څو دخپل شکست عوامل په ګاونډ کې لټوي ؟

یرغلګرواوددوی ګوډاګیانوفکر کاوه چې دژمي په موسم کې به داسلامي امارت دسر تېرومجاهدینوله بریدونواوجهادي تکتیکي عملیاتوڅخه دوی خوندي اوپه امن کې وي او تودوصندلیو ته به دژمي یخې شپې په ارام اوسکون تیرې کړي ؛خو خبرندي چې څوک دایمان اواخلاص په جامه اوجذبه ملبوس اوښایسته وي اومعامله یې صرف له مهربان اومتعال رب سره وي ، هغوی ته توده اوسړه هوا، ژمی اواوړی ،پسرلی او خزان بې تفاوته اویوبرابروي .

دهمدغه دیانت اووفاداري نتیجه وه چې داسلامي امارت سرښندونکواتلانودژمي په ورځواوشپو کې بهرني یرغلګراوددوی اجیران هم په کابل کې اوهم په ولایتونو،اطرافواواکنافو کې وځپل اودرانه زیانونه یې ورواړول ،چې دکابل وزیراکبرخان په لبناني هوټل کفرلړزونکی برید، دننګرهاردغني خیلوولسوالی کې دیرغلګروپه مهم پوځي مرکز کې لویه چاودنه اود۲۱ اشغالګرووژل کېدل،دکندهارژیړې په ولسوالی کې دعملیاتوپه ترڅ کې دیودرځن امریکایانوله منځه تلل ، دهلمندولایت په یوشمیر سیمو کې په خارجي دښمن پریکنده ګوزارونه ، دسروبي ولسوالي کې داجیرې اردوپه مهم مرکز ویجاړوونکی بریداودغازي اباد په ولسوالی کې د۲۵ تنواجیروعسکرووژل کیدل اونورور ته بریدونه هغه جهادي برياوې اوحقايق دي چې اتلومجاهدوغازیانوپه روان ژمي کې په خورامهارت اوفداکاری یوپه بل پسي ترسره کړل اودښمن ته یې په ډاګه کړه چې دمجاهددتوري له ګوزارڅخه په یووخت کې هم دشیطان اوګمراهی لښکري نشي بچ کیدای !

مکارړژیم اوبادارانې یې چې کلک ګوزارووینې اوله ورخیزڅخه وغورځي، نوددې پرځای چې په خپلې ناتوانی اوماتي اعتراف وکړي اوشکست خورده پوځي چارواکي یې استعفاور کولوته اړشي، برعکس یوې زړې اوپرسوده پلمې اوبهانې ته ژرلاس وراوږدکړي ، چې ګواکي دغه اویاهغه بریدچې مخالفینوترسره کړی، پلان یې په ګاونډي هیواد کې جوړشوی اوبیامغرضه میډیاهم داذهانودتیر ایستلولپاره نغاره ډیرژر غاړي ته اچوي اوله حقایقولیري عواملوته ګوته نیسي ، لکه په دې ورستیو کې یې چې دغازي اباد په پیښه کې په طرف کې ولاړې میډیاناولي اوله زهرووډک تبلیغات په کارواچول اودسیاسي سوادابازی لپاره یې حقایق سرچپه تعبیر کړل.

مونږ ارګ ، پارلمان! ، مدني ټولنو اوناترسې میډیاته وایوچې دهغومظلوموافغانانوجنازې ولې ارګ ته نه وړل کیږي اوور ته ډول ډول تبلیغاتي کمپاینونه نه چلول کیږي چې دامریکااواجیرې اردوپه توسط هره ورځ په افغانستان کې په ډیرې بې رحمی وژل کیږي اوپه کورونویې خرواړونه بمونه اوري ،دهغوپه اړه ولې داخبره نه راپور ته کیږي ، چې عاملین اوقاتلین یې څوک دي اوچیر ته یې دوژل کیدوتصمیم نیول شوی وو؟

ښکاري چې خبره دوه مخي ده، دافغان مظلوم ولس مرګ ، وینه اوزیان ، ارګ ، اجیرپارلمان ، امریکایي میډیااوټولوهغوټولنو اوبشري سازمانونو ته چې په افغانستان کې فعالیت کوي هیڅ ارزښت نلري ، بلکې دوی ته صرف امریکایي زیان اودامریکایي ګټولپاره دجنګیدونکي اردومرګ ژوبله مهمه ده چې کله رامنځته شي نولکه دغازي اباددپیښي په څیرور ته دخواخوږي پراخ کمپاینونه کیږي، فاتحې یې اخیستل کیږي اوپه تابوتونویې دګلانوګیډۍ ایښودل کیږي .

خودغه مکارجهتونه بایدپوه وي چې لمرپه دوګوتونه پټیږي ، نن ورځ هرڅوک پوهیږي چې امریکایان افغانستان ته دڅه لپاره راغلي اودغه شرمیدلې ۳نیم لکه اردویې دکوموموخولپاره جوړه کړي ده؟

اونه پوهیږوچې دکابل رژیم به ترڅودخپل هر شکست اورسوايي وجوهات ددې پرځای چې په خپلو بګیلوپوځي قطعاتواوپه نیشواوتماشواخته اردو کې یې پیداکړي ، تل یې عوامل په بې بنیاده پلموپه ګاونډاوله هیواده بهر لټوي ؟

استخباراتي کړۍ له دوبۍ څه ترلاسه کوي ؟!

عبید خلیل



زه چې دافغانستان دطالبانو داسلامي تحریک په باب څومره تجربه اوفهم لرم ، الله تعالی دغه حرکت ته داځانګړتیااوامتیازوربښلی، چې په لیکه اومنځ کې یې غدارې اوملوثې خیرې هیڅکله ځای نشي تیرولی اوساتلی ، ارومریې الله تعالی برملاکوي اوخبایث یې خلکوته ورښیي.

ددغه لوی انعام اوامتیاز مهمه وجه داده چې طالبان اوقیادت یې هغه څه چې په خولې وایي هغه یې دزړه اواز هم دي ، دوه مخي نلري ، په دیني ارزښتونو اوملي ګټوسوادابازي ته نه حاضریږي اوترټولو اهمه خبره داده چې داسلام دغه ریښتیني پتنګان داسلام په لاراودهیواد په دفاع کې دومره صادق اومخلص دي چې دخپلې قیمتي ککرې ځارولوته تیاریږي ، خوپه خپله لمن اوهویت دغداری اوبې همتی داغ په هیڅ بیه نشي زغملی.

امریکااوغرب له طالبانو سره له تیرو۱۸ کلونوراهیسي په همدې شخړه کې درګیردي چې طالبان دامریکانړیوالې بدماشی اوپرسوده تهذیب ته غاړه نه کږوي ، که نن هم الله دې نکړي طالبان یوڅوفیصده امریکایی فرمایشات ومني ممکن امریکااوغرب دطالبانوډیروغوښتنو ته غاړه کیږدي اوزیات څه یې ومني.

خو اتل طالب قیادت په ړومبی ورځ ورته ویلي چې نه دې بدماشي منم ، نه دې ناولی اوپرسوده قانون منم ، نه دې نمایشي انتخابات منم ، نه دې دښځود عفت اوعصمت دلوټلوپه نامه ازادي منم اونه دې نورې اسلام دښمنه پروژې دمنلواوتطبیق وړدي ، طالب نن هم په هماغه دلایلو ټینګ اولکه غر مستحکم ولاړدی طالب په دې پوهیږي چې که یوڅپک اولویشت هم دامریکااوغرب په وړاندې تنزل وکړي ، هم به دالله په وړاندې ذلیل اوخجل وي اوهم به مکاره اودوکماره امریکاترینه راضي نشي ، لکه چې بعینه دغه حالت اوس په کرزي صادقیږي ، چې نه یې الله تعالی خوښ اوملت راضي کړاونه یې هم هغه امریکاچې دده اونورو تالیڅټوپه متواوګرمو شعارونو افغانستان ته رادننه شوه

اوډافغانستان حریت اوحرمت دهغوی پښو ته وغورځاوه خپله اوخوشاله کړله !!

امریکایان اوډکابل رژیم چې دطالب ځواک، واحدقیادت اوپه خپل دریځ استقامت ولید اوپه نظامي میدان کې هیڅ په لاس ورنغلل نودفریب اودوکې لارې ته مخه کړه اودلسګونو میلونو ډالرو په لګښت یې هڅه وکړه چې دطالب په واحدصف کې دمیانه رو اوسخت دریځي په نومونو درز اوتفرقه واچوي.

په دغه میدان کې هم غلیم چندانې پرمختګ ونشو کړای، صرف یوڅوتنه مادیات پرسته هغه عناصر چې ټول عمریې دمادیاتو اوچوکي لپاره ځان وقف کړی وو اوپه خپل کورکې ورونږو اوځامنو هم ورسره همدردي نه درلوده اونه یې لري هغه یې دطالبانودپخوانیو غړوترعنوان لاندې څه دسولې په شوراکې ونیول اوکوم یونیم یې دمعتصم په خیالي شورواکې وردننه کړل، چې ددغو ټولو شمیرلسو تنو ته هم نه رسیږي.

خودطالب حقانیت ته ګوره چې الله تعالی یې دښمن څومره ژررسواکوي، په دې ورستیوکې استخباراتي کړیو ګڼ داسې خبرونه خپاره کړل چې دسولې شورا اوطالبانو ترمنځ په دوبی کې مذاکرات روان اویاترسره کیدونکې دي اودمذاکراتولپاره له طالب لوري څخه دهغوی ددور پنځه تنه مهم پخواني وزیران برخه اخلي.

خوچې کله طالب ویاند ذبیح الله مجاهد ددوبی مذاکرات بې اساسه وښودل اوخپل مخالفت یې ورسره په ډاګه کړاواو چلینج یې ورکړ چې دهغووزیرانونومونه دې واخلي چې په اصطلاح لدوی سره په دوبی کې مذاکرات کول غواړي، نوپه دې وخت کې دکابل استخباراتي کړی اړشوي چې اصلي خبره وکړي چې هولدوی سره دطالبانو داسلامي تحریک استاځي دسولې خبري نلري، بلکې له متعصم اغا سره ټاکل شوي چې دسولې اوروغې خبري ترسره شي.

اوس هرڅوک پوهیږي چې معتصم، پرته له ځان اوکوم اشپزاوموټرچلونکي څخه بل څوک لري؟ چې شاته یې ودریږي اوواېي چې زه یې هم غړی اوملګری یم، که داسې وي دیوڅو تنو نومونه خو دې کومه ورځ میډیاته واخلي !!

معتصم خلک پیژني چې څومره وزن لري اودکومو وجوهاتو او اخلاقو له وجې له پاک صف څخه تجرید کړی شو، نوچې بیاهم په هغه پسې څوک ځي هغه به له معتصم څخه هم په کردار او اخلاقو کې لویدلې خیره وي.

داسې ښکاري چې دکابل دسولې اودارګ امنیتي شورا همدغه یوه ورستی دسیسه دمعتصم په شکل کې لرله اوله تیرو۲ کلونوراهیسې یې پرې زیات لګښت اوکارکړی وو چې بالاخره هغه هم ددوبی دسولې دنمایشي خبروپه بربنډیدوکې له وخت مخکې شنډه اوله کاره وغورځیده.

ددوبی دسولې له ورستیومنډوترړو اوتبلیغاتو څخه په ډاګه شوه چې دکابل شړیدلې اداره اوخپله امریکایان ترکومه حده وارخطااوسربداله دي چې یوه داسې کس ته هم امیدلري چې په ټول هیوادکې دیوې مسلحې دلګې واک اواختیارهم نلري اونه یې ترڅنګ داسلامي امارت کومه پیژندل شوې څیره اوپوځي قومندان ولاړه دی، نوپوښتنه داده چې که فرضاً دسولې اوروغې خبرې له هغه سره په مخ ولاړې شي په کوم ډاډاوامکاناتوبه معتصم په جنګي برخه کې فشار اودباوکم کړي اوله جهادي بریدونوڅخه به یې یوڅو ورځي په ارام اوخوندي وساتي؟

معلومیږي چې غلیم نور درسوايي اوشکست هغه حدته رسیدلی چې هرخس اوخاشاک ته لاس وراوږدوي، خو دوی دې په یادولري چې دبشپړې غرقیدوورځې یې په شماردي، که نن وی که سبا، باداران به یې ترې تنهاپښې سپکوي اواجیران به یې دمجاهدتورې بریښ ته همدلته پاتې کیږي، انشاالله تعالی

اوكراين ځوک ناارامووي ؟!



عبيد تنوير

اروپايي اتحاديه غواړي چې اوكراين ، مولداوى ، بلاروس ، ارمنستان ، ازاربايجان اوګرجستان چې دقفقاز په سيمه كې واقع دي ،ځانته نيږدي اوتودي تجارتي اوسياسي اړيكي ورسره ولري ، دغه يادهيوادونه يووخت دپخواني شوروي اتحادپه سيطري كې شامل واودساره جنګ ترپايته پوري دمسكوتر مستقيم نفوذلاندې چليدل .

دهمدې روان كال دنومبرپه ۲۸ او۲۹ نيټه دليتوانياپه پلازمينه (ويلنيوس) كې اروپايي اتحاديي دپور ته موخو دترلاسه كولوپه خاطرناسته ترسره درلوده اوپه خاص ډول له يادوهيوادونوڅخه تمه درلوده ،چې له اروپاسره يوازادتجارتي تړون لاسليک كړي ،خواوكراين يې په ځغرده مخالفت وكړ، دغه كار داروپايي اتحاديي هيلوته لويه مايوسي واړوله.

له بل لوري داوكراين زيات وګړي اودپارلمان نيمايي استاځي له واكمنو سره په دې اخ ډوب پيل كړ اوخبره يې خونړيو اعتراضونو ته ورسوله ، چې ولې واكمن دروسي په ځاى له اروپاسره تودو اړيكو او تجارت ته ترجيح نه وركوي.

دشونكوپه اندپه اوكراين كې دوه مهم علتونه شتون لري چې دنوموړي هيوادوګړي يې سره ويشلي دي چې يو علت يې داخلي اوبل يې هم خارجي دي .

داخلي مشكل ددې باعث ګرځيدلى چې نوموړي هيوادته سياسي بې ثباتي اوپراخ ارج مرج راولى ، اوكراين چې ۶۰۳/۷ زره كلومتره مربع مساحت لري اوله فرانسي ورسته داروپايى اتحاديي دوهم لوى هيوادبلل كيږي ، ۴۵ ميلونه وګړي لري ، په دې معناچې له المان ،انګلستان ، فرانسي اوايټالياڅخه دنفوسو په لحاظ اوكراين څلورم هيواد ګڼل كيږي .

خودجغرافيي له نګاه نه اوكراين دشرق له لوري له غرب اواروپاسره نښلي ، يعني داوكراين شرقي ايالتونه اوښارونه چې دنوموړي هيواد ۷۰ فيصده ناخالص توليدات ټاكي ،وګړي يې اوس هم دغرب اواروپاپرځاى له روسيى سره نيږدي والى غواړي اوتيارندي چې غرب اواروپايى په توليداتوخيټه واچوي

داوكراين په شرقي برخو كې لاهم روسيي فرهنګ اوژبه حاكمه ده ، له بل لوري په مذهبي لحاظ شرقي اوكراينيان دارتدوكس دهغې كليساپيروان دي چې روسي رنګ پرې غالب اومسلط دى .

داوكراين غربي منطقه بياد(نيپر) ښى ساحلي اړخ كې قرار لري چې پولي يې له لهستان اواسلواكيا سره تړاونيسي، داوكراين دغربي منطقې وګړي بياله شرقي وګړو برعكس غربګرااوپه كله ددې غوښتونكي دي چې له غرب اواروپاسره اړيكي اوتماس ولري ، دوي په مذهبي لحاظ بياد كاتوليكي كليساپيروان دي .

داوكراين دخلكودغه قومي ، مذهبي ، اوهويتي توپيرونه هم كه پرځاى پريښودل شي ، يوبل مهم عامل چې دشرقي اوغربي اوكراين دخلكو ترمنځ يې شديداختلافونه رامنځته كړي ، هغه دشرقي اوكراين مساعد اودپام وړ اقتصاددى ، ځكه دشوروي اتحاد په مهال زياتره صنعتي ، كرهنيز اودتوليدمراكز په شرقي برخه كې تاسيس اوجوړ شوي ، همدغه لامل دى چې غربي اوكراين تل په دغه حالت ناخوښ وي اوداعتراضونوسرچينه يې هم له همدغه ټكي څخه پيليږي اوله تيرو

دولسیزو راهیسي همیش داوکراین دشتمنیود مساوي ویش اوعدالت غوښتني په ډاګه کوي .

خوله دغو دو داخلي ستونزواور قابتونوسره سره یوخارجي بعداورقابت هم شته چې داوکراین خلک یې سخت په کړاو کې ساتلي اودیته یې نه پریږدي چې نوموړی هیواد ترقي وکړي اودهوسایی ګډ ژوندسره ولري ،چې هغه دروس اوغرب لاسوهني اوزورازمایی دي .

روسیی ته داوکراین اهمیت په دې کې دي چې نوموړی هیواددتوري بحیري یوشمیرمهم سواحل اوبندرونه لکه «سواستوپل» او«اودسا» په اختیار کې لري ، داهغه بندرونه دي چې پخواني شوروي اتحاد به دځپلوبحري بیړیوپه برخه کې مهمه استفاده ترینه کوله اواوس هم یوډول استفاده له همدغوبندرونوڅخه په اسانی کولای شي ، په بل اړخ کې بیا اوکراین دګازواوتیلومهمه اړتیا له روسیي څخه پوره کوي



غرب اوپه خاص ډول امریکا بیا په دې موخه چې اوکراین دروسیي له دام اواغیزنه راوباسي له ډیرې مودې راهیسي په اوکراین لاس کش کوي اوپه نړیوالوغربي ، اقتصادي ، امنیتي اوسیاسي تړونونو کې یې په عضویت مني

خلاصه داچې داوکراین داخلي سیمه ییز(شرقي اوغربي) کشمکش اودروسیي اوغرب ترمنځ استراتیژیکه سیالي اومداخلي ،هغه ښکاره دلایل اووجوهات دي چې داوکراین سیاسي ثبات اوداخلي همغږی یې سخته زیانمنه کړي اوله یوې نه بلې ورځې ته یې داوکراین برخلیک ، پرمختګ اوسوکالي له پوښتنواوتیاریکیوسره مخ کوي .

شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله ویناوی

۱ـ ستاسو لوی دښمن ستاسو بد ملګری دی.

۲ـ ښېګڼه هغه ده چې له خلکو نه یې دستاینې هیله ونه شي.

۳ـ دنیک کار پیل ستاسو کار دی اوپای یې الله پاک ته پرېږدئ.

۴ـ که دخدای پاک نږدې والی مو خوښ وي نوپر مخلوق یې لورینه وکړئ.

۵ـ دنفس په ناروا غوښتنو سر مه ګروئ که نه له تباهۍ اوهلاکت سره به مخ شئ.

۶ـ له ویجاړو قبرونو نه عبرت واخلئ، ځکه چې دډېرو ځوانانو هډوکي پکې خاورې شوي دي.

۷ـ دمرګ یادول دنفس دټولو رنځونو ښه درملنه ده.

۸ـ ښه عمل نورو ته ور کړه ده ، نه ، له نورو نه غوښتنه .

۹ـ مؤمن خپل کورنۍ الله پاک ته سپاري او منافق یې جائیداد اوشتمنۍ ته.

۱۰ـ ستاسوغیبت کونکي په حقیقت کې تاسو ته ګټه رسونکي دي، ځکه خپلې ښېګڼې ستاسو دعمل پر پاڼه لیکي

نسل کشي مسلمانان در آفريقاي مرکزي ! !

افکار ـ ن

کشور آفريقاي مرکزي از محروم‌ترين کشورهاي جهان به شمار مي‌رود و مسلمانان که قريب ۲۰ درصد از جمعيت چهار و نيم ميليوني اين کشور را تشکيل مي‌دهند محروم‌ترين قشر جامعه محسوب مي‌شوند. اين کشور از چندي قبل آماج حمله شورش‌هاي افراطي وابسته به قبيله موسوم به "آنتي باکالا" قرار گرفته است که عمدتاً از مسيحيان مي‌باشند و در اين ميان، مسلمانان اصلي‌ترين قرباني اين شورش‌هاي قومي هستند و افراطيون مسيحي با هجوم به مناطق مسلمان نشين، به وحشيانه‌ترين شکل آنها را مورد حمله قرار مي‌دهند و از هيچ جنايتي فروگذار نمي کنند. شورشيان که از هيچ جنايتي ابا ندارند با انواع سلاح‌ها، والدين را در مقابل کودکان اغيشه بخون مي کنند. رفتار ضد انساني شورشيان با مسلمانان اين کشور بسيار تکان دهنده است به گونه‌اي که ساکنان از ترس مهاجمان، خانه و کاشانه و دارائي خود را ترک کرده و فوج فوج در بيابانها، به خصوص در مناطق هم مرز با چاد پناه مي‌برند . گزارش‌هاي رسيده حاکي است که دولت‌هاي همسايه نيز از پذيرش آوارگان خودداري مي کند و در کل، يک فاجعه انساني و نسل کشي عليه مسلمانان در اين کشور جريان دارد.

اين جنايات وحشيانه و قتل عام انسانها در مقابل چشم نيروهاي فرانسوي صورت مي گيرد که اقدام قابل ملاحظه‌اي براي حفاظت از اين افراد بي‌دفاع و مظلوم به عمل نمي‌آورند. اجساد بي‌شماري از مسلمانان اکنون در شهر "بانگي" مرکز حکومت آفريقاي مرکزي پراکنده است و هيچ مرجعي به جمع آوري و دفن آنها اقدام نمي کند .



به گزارش منابع سازمان ملل تعداد آوارگان از يک ميليون نفر فراتر رفته است. اتحاديه آفريقا و نيز آنچنانکه بايد، براي مهار بحران در آفريقاي مرکزي اقدام نکرده است که علت اصلي آن نيز فقر و فقدان انگيزه براي مداخله مي‌باشد . فرانسوي‌ها که به سبب سوابق استعماري خود را قيم آفريقا مي‌دانند و هم اکنون نيز ۱۶۰۰ نيرو به بهانه تشديد درگيري‌ها به اين کشور اعزام کرده‌اند عملاً هيچ اقدامي براي مقابله با جنايتکاران و شورشيان مسيحي افراطي در اين کشور انجام نداده‌اند. قدرت‌هاي بزرگ و مجامع بين‌المللي نيز طبق روال هميشگي و در راستاي سياست دو بام و يک هوا تاکنون

هيچ گونه قدمي براي حمايت از اقليت مسلمان آفريقاي مركزي و جلوگيري از نسل كشي برنداشته‌اند و حتي به خود زحمت نداده‌اند دست كم بيانيه و يا قطعنامه در رسيدگي به فجايع درحال وقوع در اين كشور صادر كنند و تنها به ابراز تأسف بسنده كرده‌اند .

سازمان عفو بين الملل اعتراف كرده است كه در آفريقاي مركزي پاكسازي قومي عليه مسلمانان جريان دارد و از مجامع بين‌المللي درخواست اقدام نموده است .

بسيار شرم‌آور است كه مجامع عريض و طويل جهاني با شعارها و ژست‌هاي پرطمطراق، به نظاره نشسته‌اند و گروه‌هاي جنايتكار در مقابل چشم آنها و رسانه‌هاي تحت سيطره آنها به ضدانساني‌ترين شكل مسلمانان را در آفريقاي مركزي قتل عام مي كنند .

اين مجامع بين‌المللي كه براي موارد بسيار جزيي‌تر ولي سفارش شده، اشك تمساح مي‌ريزند و براي نقض حقوق بشر سينه چاك مي كنند در برابر فجايعي كه در حق اقليت مسلمان و محروم اين كشور افريقايي صورت مي گيرد سكوت ننگيني را اختيار كرده‌اند .

اين برخورد چندان هم دور از انتظار نيست چرا كه مهاجمان و جنايتكاران، از مسيحيان هستند و بديهي است كه غرب رغبتي ندارد تا فجايع آفريقاي مركزي در مركز توجه قرار گيرد و اتفاقات جاري در آن كشور بزرگنمايي شود . غربي‌ها كه همواره كوشيده‌اند مسلمانان را به خشونت و تروريسم متهم كنند اين بار نيز قطعاً راضي نيستند تا جنايات هم كيشان آنها در مركز توجه قرار گيرد. از اينرو، انتظار اقدامات اساسي از غرب و محافل تحت سيطره آنها، بيهوده و عبث است .

در اين شرايط، وظيفه و رسالت مسلمانان و مجامع و سازمانهاي اسلامي بسيار سنگين است. اكنون اين مجامع در برابر يک آزمون ديگري قرار گرفته‌اند تا چگونگي عملكرد و اداي دين خود را در دفاع از منافع جهان اسلام در مقابل ديد جهانيان قرار دهند .

كشورهاي اسلامي اكنون وظيفه دارند به ياري مسلمانان اين كشور آفريقايي بشتابند كه به مفهوم واقعي كلمه هيچ ملجا و مدافعي ندارند و مظلومانه توسط افراطيون مسيحي وحشي قتل عام مي‌شوند .

كشورهاي مسلمان و مجامع اسلامي اكنون بايد اين وجه از رسالت ديني خود را كه تفاوتي بين مسلمانان آسيايي، اروپايي و يا آفريقايي نيست و همه آنها از يک مرتبه و ارزش برخوردار هستند، به منصه ظهور برسانند و برادران و خواهران خود را ياري رسانند .

قطعاً تعلل و سكوت در مقابل اين وظيفه انساني و شرعي به هيچ وجه قابل توجيه و پذيرفتني نيست و همانگونه كه دبيركل سازمان ملل نيز تاكيد كرده است هر روز تاخير در اقدام عملي جهت حمايت از مسلمانان آفريقاي مركزي به بهاي ريخته شدن خون دهها نفر ديگر و آوارگي شمار بيشتري منجر خواهد شد .



... ارتې تښی هم ګرځې جانانه ! ...

الف لام

زموږ حقپال شاعر '' تراب '' هم بلاکوي دمعقولاتو تصويرپه ډېرو ښو محسوساتو وړاندې کوي، دامريکايي عسکرو جنايت او وحشت ترسره کول اوبياترې بې باکه اوبې پروا اوسپدل يې ډېر ښه انځور کړي اودغې بدماشي ته يې عام فهمه ولسي ټکي کارولي وايي '' .... چې عزت مو ترخړو موزو لاندې کړې... اوبيا ارتې ټنی هم ګرځې جانانه ..''

ماته دغه اصطلاح هغه وخت رايادە شوه چې تېره مياشت ملګرو ملتونو په افغانستان کې دتېر ۲۰۱۳ ز کال دولسي وګړو دوژنې راپور نشر کړ.

شايدتاته هم دغه اصطلاح اوله راپورسره تړاوېې څه بل ډول ښکاره شي، خو ډاډه يم که دپای ترليکې راسره وې په دې تړاو به مو اتفاق سره راشي .

راپور کاږي : په تېر کال کې ټولټال ۸۶۱۵ تنه ولسي وګړي وژل شوي چې ښځې، ماشومان اوسپين ږيري هم پکې شامل دي.

راپور په ډېر قاطعيت ۷۴ سلنه پړه پرطالبانو، ۱۰ سلنه پرحکومتي عسکرو اويوازې ۳ سلنه يې دناټو په ټولو ځواکونو اوهيوادونو وراچولې

دلته به يو وار يوازې په دغه کال کې په ملکي خلکو دناټو ځواکونو له لوري دترسره شويو بمباريو په لنډ ډول هغه راپور راواخلو چې ځينې خپلواکه اداري يې په ښه دقت سره ترلاسه کوي بيادې ګران لوستونکي دملګرو ملتونو دراپور دسلنې دوېش قضاوت په خپله وکړي :

هو ! داهم منو چې دطالبانو په فدايي بريدونو او ماينونو کې هم تريوحده دملکي خلکو وژنې رامنځته شوې، خو په هغه اندازه چې دملګرو ملتونو راپور يې سلنه ښيې، له شک پرته چې دخلکو په سترګو کې خاورې اچول او حقايق ترپښو لاندې کول دي .

دجنوري پر ۱۳مه نېټه دميدان وردګوولايت سيداباد



ولسوالۍ دتنګۍ درې په حسن خیلو سیمه پریوه جومات په هوایي برید کي اتلس تنه هیوادوال شهیدان او اوتردیرشوزیات ټپیان کړل، لومړی پرمسجدبمبارشوی ،خلګ له بمباروروسته له کورونوراوتلي چي شهیدان اوژوبل له خاوروڅخه راوباسي ،په دې وخت کي یوځل بیاپرجومات بمبارشوی اوبیا پلیوبهرنیواوکورنیو عسکرو هغه کسان په نښه کړل چي له کورونوراوتلل .



دفبروري پر۲۰مه د کندزولایت د قلعه زال ولسوالۍ په صافي کوټ کلي کي دبې پیلوټه الوتکي په بمبار کي دوه تنه ولسي وګړي چي په پټي کي په کاربوخت وو،شهیدان شوي دي

دفبروري پر۲۱مه یرغلګرود لغمان ولایت دګل ارام سیمه کي بمبارکړی چي له امله یې لس تنه ولسي وګړوته مرګ ژوبله اوښتې ده .

دفبروري پر۲۵مه دننګرهارولایت دحصارک ولسوالۍ په مربوطاتوکي په بمبارکي څلورتنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي .

دمارچ پر۹مه دننګرهارولایت دسپین غر ولسوالۍ دشډل سیمي په بازاربمبار چې له امله یې یوتن شهیداونولس تنه ملکي هیوادوال ژوبل شول.

دمارچ پر۲۷مه دلوګر ولایت دبرکي برک ولسوالۍ په سجاوند سیمه کي په بمباراومخامخ ډزوترشل (۲۰)تنه ډیرملکي هیوادوال شهیدان کړي رسنۍ دعیني شاهدانوله خولې نقل کوي کله چي خارجي اوداخلي عسکردطالبانوله سخت مقاومت سره مخ شول او ځاني زیان ور واوښت په سیمه کي یې پراخه بمباري پیل کړه ،دعملیاتوڅخه وروسته دځینو کلیوالوجسدونه په کروندوکي په داسي حالت کي موندل شوي چي نسونه ،پوزي اوغوږونه یې څیري شوي وو .

دمارچ پر۲۹مه دبدخشان ولایت د وردوج ولسوالۍ په یخشیره سیمه کي ملکي استوګنځایونه بمبار،او اوه تنه ولسي وګړي پکي شهیدان شوي.

داپریل پر۵مه د کونړولایت د شیګل ولسوالۍ په سلتن درې سیمه کي بمباري اوډزوکي دوه ویشت تنه ولسي هیوادوال دښځو،بوډاګانواوماشومانوپه شمول شهیدان شوي دي.

داپریل پر۱۴مه د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ په بیلابیلوسیموکي بمباري درې تنه ملکي هیوادوال دیومحصل په شمول شهیدان شوي اودرې کوچنیان ژوبل کړل .

دمئ پر۴مه دهلمندولایت دنادعلي ولسوالۍ دشنې جامع پربازاربمبارکي، درې تنه ولسي وګړي شهیدان شوي اولس تنه ژوبل شوي دي .

دمئ پر ۹مه دبمبارله امله دفاریاب ولایت دقیصارولسوالۍ په چیچکتوکلي کي یوماشومام اویوه ښځه شهیده شوې ده .

دمئ پر۲۹مه دبدخشان ولایت دغنیوپه قریه کي ددرنووسلوپه ډزواوبمبارکي یوه ښځه اودوه نارینه

شـهیدان شـوي اواوه تنـه ملکـي هیـوادوال دسـپین ږیروپـه شمول ټپیان شوي دي ،

دمځ پر ۲۹مه دکاپیساولایت په اله ساي ولسوالۍ کي په بمبـار کي پنځـه تنـه ولسـي وګـړي شـهیدان شـوي ،او څوارلس تنه ژوبل شوی دي .



دجون پر ۹مه د بدخشـان ولایـت پـه وردوج ولسـوالۍ په غچان سیمه کي په بمبار کي دوه ماشومان شهیدان .

دجون پر ۱۲مـه دبمبارلـه املـه دمیـدان وردګ ولایـت دسیداباد ولسوالۍ پـه پټان خېلـو کلي کي څلورتنـه ولسي هیوادوال شهیدان اویودښونځي زده کونکی ژوبل کړی .

داګست پر ۲۹مه د پکتیاولایـت د سـید کرم ولسـوالۍ په عثمان خېل سیمه کي دملکي خلګوپر کورونو دبمبـار لـه امله درې تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي .

دسپټمبرپر۱۰مـه دکاپیسـاولایت د نجـراب ولسـوالۍ پـه غـین دره کیداسـتوګني پرسیمه پـه بمبـار کې یوسـپین ږیری شهیداوڅلورتنه نورولسي وګړي ټپیان شوي دي.

دنومبرپـه ۲۰مـه دنورسـتان ولایـت نـه د وانـت وایګـل ولسـوالۍ پـه دیګـل کلـي کـي پـر یـوه جنـازه پـه بمبـار کي شـپږتنه ولسـي وګـړي (عبـدالحی ، سـفر ، نجیـب الله ، نورالرحمن او اسمعیل)شهیدان شوي دي .

دنومبرپه ۲۳مه د ننګرهارولایت د خوګیاڼو ولسـوالۍ دمملي په قیقوم خېل سیمه کي یـو مسجد بمبار کړی او اووه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي.

ددسمبرپـه ۱۰مـه د کاپیسـا ولایـت دالـه ساي ولسوالۍ پـه صادقانو کلـي پـه بمبـار کي اته تنه ملکي هیوادوالوته مرګ ژوبله اوښتې ده دکـور څښـتن '' نقشـبندي '' اودرې تنـې ښځې پکي شهیداني شـوي اوددرو میرمنوپـه ګډون یوماشوم پکي ټپي شوی دی .

ددسمبرپه ۱۵مه نیټه د ننګرهار ولایـت د لالپورې په سیمه کي د کابل سیند په مـنځ کـي بې پیلوټـه الـوتکي پریـوې وړې کشتـۍ برید کړی ، په یاده شوې حمله کي پنځه تنـه ملکـي هیـوادال شـهیدان شـوي اویونـامعلوم شمېرژوبل شوي دي .

ددسمبرپه ۱۵مه د لوګر ولایت د برکي برک ولسـوالۍ پـه احمدشـاه کلاسـیمه خـارجی عسـکرودهاوان مرمـۍ اورولـي ، پـه دغـه هـوایي بریـد کي چـي یـوه مرمـۍ یـې دخلګوداسـتوګني پر ځـای لګېـدلې دوه تنـه ولسـي وګـړي شهیدان شوي اواووه کسه ټپیان شوي دي .

مأخذونه:[بي بي سي راډیو ،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،روهي ویبپاڼه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

سیّاف

مبلغ کفر از آدرس اسلام !

احمد نوید

روزنامه "هشت صبح" مصاحبه ی با یکی از کاندیداتوران ریاست جمهوری خیالی آینده تر تیب داده بود که آن – به اصطلاح – نامزد ، به بیان اظهارات رکیک ، مذموم و ناپسند در مورد اسلام ، جهاد فعلی و فرزندان غیور وطن معروف است ؛ آن شخص رسول سیاف است که خود را نامزد ریاست جمهوری نموده است ؛ کسی که روزگاری نه چندان دور علیه استعمار سخن می زد و عمل می کرد ، کسی که تا یک و نیم دهه پیش ، کفر را ملت واحده می پنداشت و جهاد در مقابل هر تجاوزگری را واجب می شمرد ، کسی که با آیه و حدیث ، دشمنی یهود علیه اسلام و مسلمانان را به تشریح می گرفت و ساعت ها در جایگاه یک شیخ دلسوز ، امت اسلامی را از سیطره و هجمه کفار برحذر می داشت ، کسی که برای بسیاری استاد پنداشته می شد و از عقل و درایت وی ، راه گمشده شان را جستجو می نمودند ؛ امروز اما همان شخص ، (قسمیکه در تصویر فوق مشاهده می فرمایید) بجای نشَستن در مکتبه یا مسجد در اطاقی نشسته ، که در جوارش نه قرآن شریف و نه بخاری شریف و یا دیگر کتب فقه و حدیث ، که تلویزیون نهاده شده است ، او بر خلاف دوران جهاد سابق که ریاکارانه بر زمین خشک یا فرشِ حصیر می نشست تا بیشتر جلب توجه نموده و در نگاهِ خلق ، زاهدی بی غل و غش جلوه نماید ؛ امروز اما ، متکبرانه بر مُبلمان حرص شهرت طلبی نشسته است و در سر هوای چوکی پادشاهی می پروراند ؛ براستی که انسانهای بَدَل چه زود تغییر و تبدیل می یابند !!!

آری ! سیاف دیگر علیه استعمار نه بلکه علیه اسلام سخن می زند و عمل می کند ؛ او دیگر به جهاد عقیده مند نیست بلکه بر کسانی که بر ضد دشمنان دین خدامی جنگند و مبارزه می کنند به چشم دشمن می نگرد ؛ او دیگر شیخ دلسوز نیست و اگر هم هست دلش به حال هموطنان مظلومش که وحشیانه توسط قوّت های استکباری جهان بمباردمان می شوند ، نمی سوزد بلکه دلش به حال صلیبی های می سوزد که چگونه در رسیدن به اهداف شوم و درازمدت شان در افغانستان ناکام مانده اند و شاهد چه روزهای ذلّت باری هستند ؛ او دیگر برای رهپویان راه حق ، الگو و سرمشق نبوده و نیست و استاد خطاب نمی شود ؛ چون سخنانی که او از آدرس اسلام در جهت منافع غرب و کفر تبلیغ می کند ، شیطان را هم شرمنده کرده و متعجب می سازد ؛ او در معامله ی که با کفر انجام داد همه چیزش را از دست داد ؛ عزتش ، آبرویش ، اعتبارش ، شخصیتش ، تاثیرگذاری و نفوذش و ... همه را مفت و مجانی در مقابل دنیای اندک و فانی سوداء کرد ! ...

محتـوای مصـاحبه سیـاف در روزنامـه هشـت صـبح ، چیزی جز کلمات تکراری همیشگی اش نبود؛ که در این مجال کوتاه ، به شکل جسته و گریخته ، قسمت هایی از این مصاحبه را ذکر نموده و به نقد و تحلیل می گیریم : او در این مصاحبه بازهم از ادبیات خصمانه و کینه توزانه کار گرفته و بـه نـوعی در تلاشی ناکـام ، سعی ورزیـد تـا افکـار عامـه را نسبت بـه جهـاد مقـدس فعلی و مجاهـدین غیوّر تشویه و تخریب نماید ؛ او که در دخلش چیزی جز چاپلوسـی کفـر و اهـداف نیمـه تمـام و فرسـوده غـرب تجاوز گر باقی نمانده باوقاحت تمام ، تامی توانست علیه اسلام به تحریف پرداخت و در بخشی از مصاحبه ، جهاد فعلی مجاهدین را برداشت نادرست از اسلام تعبیر کرد ؛ در حالیکه بر خلاف شرع و موازین قدسی ، این سیاف است که تمام حرف و عملش در چوکات شریعت منطبق نیست و مثل یک اجیر حلقه به گوش ، به مبارزه و جنگ علیه اسلام عملا اقدام می نماید ؛ او در جایی از مصاحبه به اشغال و تجاوز امریکا و غرب رنگ مشروعیت داده و به فیصله نام نهاد ملل متحد اشاره کرده است ؛ در حالیکه به حکـم صـریح قـرآن و نصـوص فقهـی ، جهـاد در مقابـل متجاوزین یک فریضه خوانده شده و هیچ فیصله ی نمی تواند در مقابل فیصله حق در کلام جاویدانش، تبارز کند ؛ سیاف چرا عمدا غفلت می ورزد و چشمانش را بر صدها آیـه جهاد و شهادت می بندد و تعمدا با اسلام و مسلمین عناد می ورزد ؛ آیا واقعا تا این حد فیصله سازمان ملل در مـورد افغانسـتان مهـم و حیـاتی بـوده کـه – العیـاذ بـالله – احکـام روشـن الهی پیرامـون مسایل قتـال و مبـارزه علیـه کفار نادیده گرفته شود ؟؟؟

سیـاف در بخشـی از مصـاحبه گفتـه ، در صـورتی کـه پیروز انتخابات شود بطور حتم به اعمال قانون می پردازد ؛ جای پرسش اینجاست که کدام قانون ؟ قانون قـرآن ! یـا قانون غرب ؟ قانون قرآن که ظاهرا دیگر انتظار نمی رود فردی مثل سیاف دنبال نفاذ شریعت و قـانون خـدا باشد و بالفرض اگر باشد غرب و بادارانش نمی گذارند ؛ و اگر منظور وی قانون غرب باشد که ظاهرا نیز چنین است باید بدانـد کـه وقتـی اربابـانش بـا تمـام زور و جبـری کـه بکاربستند نتوانستند بر سر این سرزمین و مردمش به شکل دلخواه شان ، قانون کفری را تحمیل نمایند بدون شک سیاف و امثالش نیز نخواهند توانست بر خلاف قانون قرآن ، دیگر قانونی را در این سرزمین پیاده کنند ؛ و اگر قـانون قـرآن پیـاده شـد نخستین افـرادی کـه بـه حکـم آن قانونِ مقدس، محاکمه و بـه پنجه عـدالت سپرده خواهند شد سیاف و امثالش می باشند کـه بـا گفتـار و کردارشان بزرگتـرین خیانـت هـا و جنایـت هـا را در حـق اسـلام و مسلمین مرتکب شدند !؟!

سـیـاف ، در بخشـی دیگـر از اظهـاراتش در ایـن مصاحبه ، وابستگی افغانستان به جامعه جهانی را یک ضـرورت خوانـده و بـه دنیـا حیثیـت فامیـل داده اسـت (!!!) مطلقـا منظـور سیاف از دنیـا جامعـه کفـری مـی باشـد و منظـورش از ضـرورت نیـز ، ادامـهء راه غلامـی و بردگـی اسـت کـه وی در جهـت تـداوم ایـن راه شـوم و نـامیمون بـا کمـال میـل کمـر بسـته اسـت ؛ نکتـه جالـب اینجاست که جامعه کفری برای سیاف حیثیت فامیـل دارد از همین جهت مناسب است از سیاف پرسید که شما در این فامیل چه کاره هستید نکند که ... !؟!

او در خـتم مصـاحبه، بطـور تلـویحی بـه عشـق و علاقـه وافرش به شهرت و جاه طلبی اشاره نموده و با شوق زدگی تمام گفته : "من پیش از اینکه به ثبت‌نام بروم، این فکر را کرده بودم که خود نامزد شوم مناسب‌تر است تا اینکه از کدام نامزد دیگر حمایت کنم. در آن هنگام فکر ما این شد که خود باید وارد میدان شوم و من این فیصله را در همـان وقـت کـردم" در حالیکـه در مصـادیق شـرعی بـه وضاحت از مقام طلبی منع شده است !...

د ژبې ازار ...

دبشیر ژباړه

په حدیث شریف کې دوه لفظه راغلي دي، یو "من لسانه" بل "ویده" یعنې ستا له ژبې اولاس دواړو څخه به مسلمان په امن او خوندي وي، بل سړی څنګ له ژبې خوندي کیدای شي؟ له ژبې نه داسې کلمې نه ویستل چې د اوریدونکي زړه ته صدمه او ازار رسوي، یا دهغه دزړه بدوالي سبب کېږي.

که بلفرض دکوم مسلمان په کومه خبره تنقید کول ته اړتیا وه، بیا هم پکار ده چې داسې الفاظ ونه کارول شي، چې دهغو په لوستو یا اوریدو دهغه سړي زړه ازارېږي!

مثلاً: تنقید کول کې داسې تعبیر وکړي.... ستا! فلانۍ خبره مې خوښه نشوه... که ته! په خپله بیا غور وکړي.... داخبره داصلاح وړده... د شریعت سره سمون نه لري... داسې لهجه یا الفاظ راوړل څو دهغه زړه ټپي نکړي، کنځلو ته ورته الفاظ یا ترخه لهجه غوره کول ستا دمخاطب سړي زړه ته ټکان ورکوي ... هغه پرې خفه کېږي ...ځیني بیا ددې څخه یو ګام وړاندې درومي له طعنو ورکولو نه کار اخلي ...دا ټول هغه څه دي چې زړونه ټپي کوي...او دعربې دیو شاعر شعر دی:

جراحات السنان لها التیام
و لا یلتام ماجرح اللسان

یعنې دنیزې زخم جوړیږي، خو دژبې زخم نه،

که یوه تن ته د بل چا خبره خوښه نه وي، صفا او په ښکاره دې ووایي: ستا! فلانۍ خبره ځما خوښه نده، په عظیم الشان قرآن کې ارشاد دی:

اې دایمان خاوندانو! دالله نه وډار شئ خبره نېغه کوئ!

نن سبا عموما جمله بازې یا فقره بازې یو فن ګرځیدلې، یعنې داسې خبرې له خولې ویستل دود شوي چې په اوریدو یې مخاطب سړی خامخا خجله او حیران پاته شي، په اشاره او کنایه لفظونو دنورو دزړونو ازارولو ته دهنر او فن په ستر ګه کتل کېږي، دداسې خلکو تعریفونه کېږي شابسې ورکوي.

په ژبه چیچل:

ځما درانه پلار مولانا محمد شفیع رحمه الله به ویلې: دځینو کسانو ژبه کې دزهرو غوندې اثر وي او پرې چیچل کوي، په طعن او طنزیه لهجه غړېږي او نیوکې کوي، حال دا چې دغږېدا دغه انداز ښه ندی، هغه کېسه کوله: یوه ورځ یو سړی د یوه خپل کره لاړ، هلته د کور به انګور ډېره غوسه وه او خپلې خوانبې ته په بدو ردو ویلو سروه، له خوانبې وپوښتل: ستا انګور ولې په غوسه ده؟ هغې ویل: چا ورته څه نه دي ویلي، یوازې ما ورته دوه خبرې وکړې، په هغو غوسه ده او لکه دډمې لګیاده ګډیږي... هغه وپوښتل: ستا په کومو دوه خبرو؟ وې ویل: بس دومره مې ورته وویل: ستا پلار غلام دی او موردې وینزه ده!! له دې وروسته ده لګیاده غاپې ...

اوس ګوره! دوه خبرې دي، خو داسې دوه خبرې چې دانسان دتن دننه اور اچوي! له دې وجې طعنې ورکول کورونه ورانوي، په زړونو کې کرکې او نفرتونه زیږوي.

لومړی سوچ بیا خبرې:

په ژبه دخبرې راوړو څخه وړاندې سوچ ته اړتیاده، کومه خبره چې زه غواړم هغه دخولې نه وباسم، تتیجه به یې څه وي؟ په هغه سړي به څه ډول اغیز ولري؟ او داسوچ پکار دی چې زه کومه خبره دفلاني سړي په باره کې کوم، که هغه دا خبره ځما په

حق کې وکړه، په ما به یې تاثیر څه ډول وي؟ ښه به وي که بد؟ رسول الله (ﷺ) مونږ ته په دې اړه تعلیم په لاندې ډول راکړی:

احبَ للناس ما تُحبُ لنَفسکَ یعنې د نورو لپاره هم هغه خوښوه کوم چې د ځان لپاره خوښوي.

خو مونږ جلا، جلا پیمانې لرو، د ځان لپاره یوه او د بل لپاره بله، رسول الله (ﷺ) د دې توپیر پای اعلان کړ، که زمونږ په زړونو کې دا ترازو پیدا شوه په دې سره به ټولې جګړې پای ومومي.

ژبه لوی نعمت ده:

ژبه د الله (جل جلاله) خورا لوی نعمت ده، چې الله مونږ ته راکړې، د پیدایښت نه تر مرګه دا ماشین خپله روان وي، خدای مکړه که دا نعمت له چا واخستل شي، یا د فالج په وجه ژبه بنده شي، هغه وخت ایله د ژبې قدر معلومیږي، چې خبرې کول او د ژبې خوځښت څومره لوی نعمت دی؟ او مونږ له سهاره ترماښامه دقینچې پشان چلوو خو سوچ مو ونکړ، چې ځما له ژبې نه کوم الفاظ وځي، دا سم نه دي، ښه داده چې هر سړی لومړی تول بیا خبرې، که مونږ په دې عمل وکړو ان شاء الله جنت ته د تلو اسباب به ومومو!

په سوچ دخبرو عادت:

په یوه حدیث کې رسول الله (ﷺ) فرمایلي: جهنم ته دیپولو لوی سبب ژبه ده.

که ژبه دخیر لپاره په کار واچول شوه، نو جنت ته د تلو لار ده او که د شر او ناروا وو ترې کار واخستل شو نود جنهم لاره ده، نو اړتیا ده چې مونږ په سوچ او تفکر سره له ژبې کار واخلو لومړی سوچ وکړو بیا خبره په ژبه راوړو.

په دې سره دا سوال پیدا کیږي، چې د دې مطلب خو دادی چې سړی د هرې خبرې لپاره اول سوچ کوي بیا د هغه وروسته دې خبره یا جمله په ژبه راوړي، په دې خو زیات وخت ضایع کیږي؟ اصلي خبره داده که یو سړی ځان داسې روږدی کړ چې د خبرو پر مهال له سوچ کار اخلي، کرار کرار به یې عادت شي، بیا هغه د سوچ په کولو کې دځنډ سره نه مخ کیږي، هغه په یوه لمحه کې هم پریکړه کولی شي، چې دا وو ایم کنه؟ بیا د دې لپاره الله (جل جلاله) دانسان په ژبه کې داسې ترازو ایښې چې په هغه د ښو او بدو تمیز خپله کیږي، د هغه له ژبې نه یوائې د حق خبرې وزي، د ناسمو خبرو وتل ناشونی وي، دا کار د الله (جل جلاله) د رضا سبب ګرځي، او هم نورو ته د تکلیف رسولو سبب به نه وي، په دې شرط چې دا احساس پیدا شي چې د الهې ماشین په ځای او خپلو ادابو سره یوځای چلول پکار دي.

کافر ته په ژبه تکلیف رسول:

رسول الله (ﷺ) په دې حدیث کې فرمایلي: مسلمان هغه دی چې د هغه د لاس او ژبې نه بل مسلمان خوندې پاته وي، له دې څخه ځینې خلک دا فهموي چې دلته یوائې مسلمان د تکلیف نه رسولو حکم شوی، کافرانو ته پکې د تکلیف نه رسولو حکم نشته، خو دا انګیرل سم ندي، دلته د مسلمان ذکر په دې وجه شوی چې مسلمان په کوم ماحول کې ژوند کوي هلته عموماً هغه د مسلمانانو سره مخ کیږي، له دې وجې په خاصه توګه د مسلمان یادونه شوې، کنه دا حکم چې د مسلمان او نامسلمان دواړو په اړه دی، چې د هیڅ مسلمان لپاره دامن په حالت کې نامسلمان ته تکلیف رسول جواز نه لري، البته که د کافرانو سره د جنګ حالت و، او جهاد روان و، بیا د کافرانو د شان او شوکت ماتولو په نیت هغوئ ته تکلیف رسول جواز لري، خو له کومو کافرانو سره چې د جنګ حالت نه وي، هغوئ ته تکلیف رسول د دې حکم لاندې راځي.

وعده ماتول...

ځینې کارونه داسې وي چې ډېرو ته هغه تکلیف رسول نه بریښي حال دا چې هغه په ژبه د تکلیف رسولو په حکم کې راځي، مثلاً: دوعدې ماتول او ترې سرغړونه هغه عمل دی چې په دې سره بل ته اذیت او تکلیف رسي، که یو تن د بل سره دا وعده وکړه زه ستا فلانی کار په فلانې وخت کوم، لیکن په هغه وخت ونه کړ، په دې سره یې هغه سړي ته تکلیف ورساوه، نو دوعدې ماتول او ترې وروسته کیدل هم بل سړي ته د اذیت او تکلیف رسولو پشان ګناه ده، ترې اجتناب ضروري دی.

په تلاوت کونکي سلام:

ځيني وخت انسان داګومان هم نه ورځي چې زه په ژبه باندې تکليف رسوم، بلکې هغه داسي فکر کوي چې زه دثواب کار کوم، ليکن حقيقت کې هغه دګناه کار کوي اودژبې له لارې نورو ته تکليف رسوي، مثلاً: سلام اچول څومره لوی ثواب اوفضيلت لري، خو شريعت دنورو دتکليف ته په خيال لرلو، دسلام اچولو لپاره هم ځايونه او مقررات ټاکلي اوهروخت سلام اچول جوازنه لري، بلکې په ځينو ځايونو کې سلام اچول دثواب په ځای دګناه سبب کيږي، لکه يو سړی په تلاوت لګيادی، په هغه سلام اچول روانه دي، ځکه په سلام اچولو سره دهغه په تلاوت کې ځنډ او خلل راتلای شي، که تا په هغه سلام واچاوه، هغه به تلاوت بندوي، ستا په لور به متوجه کيږي،په دې سره به هغه ته تکليف رسي، هم داشان هغه خلک چې په مسجد کې په ذکر اذکارو لګياوي په هغوئ هم دسلام اچول جايزندی، لې چې هغوئ دالله (ﷻ) په ياد کې مشغول وي، دالله لورته زړونه متوجه کړي وي، ژبه يې په ذکر کولو مشغوله وي، ستا دسلام په کولو سره دهغه پام کې خلل راځي، تا ته دځواب په ويلو تکليف محسوسوي.

په مجلس سلام:

فقهاوو ليکلي: که يو سړی نورو خلکوته اوږدې خبرې کوي اونور دهغو خبرو ته په توجه سره غوږ وو، په دغسي حالت کې هم سلام اچول جواز نه لري، اګر که هغوئ دونياوي خبرې هم کوي، په دې حالت کې سلام اچول روانديٰ، ولې هغه خلک دخبرې اوريدو ته متوجه دي، تا په سلام اچولو سره په هغو کې خلل واچاوه او روان مجلس يې تا بيخونده کړ له دې وجې حکم دادی چې کله تاسي کوم مجلس يا غونډې ته ځي نو هلته که خلک په خبرو لګياوي، هلته ته دسلام پرته کينه، ددې څخه تاسو معلومه کړئ چې شريعت په دې باره کې څومره حساس دی، چې بل تکليف بايد ونه رسي.

په ډوډۍ خوړونکي سلام:

که يو څوک ډوډۍ خوري، دغه مهال هم اګر که سلام اچول حرام نه خو مکروه ضروردی، اوس ګورئ! ډوډۍ خوري، عبادت نه کوي نه په ذکر لګيادی، که ته سلام واچوي په هغه غرنه را نيږي، خو دسلام اچولو په وجه هغوئ انديښمن کيږي، دبده منلو او خفګان انديښنه ده له دې وجې تاته سلام اچول نه دي پکار، هم داشان تليفون که يوتن غواړي له بل چا سره اودې خبرې وکړي، ددې لپاره بايد له هغه نه اجازه وغواړي، که هغه ورسره اومنله، بيا کوم باک نه لري دهغه دجازې پرته اوږدې خبرې هم دژبې له لارې دتکليف رسولو په ازار کې راځي ترې پرهيزپکاردی

په ورته توګه دلاسپيکر استعمال! که په يو جومات کې دمسجد ددننه لاسپيکرونه اوازرسولو لپاره کفايت کوي، دباندې لاسپيکرونه لګول هم خلکو تکليف رسولو حکم لري ولي په دغه مهال کې څوک به کور کې تلاوت کوي... ذکر به کوي... څوک به ناروغ وي... ارام به کوي... تا په ټولو خپل وعظ جبراً مسلط کړ، چې دژبې له لارې ازار او اذيت په معنی دی، ترې ډډه پکارده.

دحضرت عمر (رضي الله عنه) په زمانه کې يو سړی به راته نبوي مسجد کې به يې وعظ کاوه، هغه وخت لاسپيکر نه و، خو دهغه غږ ډېر لو ړو، ترې لري اوريدل کيده او دحضرت عايشه (رضي الله عنها) حجره هم دمسجد سره متصل وه، دهغه واعظ اواز به دهغې په مصروفياتو کې خلل اچاوه، له دې وجې يې حضرت عايشه (رضي الله عنها) حضرت عمر (رضي الله عنه) ته دشکايت خبر واستاوه، حضرت عمر (رضي الله عنه) هغه سړی طلب کړ، او ورته يې وويل: ستا له اوازنه ام المومنين ته تکليف رسي، ته خپل وعظ دلته بند کړه بل ځای يې کوه، هغه څو ورځې بند شو ليکن موده پس يې بيا وعظ شروع کړ، حضرت عمر (رضي الله عنه) دويم ورغوښت او ورته وي ويل: زه تاته په وروستي ځل وايم چې هلته وعظ بند کړه که بيا دې هم سرغړونه وکړه دا لرګی به ستا په سر ماتوم يعنې دومره به دې چې څو دا لرګی مات شوی نه وي.

غروب نظامی آمریکا و اروپا

کشورهای بزرگ اروپایی برای مقابله با مشکلات اقتصادی همچنان به‌صورت مستمر در حال کاهش نظامیان و تجهیزات نظامی خود هستند و تلاش می‌کنند که هزینه‌های هنگفت سال‌های قبل تکرار نشود. آمریکا هم برای مقابله با مشکلات اقتصادی برنامه سختی برای کاهش بودجه نظامی خود دارد. براساس برنامه تعیین شده تا سال ۲۰۱۹ تعداد نیروهای نظامی این کشور ۱۰۰ هزار نفر کاهش پیدا خواهد کرد. ارتش آمریکا در حال حاضر ۵۲۸ هزار سرباز دارد اما تا سال ۲۰۱۹ این رقم باید به ۴۲۰ هزار نفر برسد. این کاهش تعداد نیروهای نظامی فقط بخشی از کاهش ۵۰۰ میلیارد دلاری بودجه نظامی آمریکا خواهد بود.

روزنامه یواس‌ای تودی گزارش داده که جنرال ریموند اودیرنو، رئیس ستاد کل ارتش آمریکا به تازگی در جلسه‌ای محرمانه هشدار داده که با این کاهش نیرو، نیروهای نظامی آمریکا برای شرکت در جنگی احتمالی و دفاع از این کشور کافی نخواهند بود و این کشور با ریسکی بزرگ روبه‌رو می‌شود. یونان، اسپانیا، ایتالیا، ایرلند، بلژیک، انگلیس، هلند و فرانسه ازجمله کشورهای اروپایی هستند که طی سال‌های گذشته بودجه و نفرات نظامی خود را بین ۱۱ تا ۲۶ درصد کاهش داده‌اند.

انگلیستان به‌عنوان متحدی که همیشه در کارزارهای نظامی همراه آمریکا بوده قرار است تا سال ۲۰۲۰، ۲۰ هزار نیروی نظامی خود را کم کند تا مخارج دولت این کشور کاهش پیدا کند. رابرت گیتس، وزیر دفاع سابق آمریکا به تازگی در گفت‌وگویی با بی‌بی‌سی هشدار داد که این کاهش بودجه شدید از سوی انگلیس ممکن است توان نظامی این کشور را به حدی کاهش دهد که دیگر نتواند نقش متحد را در عملیات نظامی برای آمریکا ایفا کند. گیتس ضمن آنکه از کاهش بودجه نظامی کشورش انتقاد کرد تأکید داشت که برنامه انگلیسی‌ها آن‌قدر برای کاهش بودجه شدید است که برای نخستین بار از جنگ جهانی اول این کشور هیچ ناو هواپیمابر در حال ماموریتی در اختیار نخواهد داشت. تا سال ۲۰۲۰شمار اعضای ارتش انگلیس ۲۰هزار نفر کاهش می‌یابد و ارتش این کشور، ارتشی کوچک و ۸۲هزار نفری خواهد بود.

براساس گزارش بودجه دفاعی کشورهای جهان که توسط نشریه نظامی جینز منتشر شده خرید تسلیحاتی کشورهای خاورمیانه هم افزایش داشته و همچنان بیشتر هم می‌شود. به‌عنوان نمونه بودجه نظامی عربستان در طول ۱۰ سال گذشته ۳ برابر شده است.

هروه مورین، وزیر دفاع وقت فرانسه ۲ سال قبل اعلام کرده بود که ادامه این روند باعث خواهد شد در ۵۰سال آینده کشورهای اروپایی دیگر نتوانند با رشد قدرت‌های نوظهور نقشی در صحنه بین‌المللی داشته باشند و باید تحت حمایت کشورهای دیگر قرار بگیرند؛ مسئله‌ای که حالا به خوبی در میان آمار و ارقام مشاهده می‌شود. پیش‌بینی‌ها نشان می‌دهد که هزینه‌های دفاعی چین تا سال ۲۰۱۵از آلمان، انگلیس و فرانسه بیشتر خواهد شد. یکی از دلایل فروش تسلیحات شرکت‌های روسی هم برنامه گسترده توان نظامی این کشور تا سال ۲۰۲۰ با بودجه بیشتر از۷۰۰ میلیارد دلار است. برای شرکت‌های روسی که افزایش فروش را در همین دوره تجربه کرده‌اند مهم‌ترین خریداران چین و ونزوئلا بوده‌اند.

نگارش(ع هـ)

دبیروت قصاب او عبرتناک انجام یې

حسن مومند

د ۸ کلونو راهیسې دکوما په حالت کې پروت یاني په زنکدن کې اخته داسرائیلو پخواني لومړی وزیر ایریل شارون چې دبیروت دقصاب په نوم یې شهرت درلود په دروان کال ۱۰۱۴م دجنورۍ په ۱۱ نېټه ومړ.

په ۲۰۰۶ کال کې پرهغه یو داسې نامعلوم مرض ناڅاپي حمله وکړه چې هغه یې دکوما حالت یازنکدن ته یوړو بیا دهغه دعلاج لپاره دلویو ډاکټرانو ګومارل شوې ډلې ددې حالت نه دهغه دراویستلو لپاره په تېرو ۸ کلونو کې ډېرې زیاتې هڅې وکړې خو نه دهغه حالت ښه شو او نه هم ډاکټران دهغه په اصل مرض پوه شول، بس ډاکټران یوازې پدې پوه شول چې دهغه په دماغو ګوزڼ حمله کړېده چې ددې لپاره ډاکټرانو څو ځلې جراحي عملیات وکړل یوځل خو ددماغو نه دوینې دجریان یا د Blood Vessels دودرولو په موخه ډاکټرانو دهغه ۷ ساعته اوږده جراحي عملیات هم وکړل خو هیڅ ګټه یې ونکړه.

ایریل شارون چې په ۱۹۲۸ کال کې په تل ابیب کې زېږېدلی و پلار یې صموئیل شایزمین او مور یې ډاوورا نومېده، صموئیل دشرقي اروپا پولینډ نومې هېواد په یوې داسې غریبې کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې وې چې په خپل عمر یې چرته په مړه خېټه ډوډۍ نه وه خوړلې ،زیاتره به ترورځو ورځو وږی ګرځېدلو ؛صموئیل په خپل ژوند کې ډېر تنګ و خو هیڅ چاره نه ورتله؛ یوه ورځ یې دخپلې پلرنۍ یهودي قبیلې ,,اشکنزای،،دیو ربی (دیهودو مذهبي مشر)سره لیدل وشول او چې دخپل فقر شکایت یې ورته وکړ نو هغه ورته دفلسطین خاورې (چې یهودان یې ارض موعود بولي) ته دتللو مشوره ورکړه صموئیل دخپل مذهبي مشر خبره ومنله او نېغ تل ابیب ته نېږدې په ,,کفار ملال،،نومې سیمې کې مېشت او هورې یې دزراعت یا کر کیلې په کارونو کې مصروف شو؛ دلته دصموئیل دیوې روسي نژادې ډاوورا نومې یهودۍ مېرمنې سره دوستي جوړه شوه چې بالآخره دا دوستي ددواړو ترمنځ په واده بدله شوه اودواده نه پس دواړو په شریکه دفلسطینیانو په ځمکو کې دهقاني ونیوله؛ په ۱۹۲۶ کې ددې دواړو یوه لور پیدا شوه چې یهودیت نوم یې پرې کېښود او ورپسې ۲ کاله پس یې د ۱۹۲۸ کال دجنورۍ په ۲۶مې نېټې زوی وشو چې ایریل شارون نوم یې پرې کېښودلو.

دعثماني خلافت دسقوط نه پس فلسطین دبرتانوي امپراتورۍ تراشغال لاندې راغلو چې ورسره سم پرفلسطیني مسلمانانو دظلمونو او دنړۍ دګوټ ګوټ نه دفلسطین خاورې ته راغلو یهودیانو ته دهر ډول دامتیازاتو دورکولو لړۍ پیل شوه؛ برتانوي دولت دفلسطینیانو ټولې ځمکې یهودیانو ته ورکړې چې صموئیل هم پدې لړ کې په سونو جریبه ځمکه غصب کړه؛ دا چې دصموئیل لور یهودیت دخپل یو پولنډي ملګري ډاکټر صموئیل منډل سره په خپل سر په ۱۹۵۱ کې امریکا ته تللې وه نو مور او پلار یې پرې سخت خفه وو، پلار یې هغه عاق ،دخپلو ملکیتونو نه بې برخې او شارون یې دخپلې ټولې ځمکې قانوني مالک وګرځاوه چې دفلسطیني مسلمانانو نه په همدې غصب شوې ځمکې په سونوجریبو کې بیا شارون دخپل ځان لپاره یوه کلا جوړه کړه دا کلا یو ستر ژوبڼ لري چې شارون ورته دنړۍ دهر ګوټ نه مرغان او وحشي ځناور راوړیدي .

شارون لا له کوچنیتوبه دشر خوښونکی او قاتل مزاج ښځښتن و، عمر یې ایله ۱۴ کلونو ته رسېدلو چې په فلسطین کې دمېشتو یهودو په ,,ا کاغانات،، نومي خفیه وسله غورځنګ کې یې غړیتوب اخستی و ؛دا هماغه غورځنګ و چې دغاصب اسرئیلي دولت داعلان نه پس دصهیوني فوځ بنسټ وګرځېد ؛ دې غورځنګ په ۱۹۴۸ کې داسرائیلي دولت دقیام پرمهال په زرونو او اردني فوځیان فلسطینیان شهیدان کړي وو؛ دفلسطین په شمال لد ښار کې په جوماتونو کې په پناه اخستونکو عربو مسلمانانو باندې په مخامخ ډزو کونکو کې هم شارون شامل و چې ده او دده ملګرو په یوې ورځ کې ۴۲۶ فلسطینیان په ډزو شهیدان کړي وو چې دهمدې ځای نه دشارون په لاس دمظلومو فلسطیني مسلمانانو دعامه وژنې لړۍ پیل او تر ۲۰۰۵ پورې یې دوام وکړ .

شارون چې دتل ابیب عبراني پوهنتون دتاریخ او قانون له څانګې فارغ شوی و او بیا یې دحقوقو پوهنځي لوستی و؛ درشتې په لحاظ فوځي نه و خو دا چې ملکي دندې کمې ترسره کړی وې او دعمر

ډېره برخه يې په فوځ کې په خدمت کې تېره کړې وه نو ځکه فوځي ګټل کېدلو او په فوځيانو کې هغه فوځي چې دفلسطيني او نورو ګاونډيو عربو بی ګناه مظلومو مسلمانانو وژلو سره مينه يې په رګ رګ کې ننوتې وه، دهغه خپلو فوځي ملګرو به ويل چې شارون دليونتوب ترحده ددښمن پرضد دجنګ کولو او زور کارولو طرفدار و، داسرائيلو دفوځ پخواني ټول افسران وايې چې دشارون همدې جنون په ۱۹۵٦ کې دسويس جنګ پرمهال په يوځل ۴۰ اسرائيلي فوځيان دهلاکت کندې ته غورځولي وو؛ پدې جنګ کې چې شارون د ۲۰۲ غنډ مشري کوله خپله فوځي ډله يې ډېره وړاندې د ,, متلاپاس،،ترمقامه ورسوله چې عربو فوځونو پرې سخت بمبار وکړ، دشارون په شمول ددې ډلې نور افراد خپل زوړ ځای ته په تېښتې بريالي شول خو دشارون دقوماندې لاندې ۴۰ فوځيانو پدې بمبار کې خپل ژوند له لاسه ورکړ.



دشارون دا جنون که يو ځل دخپلو ۴۰ فوځيانو دهلاکت سبب شوی و نو بی شمېره ځل دزرونو ياسونو بی ګناه فلسطينيانو دقتل سبب وګرځېد؛ لکه چې دمخه مو وويل چې دخپلو ملګرو سره يوځای شارون په ۱۹۴۸ کال کې دفلسطين په شمال کې په جوماتونو کې پناه اخستونکي ۴۲٦ بی ګناه عام فلسطينيان وژلي وو؛ په ۱۹۵۳ کې يې داردن په سرحد،،قبيه،،نومي سيمه کې ۱۸۰ بی ګناه اردنيان په ډزو وژلي وو، د ۱۹٦۷ جنګ کې چې څومره دمصر ولسي وګړي اسرئيلي فوځيانو نيولي وو ټول شارون دسکنجو نه پس په ډېرې بی دردۍ ووژل ؛ دشارون په لمن په زرونو تورو داغونو کې ترټولو جور داغ په لبنان کې دفلسطيني مهاجرينو په صابره او شتيلا کمپونو کې دمهاجرو فلسطينيانو قتل عام دی.

په ۱۹۸۲ کې چې شارون داسرائيلو ددفاع وزير و نو دلبنان دجنګ پرمهال يې خپلو فوځيانو ته حکم کړی و چې دلبنان دعيسوي مليشې سره دې يوځای په يادو دواړو کمپونو کې مسلمانان ووژني، اسرائيلي فوځيانو او په لبنان کې عيسوي مسلحو ډلو په صابره کې ۴٦۰او په شتيلا کې ۳ زره او ۵ سوه نه زيات فلسطيني مهاجرين شهيدان کړل؛ دقتل عام دې سترې پېښې اسرائيل په نړۍ کې دومره بدنام کړل چې له امله يې په اسرائيلو کې دننه هم دشارون پرضد کرکه او مخالفتونه رامنځته شول او دشارون نه د ۱۹۸۳ نه تر ۱۹۸۴ پورې ديو کال لپاره دوزارت ټول واک واخستل شو چې پدې موده هغه بې واکه وزيرو؛ بيا ترې ددفاع وزارت واخستل شو خو سمدستي ورته دسوداګرۍ او صنعت وزارت ورکړل شو چې د ۱۹۸۴ نه تر ۱۹۹۰ پورې دهمدې وزارت وزير و؛ د ۱۹۹۰ نه تر ۱۹۹۲ پورې دکورونو او ښارونو جوړونې وزير و ؛ د۹۰ يمې لسيزې په وروستيو کې په ,,ليکويد،، نومې سياسي ګوند کې شامل او دلومړۍ کرښې له مشرانو څخه يې ګرځېدلی و چې په پارلماني انتخاباتو کې دهمدې ګوند له لورې د ۲۰۰۱ کال په مارچ کې داسرائيلو يولسم لومړی وزير وګرځېد او تر ۲۰۰٦ پورې په همدې منصب پاتې شو.

دا چې په اسرائيلي مشرانو کې شارون يواځينی هغه مشر و چې ترټولو زيات فلسطينيان يې وژلي وو؛ دفلسطينيانو په اړه يې موقف ترټولو سخت و ؛ دفلسطينيانو سره دسولې او داسرائيلو په څنګ کې دازاد فلسطيني دولت د وجود سخت مخالف و؛ دمسجداقصی دشهيدولو او پرځای يې دهيکل سليماني د جوړولو سخت هيله مند او ددې پلان دعملي کېدو سخت طرفدار و نو په اسرئيلو کې ستر اتل او نجات ورکونکی ګڼل کېدلو او دا چې داسرائيلو پولو ته په پراختيا ورکولو او دفلسطيني مسلمانانو په کورونو ورانولو او پکې ديهودي ناقلينو لپاره دکورونو جوړولو کې يې ساری نه درلودلو نو په اسرائيلو کې يې په بلډوزرهم شهرت موندلی و.

الله تعالی دې سفاک انسان ته دخپلو ظلمونو يو څه سزا په دنيوي ژوند کې هم ورکړه؛ شارون چې دمارګليټ نومې مېرمنې سره په ۱۹۵۳ کې واده وکړ په ۱۹۵٦ کې يې ترې ځوئ پيدا شو چې نوم يې ورته ګورشارون کېښود ؛ مارګليټ په ۱۹٦۲ کې دتل ابيب نه مقبوضه بيت

المقدس ته راتله چې په لار کې په یوې ترافیکي پېښه کې مړه شوه، شارون په ۱۹۶۴ کې دمارګلیټ دخور لیالي چې وروسته په لیلی مشهوره شوه سره واده وکړ، په ۱۹۶۷ کې دشارون ځوئ ګورشارون دشارون په ټوپک لوبې کولې؛ شارون خپل ځوئ په کور کې دننه په ټوپک دلوبو کولو نه منع کړ ګور د ګاونډي کور ته ټوپک یوړو چې هورې دخپل ملګري سره په لوبو کې په همدې ټوپک ولږېدلو او ۱۱ کلونو په عمر کې ومړ؛ دشارون مېرمن لیلی چې دوه ځامن عومرشارون او ګیلاد شارون یې زېږولي وو په ۱۹۹۹ کې په سرطان اخته شوه چې دامرض په څو ورځو کې دهغې دمړینې سبب وګرځېد.

خو دشارون ۸ کلنه اوږده مریضتیا او یکې اوږد زنکدن یا دکوما حالت په دنیوي ژوند کې دخدای له لورې شارون ته ستره سزا وه چې په پای کې یې همدا دمرګ سبب او د اسرائیلو دا بلډوزر یې داسې بلډوز کړ چې دهر ظالم لپاره دعبرت درس شو .

داسرائیلو دولت هغه ته دمرګ او مرض نه دنجات ورکولو خپل ټول کوښښونه وکړل، په اسرائیلي رسنیو کې دشارون په اړه په خپرو شوو راپورونو کې راغلي چې دشارون دعلاج لپاره به هر کال د دولتي بودیجې نه ۴۴۰ میلیونه ډالر ځانګړي کېدل خو بیا هم هغه ته نجات ورنکړی شو دهغه زنکدن ډېر اوږد یانې ۸ کلونه ونیول، نه هغه مړ کېدلو او نه هم رغېدلو، دهغه دبدن دننه په ټولو غړو چینجي مسلط وو، دبدن نه به یې ډېر زیات بدبوی تللو خو بیا هم هغه ته مرګ نه راتللو، داسې ښکارېده چې هغه به په خو راډېر زیات تکلیف کې و خو هغه دخپل تکلیف اظهار نه شو کولای.

قدرت خو شارون ته دخپلو کړنو یو څه سزا په دنیا کې ورکړه خو متأسفانه چې دزرونو بې ګناه انسانانو دې قاتل دنړۍ دعدل په یوې محکمې کې هم دخپل کوم جرم سزا ونه لېدله ؛ که کوم مسلمان مشر باندې دیو یهودي یا عیسوي دوژلو جرم ثابت وای نو هغه به تروریست او دنړیوال عدل ټولو محاکمو ته مطلوب وای خو په سونو پېښو کې چې دشارون مجرم کېدل ټولې نړۍ ته ثابت و، داشخاصو او دبشر دحقوقو دکوچنیو ډلو له لورې په کابو ټولو نړیوالو محاکمو کې هغه ته دسزا غوښتنه شوې وه بیا هم هغه نه جنګي مجرم شو، نه ورته دتروریست لقب ورکړل شو او نه هم هغه په نړیوالو محاکمو کې کومې ته دمجرم په صفت حاضر کړای شو؛ دشارون په ژوند کې یواځې یو ځل په ۱۹۸۷ کې دامریکا ټایمز ،،ورځپاڼې په خپل یو راپور کې هغه دلبنان په صابره او شتیلا مهاجر کمپونو کې دزرونو فلسطینیانو دقتل عام اصل مسئول ګڼلی و، شارون ددې راپور په اړه خپل ډېر قهر ښکاره کړ؛ دورځپاڼې پرضد یې دامریکا محاکمو کې دعوی دائره کړه او ورنه یې دده دبدنامه کولو په سر دلوی تاوان غوښتنه وکړه دامریکا ددولت او په امریکا کې بااثره یهودو دفشار له امله د ټایمز ،،اداري دخپلې دې لیکنې په اړه دشارون نه بښنه وغوښته چې ورسره شارون هم دتاوان غوښتلو نه تېر او محاکمو نه یې خپله عریضه بېرته راواخسته.

د۲۰۱۴ دجنورۍ په ۱۱ مې نېټې چې د اسرائیلو دولت دشارون دمړینې اعلان وکړ نو دولت او اسرائیلي رسنیو تمه لرله چې په ټول هېواد کې او دهېواد نه بهر په ټولو یهودو او دیهودو په خوا خوږو کې به لوی ماتم جوړ شي؛ دکورنیو چارو وزیر ،،ایلي یچائی،،ویلي وو چې دشارون دجنازې او تدفین مراسم به دنیلسن منډیلا دتدفین دمراسمو نه هم درانه وي او ډېر خلک به یکې ګډون وکړي نو ځکه به یې خاورو ته سپارل یو اوونۍ وځنډېوو،،

خو چې کله یوه ورځ تېره شوه او دنړۍ یو هېواد هم دشارون په مړینه اسرائیلي دولت ته دغمرازۍ او تسلیت پیغام راونه لېږلو نو اسرائیل سخت پیکه شول او دلازیات خجالت نه دځان ژغورنې لپاره یې یوې اوونۍ ته دتدفین دځنډ پرېکړه لغوه کړه او دشارون دجسد نه یې ژر ځان خلاص کړ. پخپله اسرائیلي رسنیو هم اعتراف وکړ چې دشارون دتدفین په وروستو مراسمو کې ایله ۷ سوو تنانو ګډون کړی و چې دامریکا نه دراغلي یو کوچني وفد پرته یکې بهرني یو میلمه هم ګډون نه وکړی ، تردې چې په اسرائیلو کې دبهرنو هېوادونو سفیران هم دې مراسمو ته نه وو راغلي.

په اروپائي پارلمان کې دشارون په مړینې دیوې دقیقې لپاره دچوپتیا غوښتنه وشوه خو دپارلمان ویاند مارټن چولز دا غوښتنه رد کړه دپارلمان هالنډي غړي چې دا غوښتنه یې کړې وه کله یې چې دخفګان اظهار وکړ نو ټولو یې خوله پدې خبرې بنده کړه چې ته ولې دیو جنګي مجرم طرفدار یې؟

دشارون دتدفین دمراسمو دډېر پیکه والي له امله ،،هارټز ،نومې اسرائیلي اخبار لیکلي و چې دمرګ نه پس دشارون سره انصاف ونه شو؛ شارون چې څومره لوی لیډر و دتدفین مراسم یې هغسې درانده پرځای نه شول، پردي خو پردي وو ؛ نړیوالو خو شا کړه خو خپلو هم خپل اتل ته هغه احترامات وړاندې نکړل دکومو چې هغه حقدار و.

اهل سنت والجماعت یاناجیه فرقه

ځلورمه برخه

مفتي شاهد حقاني

اهل سنت والجماعت څوک او چا ته ویل کیږي ؟!

دا نو هغه پوښتنه ده، چې ځوابول یې هم اسان او هم د ځینو پیچلتیاوو څخه ډک دي ،اسان ځکه دي، چې مخکې مو وویل چې څوک د قرآن او سنت پیروان ،د صحابه وو او سلفو صالحینو پر پله روان او خپل عقاید او اعمال یې د سلفو په منهج جوړ کړي او د اهل اهوا او اباطیلو پر لارو نه ځي ،نو دا اهل سنت والجماعت دي، دا تعریف ډیر وسیع او هر مسلمان پکې داخلیدای شي ،خو سخت ځکه دی ،چې هر څوک نن سبا د اهل سنت والجماعت دعوه کوي ،خو حقیقت کې پکې د اهل سنت والجماعت اوصاف نه تر سترګو کیږي ،نو د داسې مدعیانو سره دعوی چلول هم خورا سخت او هم د سر د ماغزو له خوراک سره مرادف وي ،ډیری خلک په داسې خوشبیني کې پراته دي ،دا بیچاره ګان ځانونه د اهل سنت والجماعت علمبرداران بولي ،خو چې اعمال او کړنې یې چې د شریعت مطهره په قالب کې واچوي سمې پکې نه راځي ،په هر صورت زمونږ د دې پر له پسې لیکنو موخه اصلاحي هدفونه دي ،د کوم جهت ټکول او غندل ندي ،که خدای ﷻ ته منظور وه ،نو که ټول نه وي ،څه ناڅه حق جویان خو به ورته د حقیقت له عینکو وګوري او کومه خبره خو به یې خوښه شي.

دلته د ي څیړنه کې مو هڅه کړې، چې د متقدمینو ،متاخرینو او د عصر حاضر د نامتو مفتیانو د اقوالو په رڼا کې اهل سنت والجماعت وپیژنو او د حقیقت تل ته یې ځانونه ورسوو !

په (البحر الرایق علی کنز الدقایق)کې علامه زین بن نجیم رح داسې لیکي: وسئل أبو بكر القاضي عن الرجل هل يعلم أنه على مذهب أهل السنة والجماعة فقال: إذا رجع علمه إلى كتاب الله وإلى ما قاله السلف الصالح فهو على مذهب السنة والجماعة. (البحر الرایق /ج۸/ص۱۵۸)

د قاضي ابو بکر رح څخه چا دیوه سړي په باب وپوښتل ،چې آیا هغه به په دې پوه شي، (څنګه به پوه شي؟)چې دا د اهل سنت والجماعت په مذهب دی ؟نو ده ورته ځواب کې وویل: چې کله د ده علم د الله ﷻ کتاب ته او هغه چې سلفو صالحینو ویلي رجع وکړي ،نو دا د اهل سنت والجماعت په مذهب باندې دی. د بحر الرایق د دې عبارت څخه معلومه شوه ،چې اهل سنت والجماعت هغه څوک دي، چې د قرآن ،سنت او سلفو صالحینو په پله روان وي ،او هغو چې په کومه مسئله څه قول او عمل کړی وي ،هماغه یې تګلاره وي، نو دا شخص اهل سنت والجماعت دی.

هغه تعریف چې حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله تعالی د(اهل سنت والجماعت)د عقاید و د حاملینو کړی، هغه دی چې د(هدایې) مشهورې شرحې (العنایه)را نقل کړی او په هغې کې حضرت امام ابو حنیفه رح داسې وایې چې:

مَا رُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ مَذْهَبِ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ فَقَالَ: هُوَ أَنْ يُفَضِّلَ الشَّيْخَيْنِ: يَعْنِي أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ عَلَى سَائِرِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُمْ ، وَأَنْ يُحِبَّ الْخَتَنَيْنِ: يَعْنِي عُثْمَانَ وَعَلِيًّا رَضِيَ اللّهُ عَنْهُمَا ، وَأَنْ يَرَى الْمَسْحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ.(العناية شرح الهداية جزء١ص٢٢٢)

ترجمه :دحضرت امام ابوحنيفه رح څخه چا داهل سنت والجماعت په هکله پوښتنه وکړه، چې دا چاته وايي ؟نوده مبارک ورته ځواب ورکړ ،چې دا هغه څوک دي ،چې حضرت شيخين (حضرت ابوبکرصديق ﷺاو حضرت عمر فاروق ﷺ)په نورو صحابه وو غوره ګڼي ،اوهم (ختنين)يعني درسول الله ﷺ دوه زومانو (حضرت عثمان ذا النورين ﷺاو حضرت علي کرم الله وجهه)سره مينه لري ،او دريم دا چې په موزو باندې مسح روا بولي.

دامام صيب دديې تعريف نه داسې معلوميږي ،چې دې وخت کې د روافضو فتنه ښه په شد ومد کې وه، دوئ چې حضرت شيخين نه منل ،هم يې دمسح على الجرموقين څخه انکار کاوه او ځينې بيا داسې خلک هم وه، چې حضرت عثمان ﷺ او حضرت علي ﷺسره يې مينه نه لرله، نو دامام صيب له نظره اهل سنت والجماعت هاغه چاته وويل شول ،چې دا درې واړه صفاته ولري اوبس.

دحنفي مذهب په مشهورکتاب (الطحطاوي على المراقي)کې اهل سنت والجماعت داسې معرفي کوي ،چې د(امام ابوالحسن اشعري رح اود امام ابومنصور الماتريدي رح) پيروان اهل سنت والجماعت ځکه همدوئ دواړو امامانو دمعتزلو او روافضو غونډې دباطلو ډلو ټيلو منطقي او علمي مقابله وکړه او دعلم عقايدد راښه اوپر حقايقو دولاړ علم په څلاکې يې خورا نه هيريدونکې نقش ولوباوه ،لکه دطحطاوي پدې عبارت کې چې راغلي :

والمراد بالعلماء هم أهل السنة والجماعة وهم أتباع أبي الحسن الأشعري وأبي منصور الماتريدي رضي الله عنهما قال صلى الله عليه وسلم (لا تزال طائفة من أمتي ظاهرين على الحق لا يضرهم من خالفهم حتى يأتي أمر الله) وهم على ذلك وهؤلاء هم أهل العلوم الشرعية والإلهية من أهل السنة والجماعة لأن الناس مع وجودهم آمنون من كل محنة وضلالة دينية ....) (حاشية الطحطاوي على المراقي جزء ۴)

ژباړه :اومراد د علماو وڅخه اهل سنت والجماعت دي ،اودا دامام ابوالحسن اشعري رح او امام ابومنصور ماتريدي رح پيروان دي ،حضرت رسول الله ﷺفرمايي چې :زما له امت څخه به يوه ډله هميشه په حق غالبه وي ،څوک چې يې مخالف دي ،کوم ضرربه ورته نشي رسولى،تردې چې دالله ﷺ امر راشي ،اودوئ به په دې باندې وي اودا خلک داهل سنت والجماعت څخه دشرعي او الهي علومو متحملين دي ،ځکه خلک به ددوئ دوجود سربيره بيا هم له هرقسم محنت او ديني ضلالت څخه بچ وي.....

دعلامه طحطاوي رح دڅيړنې نه داسې جوته شوه ،چې ټول هغه څوک چې دامام اشعري رح او امام ماتريدي رح اتباع دي ،او ددوئ په هغو عقيدوي مسايلو چې دباطلو ډلو په وړاندې يې ظاهرې کړې ، ټول اهل سنت والجماعت دي ،دده له تعريف سره ګرد باطل فرق ترې ووتل ،او اهل حق ډلې پکې شاملې شوې ،روافض ،معتزله ،جهميه ،خوارج ،مجسمه ،قدريه ،مشبه،اونورې ټولې هغه فرقې ترې ووتلې، چې ځانونه د اسلامي دين برخه بولي، خو دوئ دالله ﷺ دکتاب او سنت الرسول درسته پيروي نه کوي ،يا تاويلات پکې کوي ،يا اهل ظواهر دي ،يا نور معنوي تحريفات پکې کوي ،دا ډلې ټپلې که څه هم ځانونه ددې (ناجيه فرقې) برخه بولې، خوهغه عقايد چې دعلم کلام دې دوو امامانو خلکوته تشريح کړي ،دوئ له هغې سره چندان اړخ نه لګوي ،اونه پدې خپل عقايد برابروي ،نوځکه دوئ ته اهل اهوا وويل شول او اهل حق ورته ونه ويل شول.

نامتو محقق او مشهورمفتي علامه ابن عابدين شامي رح هم په خپلا مشهوره حاشيه (ردالمحتار على الدالمختار) کې چې نن سبا يې په اسلامي ټولنو کې ديوې معتمدې

فتاوى منزلت او مقام خپل كړى، دعلامه طحطاوي رح غوندي اهل سنت والجماعت (اشاعره او ماتريده) بولي، او پدوئ كې انحصار غوره بولي لكه چې(فتاوى شاميه)كې ليكي:

قوله: (عن معتقدنا) إي عما نعتقده من غير المسائل الفرعية مما يجب اعتقاده على كل مكلف بلا تقليد لاحد ، وهوما عليه أهل السنة والجماعة وهم الاشاعرة والماتريدية، وهم متوافقون إلا في مسائل يسيره أرجعها بعضهم إلى الخلاف اللفظي كما بين في محله. حاشية رد المحتار الجزء١ص٥٣

ترجمه:........هغه چې اعتقاد يې په هر مكلف انسان واجب دى او دې كې تقليد ته كومه اړتيا نشته، هغه هاغه ده ،چې د اهل سنت والجماعت پرې ګروهمن دي ،چې هغه (اشاعره او ماتريديه) دي ،او دعلم كلام دا دواړه امامان سره متفق دي ،خو صرف څو مسايل دي، چې پرې سره اختلاف نظر لري ،خو هغې ته هم ځينې علماء خلاف لفظي وايي.

ددې څخه بريښي ،چې د امام ابوحنيفه رح له عصر وروسته چې باطلې فرقې ډيرې شوي وي ،نو د مسلمانو اتفاق پدې وشو ،چې اهل سنت والجماعت اشاعره او ماتريديه دي ، او همدا نظر د حنفي مذهب دى، دوه فوق الذكر كتابونو هم تصديق او تاييد كړل ،چې تقريبا مجموع كې د څلورګونو مذاهبو پيروان د علم كلام دې دوو امامانو كې ديوه عقايد مني او همدا اهل سنت والجماعت بلل كيږي.

په(الحاوي) كې چې (بحر الرايق) ترې نقل كړى ،هغه څوک اهل سنت والجماعت بلل شوي ،چې دا لاندينى لس صفات پكې موجود وي:

وَفِي الحَاوِي مِنْ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالجَمَاعَةِ مَنْ فِيهِ عَشَرَةُ أَشْيَاءَ:
الأَوَّلُ أَنْ لَا يَقُولَ شَيْئًا فِي اللَّهِ تَعَالَى لَا يَلِيقُ بِصِفَاته.
وَالثَّانِي: يُقِرُّ بِأَنَّ الْقُرْآنَ كَلَامُ اللَّهِ تَعَالَى وَلَيْسَ بِمَخْلُوقٍ.
الثَّالِثُ: يَرَى الجُمُعَةَ وَالعِيدَيْنِ خَلْفَ كُلِّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ.
وَالرَّابِعُ: يَرَى الْقَدَرَ خَيْرَهُ وَشَرَّهُ مِنْ اللهِ تَعَالَى.
وَالخَامِسُ: يَرَى المَسْحَ عَلَى الخُفَّيْنِ جَائِزًا.
وَالسَّادِسُ: لَا يَخْرُجُ عَلَى الأَمِيرِ بِالسَّيْفِ.
وَالسَّابِعُ: يُفَضِّلُ أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ وَعَلِيًّا عَلَى سَائِرِ الصَّحَابَةِ.
وَالثَّامِنُ: لَا يُكَفِّرُ أَحَدًا مِنْ أَهْلِ الْقِبْلَةِ بِذَنْبٍ.
وَالتَّاسِعُ: يُصَلِّي عَلَى مَنْ مَاتَ مِنْ أَهْلِ الْقِبْلَةِ.
وَالعَاشِرُ: يَرَى الجَمَاعَةَ رَحْمَةً وَالفُرْقَةَ عَذَابًا .(البحر الرايق /ج٢٢/ص٨٣

ژباړه :اهل سنت والجماعت هغه څوک دي ،چې دا لس صفات پكې موجود وي:١- د الله تعالى په هكله هغه څه نه وايي چې دصفاتو سره يې مناسب نه وي ،٢-پدې اقرار كوي چې قران كريم د الله ﷻ كلام او غير مخلوق دى ،-٣عقيده يې داوي، چې د اخترونو او جمعې لمونځ هر نيک او بد مسلمان پسې كيداى شي ،-٤عقيده لري، چې هر خير او شر د الله ﷻ له لوري دى ،-٥په موزو دمسح جوازمني ،-٦د مسلمان پاچا پر خلاف وسله وال بغاوت نه كوي ،-٧څلورواړه خلفاء دنورو صحابه نه غوره بولې ،-٨په ګناه سره اهل قبله ووته كافر نه وايي ،-٩څوک چې د اهل قبله وو نه وفات شي ،نو دجنازې لمونځ پرې كوي ،-١٠د مسلمانانو جماعت يا ټولی رحمت بولې او ددې جماعت نه بيليدل عذاب بولي.

كه په عميق نظر دې مصداقاتو ته وكتل شي، نو له ورايه به وبريښي، چې اهل سنت والجماعت دحق پرستو خلكو ډله ده او نظريات يې پر اعتدال باندې ولاړ دي ،دا فوق الذكر صفات ،رښتيا هم دسلفو دعقايدو سره اړخ لګوي ،كه د اسلافو معتقدات تر مطالعه لاندې ونيول شي، نو همدا پورتني صفات لري او همدوئ دا ډول مواصفات لرل ،خو دعلامه طحطاوي رح او علامه شامي رح دا اطلاق چې اهل سنت والجماعت د امام اشعري رح او امام ماتريدي رح پيروان دي، ډير جامع او مانع اطلاق دى ،دې اطلاق كې باطلې فرقې جلا او حقه فرقه همدا يوه پاتې شوه ،كه بيا لږ نور هم ورته ځيرشو او ددې (اهل سنت والجماعت)د روانې څيړنيزې لړۍ مخكينې مباحث په پام كې ونيسو، نو راته به

جوته شي ،چې دعلم كلام ددې نومړيو امامانو پيروان دڅلورګونو مذاهبو پيروان دي ،يعنې اشاعره او ماتريديه چې ورته اهل سنت والجماعت ويل كيږي ،همدا په حقيقت كې دمذاهبو اربعه وو پيروان او اتباع دي ،ځكه ددې خلكو په عقايدوكې امامان ،امام ابوالحسن اشعري رح او امام ابومنصورماتريدي رح دي اوپه فرعاتوكې يې امامان حضرت امام ابوحنيفه رح ،حضرت امام شافعي رح ،حضرت امام مالك رح او حضرت امام احمد بن حنبل رح غوندې دعلم ،نبوغ او تقوى ځلي دي ،خودانصاف تقاضا داده ،چې داهل سنت والجماعت دمصداق دايره تنګه ونه ساتو اوهغه تعميم پكې ومنو ،چې زمونږسلفو صالينو منلى ،چې هغه ښوک چې پخپله پكې داجتهاد استعداداو صلاحيتونه وي او تقليد ته اړتيا نلري ،كه څه هم په اربعه مذاهبو كې نه راځي، خو چې پخپله له نصوصو استنباط كولاى شي ،ددې باطلو فرقو په عقايدو سم پوهيږي اومقابله يې كولاى شي ،دا هم اهل سنت والجماعت دي ،يعنې دومره علمي قوت ولري ،چې دشريعت هر حكم ورته ښكاره وي، نو ولي به ددې نه ستركي پټې كړو او اهل سنت والى به يې نه منو !يا لكه دمشكاة شريف په (كتاب الاعتصام) كې چې ددې محشي اونامتوحنفي عالم حضرت مولينا غرغشتو رح وايې :چې اهل سنت والجماعت هغه ښوك دي، چې (سب سلف)نه كوي ،يعنې دا ناجيه فرقه هغه چاته ويل كيږي ،چې دسلفو سنت سنت بولي ،بدعت ورته نه وايي اوبد رد پسې نه وايې ،نودې ډول تعريف سره بيا څه تعميم پيدا كوي ،كه دا ښوك ومني چې دخلفاى راشدينواعمال هم سنت دي اوكوم حرج پكې نشته، نو چې هرڅوك وي به خو اهل سنت والجماعت به ورته ويل كيږي !

لكه ددې روايت داستناد له مخې چې (عن عرباض بن سارية ، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين من بعدي وعضوا عليها بالنواجذ » (مشكل الاثار للطحاوى).


ملاعلي قاري رحمه الله تعالى دمشكاة په شرح مرقات كې ليكي: چې دې حديث كې ددې استلزام نشته چې دخلفاى راشدينو سنت دې هماغه وي ،چې دحضرت رسول اكرم ﷺسنت وي ،بلكې دا به جلا سنت وي او دې ته به دخلفاى راشدينو سنت ويل كيږي ، لكه دالمرقات پدې عبارت كې چې دشلو ركعتو تراويحوپه باب صراحت كوي او وايې ((وكونها عشرين سنة الخلفاء الراشدين وقوله عليه الصلاة والسلام عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين ندب إلى سنتهم ولا يستلزم كون ذلك سنته إذ سنته بمواظبته بنفسه أو إلا لعذر(٠مرقاة المصابيح شرح مشكاة المصابيح /ج۴/ص۴۳۹))).

همداسې په سنن ابي داود /ج۲/ص ۲۷۹ ،جامع ترمذى /ص ۳۸۲ ،ابن ماجه /ص۵ ،دارمي /ج ۲/ص۲ ،مسند امام احمد /ج۴/ص۲۷ ،دخلفاى راشدينو اعمال او تګلاره سنت ګرځول شوي ،پدې توګه دخيرالقرون دزمانې خلك هغه چې په باب يې بشارتونه شته، زمونږ مقتدايان دي او افعال يې داتباع او پيروۍ وړ دي، شايد بيا داهل سنت والجماعت په اطلاقاتو كومه ستونزه نوي، خو چې دخير القرون داسلافو اعمالوته ځينې خلك العياذبالله بدعت ووايي ،نو دلته بيا اهل سنت والجماعت پخپله همدا داربعه ومذاهبو پيروان پاتې كيږي او په بل چا يې دې عصرحاضركې اطلاق دستونزوڅخه هغه وخت خلاصيداى شي چې داپورتنې شرطونه پوره كړي !والله اعلم.

ددې حوالو په رڼا كې ويلاى شو ،چې اهل سنت والجماعت هغه چاته ويل كيږي ،چې درسول الله ﷺدسنتو پيرو اودصحابه وو رض په پله روان وي ،او پدوئ دمعيار حق باور لري ،ددې حديث شريف مصداق وي چې ((ما أنا عليه واصحابي الحاكم /ج۱/ص ۱۲۹ ،ترمذي/ص ۲۶۴))يعنې خلفاى راشدينو چې كوم اعمال كړي ، ورته سنت ووايې او خداى ﷻمكړه دبدعت حكم پرې ونكړي،نوداسې اشخاص اهل سنت والجماعت دي.

په (ادیان باطله او رصراط مستقیم) اردو ژبې کتاب کې لیکي: چې ددې نه پس بیا اهل سنت والجماعت هغه ځوک دي، چې ائمه اربعه وو (امام ابوحنیفه رح، امام شافعي رح، امام مالک رح او امام احمد بن حنبل رح) ته حق وایي، او پدوئ کې دیوه امام مسایل قبول او مذهب یې ومني، بیا لیکي چې داهل سنت والجماعت په نزد د شریعت دا څلور اصول دي، چې ددې په منلو به دا کس په فرقه ناجیه کې شاملیږي، چې هغه لومړی قرآن کریم، دوهم سنت، دریم اجماع امت او څلورم قیاس دی. (ادیان باطله او رصراط مستقیم ۲۷مخ).

په (منهاج السنة) ۳/۲۷۲ طبعه مصر) کې دحنبلي مذهب ستر امام شیخ الاسلام ابن تیمیه رح ویلي، چې ((فان اهل السنة تتضمن النص والجماعة تتضمن الاجماع فاهل السنة



والجماعة هم المتبعون للنص والاجماع) ژباړه: داهل سنتو څخه په سنت کلمه مراد نص دی، یعنې کتاب الله او سنة الرسول ترې مراد دی، او په جماعت کلمې سره ترې مراد اجماع ده، نو اهل سنت والجماعت دنص او اجماع پیروانو ته وایي.

د(عقد الجید) په حواله د(صراط مستقیم) مصنف لیکي: چې دائمه اربعه وو اتفاق دصحابوو په اتفاق مبني دی، او دائمه اربعه وو اختلاف دصحابوو په اختلاف مبني دی، او په کومو مسایلو کې چې دصحابوو رضی الله تعالی عنهم او ائمه وو رح اجماع ده، دې کې اختلاف کول داجماع څخه وتل دي، او په کومو مسایلو کې چې دائمه اربعه وو اختلاف دی، پدې کې نوی اختلاف پیدا کول، هم داجماع خلاف دی او ځوک چې ددې څخه خارج دي، هغه اهل سنت والجماعت ندي.

دفرقه ناجیه په باب دامام شاه ولی الله رح محدث دهلوي وضاحت:

اقول الفرقة الناجية هم الاخذون فی العقیدة والعمل جمیعاًبما ظهر من الکتاب والسنة وجری علیه جمهور الصحابة والتابعین الخ..........(حجة الله البالغة /ج۱/ص۱۷۰ کراچی طبع) ترجمه: زه وایم چې نجات مله فرقه هغه ده، چې په عقیده او عمل دواړو کې هغه څه را اخلي، دکتاب او سنت څخه ثرګند او دجمهورو صحابه کرامو رض او تابعینو رح پرې عمل کړی وي، او دغیرناجیې فرقې په هکله امام شاه ولی الله رح صیب وایي چې: وغیر الناجیة کل فرقة انحلت عقیدة خلاف عقیدة السلف او عملاً دون اعمالهم......الخ ژباړه: او غیرناجیه فرقه هغه ده، چې سلفو یعنې صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم او تابعینو دعقاید او اعمالو خلاف کومه عقیده او عمل خپل کړي.....

نور بیا ....

پالیسیهای نادرست امریکا سرآغاز جنایات بین المللی است

ذبیح الله مجاهد

امریکــا در عصــر کنــونی روی پالیســیهای ضــد بشــري و امپریالیسي خـود، جهـان را در محـاذ هـای مختلـف در مخـاطره هلاکت قرار داده است، اگر امریکا چند دهه دیگرهم گذاشته شود تا در امور کشورها وملیت های دیگر، دست باز مداخلـه داشته باشد، دیری نـه خواهد گذشت کـه ملل جهـان را بـه طرف جنـگ سوم جهانی محصوصا اتومی خواهد کشاند.

در این آواخر دست درازی آمریکایهای در امـور مملکت هـای دیگـر، سـبب بسا ناهنجـاری هـای ضـد بشـری شـده و بـه هزاران تن زندگی خود را در کنج وکنـار مختلف جهان از دست داده ونظامهای مشروع سقوط کرده اند.

در سـال ۲۰۱۳ م مداخلـه غیـر مسـتقیم امریکـا در کشـور مصر و جلو گیری از حکومت محمد مرسی توسط اجیران دیرینه خود در مصر را میتوان مثلی الگوی تذکر داد.

بعد از سـقوط نظـام دیکتـاتوری حسـنی مبـارک در کشـور مصر، امریکا به بسیار شتاب زدگی دست خود را به نظامیـان آن کشور دراز کرد، روزهای که قانون جدید در مصر هنـوز تـدوین نه شده بود و انتخبات هم برپا نه گشته بود، امریکـا بـه شـورای نظامی مصر که امور مملکت را اداره میکرد، بیست میلیون دالر کمک نمود که کمک نـه بلکي پول پیش پرداخت مزدوران خـود در دستگاه نظامی مصر بـود، مردم مصر بـا قاطعیت و خواست اکثریت مطلق محمد مرسی عضو حزب اخوان المسلمین را بـه حیث رهبر خود گزیدند،ولی در جریان یـک سـال آمریکـا نظامیـان و سیکولرسـتان را در مصـر علیـه نظـام محمـد مرسـی تحریـک نمـود و سـر آنجـام نظـام محمـد مرسـی را کـه بـه تـرازوی دیموکراسـی غـرب هـم برابـر بـود سـقوط داد کـه درنتیجـه خـون هـزاران تـن افـراد بـی دفـاع و ملکـی بـه اشـاره امریکـا توسـط نظامیان مصر کشته شدند.

دو اقدام دیگری امریکا سبب غوغای جدید در جهان:

چنـدی قبـل غوغـای سیاسـی علیـه رژیـم اوکـراین بـه سـرکردگی یـانوکویچ بعد از آن اغـاز شد کـه اوکـراین از امضـاء سندی ابا ورزید که میخواست اوکراین را در اتحادیه اروپا شامل سـازد، اخیـرا حکومـت اوکـراین کـه بـه خواسـت ملـت خـود تعین گردیـده بـود بـه دسیسـه امریکـا جمـع اروپـا سـقوط داده شـد، امریکایها توسط چند مزدور خود در کشور اوکراین تعدادی از مـردم اوکـراین را علیـه رژیـم خـود تحریـک نمودنـد و سـبب خونریزی صدها تن در اوکراین وسقوط نظام یـانوکویچ شد، بعد از فروپاشي نظام اوکراین آن کشور جدا تحت مخاطره تجزئـه

قرار گرفت و بهانه خوبی برای مداخله مستقیم روسیه هم فراهم گشت، امریکا گرچه روسیه را هوشدار می دهد ولی واضح است که در حین جریان مشاجره ها و پالیسیهای کشورهای امریکا وروسیه تصادمات جدیدی در اوکراین و حتی تمام منطقه آغاز شود، در کل مسئولیت همه حوادث ضد بشری که به میان می آید مسئولیت آن به دوش آمریکا وپالیسیهای نادرست امپریالیزم درجهان است.

غوغای دومی در کشور ترکیه سرپا گردیده است، حزب حق وعدالت ترکیه به رهبری عبدالله گل و حکومت رجب طیب اردغان در چند سال حاکمیت خود توانسته است که ترکیه را هم در عرصه اقتصاد وهم در عرصه های اجتماعی و سیاسی از بهرانهای موجود نجات دهد، زمانی که رجب طیب ارغان به کار خود آغاز می نمود ترکیه کشور شماره (۷۰) اقتصادی در جهان بود، ولی اکنون تحت رهبری ارغان ترکیه در رده کشور شماره (۱۵) در جهان اقتصاد به حساب می آید که با مجودیت فساد گسترده قبلی درنظام، پیشرفت قابل ملاحظهء میباشد، همچنان ترکیه در عرصه های مختلف زندگی پیشرفتهای قابل ستودنی داشته است، ولی امریکا شیطانت خود را در آن کشورهم آغاز نموده و در صدد تحرک مردم علیه حاکمیت رجب طیب اردغان است، همچنان اردغان کشور ترکیه را در ضمن تمام بهبودی ها به طرف یک کشور راستین مسلمان هم در حرکت داده است که همین نقطه غرب را سراسیمه ساخته و امریکا به رهبري اهریمن های غرب دسیسه ها را علیه نظام کنونی ترکیه طرح ریزی می نماید.

از مطالعات وضعیت سیاسی در ترکیه چنین بر می آید که درزمان نزدیک ما شاهد ناهنجاری های جدید در ترکیه نیز همچو مصر خواهد بودیم.

روزی قبل وزارت خارجه امریکا نگرانیهای خود را نسبت به وضعیت حقوق بشر در جهان ابراز داشت، کشورها را متهم به نقض حقوق بشر نمود و مثلی قاضی القضات جهان از حقوق و بشر!!؟ صحبت کرد، ولی کشور چین که در راپور سالانه امریکا زیادتر مورد انتقاد قرار گرفته بود علیه راپور ونگرانی امریکا عکس العمل تند را ابراز داشت و جنایات ضد بشری آمریکا را به رخ وزارت خارجه امریکا کشید و برشمرد.

چین در عکس العمل خود در ضمن موارد زیاد، مسئله حملات تروریستی و خصوصا استفاده از هواپیماهای بدون سر نشین در کشور پاکستان را یاد آوری نمود.

در راپور کشور چین آمده که درضمن سال گذشته در حملات هواپیماهای غیرسرنشین آمریکایی (۹۰۰) غیر نظامی که طبعا بشر بودند در کشور پاکستان کشته شده اند.

کشور چین در راپور خود پرده را از جنایات حکومت بارک اوباما علیه مردم خود نیز برداشته و موارد مظالم زیادی را در داخل امریکا تذکر داده که در آن مستقیما به حقوق انسانها تجاوز صورت گرفته است.



همچنین کشور چین امریکا را روی افشاسازی ثبت وشنود مکالمهء ملیونها افراد در امریکا وجهان نیز مورد تعنه قرار داد و این عمل را برخلاف آزادیهای بشری دانست، حکومت چین در مورد چگونگی وضعیت حقوق بشری در چین قضاوت مردم چین را مهم دانست نه پروپاگند امریکا را.

اگر جهان علیه شرافگنی امریکا متوجه مسئولیت خود نه شود، دیری نخواهد گذشت که جهان توسط پالیسیهای غلط و نادرست امریکا به طرف جنگهای داخلی و خانمان سوز مواجه گردد، حتی احتمال آن می رود که در صورت عدم جلو گیری امریکا در امور ممالک دیگر، کشورهای اتومی جهان را مجبور به کارزار نظامی نماید که طبعاً تمام بشریت را در مخاطره هلاکت ونابودی قرار خواهد داد.

دهیوادله نامتو دیني عالم سترروحاني شخصیت شیخ القران والحدیث مولانا عبدالستار جان ، صاحب دمر کې پاته برخه :

دجهاد له مهمو ادابو دامیر اطاعت، دجهاپه مال کې له خیانت نه اجتناب ، عدل او داسراروساتنه ده.

ځرهنګي کمیسون ، دجهادمهمه حصه په مخ وړي او دلوی بشارت مستحق دي

. پوښتنه : جناب شیخ صاحب ! داچې په هیواد کې داشغالګروپه خلاف سپیڅلی جهاد روان دي اوپه خوراپاکواو معصوموقربانیومخ په وړاندې درومي ، تاسي دجهاد دیوه سپاهي لپاره کوم امور اواداب ډیرضروري اومهم بولی چې هغه عملي پرځان تطبیق اورعایت کړي ، ترڅوهم الهي رضا حاصله کړي اوهم دولس خواخوږي اومینه جلب اوخپله وګرځوي ؟

ځواب : اول ادب په کې احتساب یعنی جهاد لپاره د رضاد الله پاک او د اعلا کلمة الله ، دانیت پکې اول ضرور ده، مختلفو روایاتو سره داحدیث روایت شوي دی ، نبی کریم (ﷺ) نه پوښته وشوه چې یو سړی جهاد کوي دپاره ددي چې خپل شهرت حاصل کړي ددي دپاره جهاد کوي چې خپل شجاعت خلکو ته ښکاره کړي اودپاره د مال جهاد کوي نو کوم یو پکې مجاهد فی سبیل الله ده ،نبي کریم (ﷺ) په جواب کې ور ته وفرمایل (من قال لتکون کلمة الله هی العلیا فهو فی سبیل الله)یعني ددي لپاره جنګیږي چې د الله (عَزَّ وَجَلَّ) کلمه اعلی وګرځي د الله تعالی دین حاکم وګرځي د کفر کلمه ذلیله او سافله وګرځي د اسلام کلمه واحده وګرځي د کفر کلمه متفرقه او متشتطه وګرځي نوداولنی شرط چې اعلا کلمة الله ، که هغه پکې نه وي نو اجر او ثواب پکې نشته .

بل مهم شرط پکې اطاعت د امیر ده چې امیر ور ته څه حکم کوي د هغه اطاعت به کوي خو روایاتو کې دا قید ورسه لګول شوی چې اطاعت د امیر په امر معروف کې چې مشروع او معقول وي، اطاعت د امیر که څوک نه کوي بلکې معصیت کوي اوخلاف کوي د هغه انتهایي ډیر ضررونه دي لکه داحددغزاواقعه چې په یوه کنډوباندې پنځوس کسان مقرر کړل شوي و رمات په سر کر دګي د عبدالله ابن جبیر (رضي الله عنه) او نبي کریم (ﷺ) اصرار ورباندې کړی وه چې دا مرکز به تاسو نه پریږدي که مونږه غالب شو او که مغلوب شو، کفارو چې حمله وکړه دری ځلی اوپه سوروباندی خالد بن ولید مشري درلودله په اسونو باندي خو له دې ځای چې غشی ورباندي خلاصولی اسونو قدرت نه لرو چې مخامخ ورباندي راشي بلاخر هغو شکست وخوړو او مخ په طرف د غره شواو شاه یې طرف د صحابو ته شوه او دوی له وروسته پسي روان وه هغه څه چې دوی غوښتل چې هغه فتح او نصرت وو هغه یې نصیب شو په دغو کسانو کې څلویښت کسانو معصیت وکړو اود عبدالله ابن جبیر (رضي الله عنه) نه سر کشي او معصیت وکړو او د نبي کریم (ﷺ) په وصیت یې عمل ونه کړو او دوی وویل چې الغنیمه او دوی چې کوز شولو نو خالد ابن ولید ته فرصت په لاس ورغی او راپور ته شو پاته لس کسان یې شهیدان کړل او ددی خوانه هم پری ور کوز شولو او د غر لخوا هم پری راکوز شولو او د دواړو طرفو نه یې مسلمانان راګیر کړله او هغه کاری پری وکړو چې نوم یې تاریخ او سیرت لیکلي ده چې داسي بله سخته واقعه په صحابو نه وه راغلي او دا د نه اطاعت او نافرماني نتیجه وه چې قران او حدیثو ذکر کړي وه ، بله غزوه د خیبر وه ، نبي کریم (ﷺ) چې خیبر ته تلو نو بلال (رضي الله عنه) ته یې وویل چې اعلان وکړه چې د کومو کسان اوښ یا اس یې ضعیف وي نو هغه به نه ځي او د چاچې اس یا اوښ ډیر مست اوشقب وي هغه به هم نه ځي نو ډیر ضعیفان بیر ته واپس شولو یو کس وه چې دا اعلان یې اوریدلي و عمل ورباندی نه وو کړی اس یې ډیر مست و او په یو ځای کې یې وغورځاوه او مړ شو او جنازه یې نبي کریم (ﷺ) ته راوړه نبي کریم(ﷺ) پوښتنه وکړه چې داولې مړ شو ور ته وویل شول چې د اس نه غورځیدلي وه او مړ شو نبي کریم (ﷺ) پوښتنه وکړه چې د بلال اعلان یې اوریدلي وه ور ته وویل شو

چې اوریدلې وه نو نبي کریم (رضي الله عنه) ورباندې جنازه ونکړه بلکې وې ویلو چې (لا تحل الجنة لعاص) یعني د عاصي لپاره جنت حلال نه ده ، همدارنګه بله واقعه هم په خیبر کې وه نبي کریم (ﷺ) صف بندي وکړه او امر یې وکړو چې څو پورې زما امر نه وي جنګ به نه شروع کوي یو صحابي په یو یهودي باندې حمله وکړه او یهودي پدې مسلمان باندې حمله وکړه او مسلمان یې شهید کړو هلته هم نبي کریم (ﷺ) وویل چې د عاصی لپاره جنت حلال نه ده نو اطاعت د امر ډیر ضروري ده.

د جهاد بل مهم ادب له خیانت څخه ځان ساتنه ده او دا یو لوی جرم او ګناه ده ، خصوصاد جهاد په مال غنیمت کې ، په اسلام کې دغه کار ته غلول وایې او دا غلول ګناه کبیره ده پدې کې ډیر محرمیتونه پیداکیږي له لویو درجو او رحمتونو څخه محروم ګرځي ،نبي کریم (ﷺ) چې کله خیبر فتح کړو او د خیبر نه بیر ته راتلو وادی القرا ته چې راورسیده نو دلته هم یهود میشت و دوي سره یې اراده د صلحی یا د جنګ درلوده د نبي کریم (ﷺ) سره یوه غلام وه هغه دده په سامان باندې مقرر وه هغه سامان له اوښ نه را ښکته کاوه پدې وخت کې یوه غشی اتفاقي راغلو ورباندې ولګیده چې ویشتونکی یې نه ومعلوم او شهید شو صحابه کرامو وویل چې ده ته دې شهادت مبارک وي، ځکه هغه د جهاد په سفر کې د نبی کریم (ﷺ) په خدمت کې وه او د یهودو له طرفه ولګیده او همدغه ته شهادت وایې نو شهادت دې ور ته مبارک وي، نبي کریم (ﷺ) وفرمایل چې کلا یعني داسې نه ده هر مقتول ته شهیدمه وایی (هو فی النار) دا په جهنم کې دی دهغه څادر له وجې نه چې ده اغوستې و مال د غنیمت نه خو قبل القسمت (تشتغل علیه النار)یعني هغه څادر سبب ددخول د نار ور ته وګرځیده او یا همدغه خپله څادر د اور ور ته ګرځي اوداور په څادر کې به پروت وي، همدارنګه د نبي کریم (ﷺ) بل غلام وو چې هغه کر کر ته نومیده او هغه هم په خپل مرګ سره مړ شو چې نبي کریم (ﷺ) خبر شو نو په حق کې وویل چې (هو فی النار) یعني دا هم جهنمي دی(فی عبأت قد غلّها) داهم په وجه د یو څادر سره چې څادر یې پټ کړی وو چې غنیمت مال ته رسیدلې نه وه نو هغه ته یې هم ویلو چې دا په نار کې ده په اندازه د ګناه خپلې به وي.

همدارنګه بله واقعه چې مشکوة شریف رانقل کړی ده چې رجل داصحابو د نبي کریم (ﷺ) نه وفات شو کله یې نبي کریم (ﷺ) له جنازه نه خبر کړو چې جنازه تیاره ده هغه (ﷺ) وفرمایل (صلوعلی صاحبکم) تاسو مونځ دجنازې ورباندې وکړی زه لمونځ ورباندې نکوم ،صحابه کرام ډیر پریشانه شول ، صحابه و کرام خوباور درلود چې نبي کریم (ﷺ) مخبر صادق دی خو در جل په ګناه باندې پوهه نه وو چې په څه ګناه باندې د نبي کریم (ﷺ) د جنازی نه محروم وګرځیدلو هغوی وویل چې کله مو دفن کړو او د هغه سامان مو ولټلو نو څه اندازه مری یې له یهودو نه پټې کړې وې یعني مخکې لدې چې دمال غنیمت حکم پرې جاري شي هغه تصرف پکې کړی وو (ما یساوی درهمین) چې ۲ درهم سره یې قیمت برابر وو ،پدې وجې باندې د جنازې د نبي کریم (ﷺ) نه محروم وګرځیدو

همدارنګه نبي کریم (ﷺ) دغنیمت مال یوه (اوښ) سره نیږدې ودریدو او داوښ د سنام نه یې یوه دانه وړی راواخیسته او خلکو ته یې په ګوته جګه ونیوله وې ویل چې ددې مال په دغه اندازه باندې هم ماته روانه ده مګر خُمس او خُمس ددې غنیمت هم زه بیر ته په تاسې تقسیموم، نبي کریم(ﷺ) وفرمایل چې (ادوالخیاط والمخیط) که ستنه جاوړی وي او تار نو هغه دی هم بیر ته واپس کړي یو کس څه تار اخستی وو نبي کریم (ص) ته یې وویل چې دا ما ددې لپاره اخیستی وو چې د اوښ زل ورباندې وګندم خو چې دومره خطرناکه سو هغه مې بیر ته واپس کړ ،یوه صحابي پس لدې اعلانه څه وړی راوړې نبي کریم (ﷺ) ور ته وفرمایل چې اعلان دی اوریدلې وو چې څه مالونه وی هغه راوړی چې تقسیم یې کړو هغه ور ته وویل چې اعلان مې اوریدلې وو خوله ماڅخه ناوخته شو، نبي کریم (ﷺ) ترینه قبول نه کړو ور ته یې وویل چې ته به په خپله د اما ل د قیامت په ورځ مجاهدینو ته رسوي، صحابه و چې داسې اعلانونه اوریدل نو چا یو بند د څپلی راوړ او چا دوه چې مونږه خو خبر نه وو چې دومره سخت وعید پکې راغلی ده ،نبي کریم (ﷺ) وفرمایل چې یو شراک هم د نار څخه دی اودوه شراکین هم دنار نه دي ،نولازمه ده چې مجاهدین دبیت المال اومال غنمیت په امورو کې ډیر محتاط ووسي اوله خیانت څخه په جدي توګه اجتناب وکړي .

بل مجاهدین چې کومې فیصله کوي په هغو کې عدل او انصاف پکار دي، له رشته داري او تعصب نه به انتهایي اجتناب کوي فیصله د حق به کوي اګر په ځان وي او یا په ورور او یا هم یې دپلار په حق کې وي ، د قرانکریم هم همدا حکم دي چې قضاوت به انتهایي شفاف او په حق سره استوار وي دا سبب د رغبت د خلکو ګرځي په انصاف برابري فیصلي ډیر لوی اثر لري، لکه د نبي کریم (ﷺ) زمانه کې د بني خذیمه په قبله کې یوې ښځې غلا کړې وه او د هغې په حق کې امر شوی وو چې لاس به یې قطع کیږي نو دقبیلې خلکو وویل کچیر ته ددغې ښځه لاس قطع شي نو د اخو د قوم لپاره غټ شرم ده نو مونږ باید نبي کریم (ﷺ) ته سفارش وکړو چې

دغه ښځه معاف کړي ، نوقبیلې ددغه جرأت لپاره اسامه بن زید انتخاب کړ ، اسامه بن زید نبي کریم (ﷺ) ته سفارش وکړو په دغه وخت کې د نبي کریم (ﷺ) په رنګ کې تغیر پیداشو ور ته یې وویل چې اسامه ! ته په حدودالله کې ماته سفارش کوي هغه هم خفه شوله خپل سفارش څخه تیر او معافي یې وغوښتله چې زه پوه نشوم نبي کریم(ﷺ) ور ته قسم کوي چې (والذی نفسی بیده لوسرقت فاطمةُ لاقطعت یدهااعاذ الله منها)یعني زمادې په هغه ذات قسم وي چې زمانفس دهغه په لاس کې دی، کچیرې فاطمه (زما دزړه ټوټه) هم سرقه وکړي اوهغه نصاب او ثبوت ته ورسیږي نو زه به هغې لاس قطع کوم .

همدغه ډول مجاهدینو ته تعلیم په صیحیح ډول سره پکار دی ځکه اوس موجوده اتفاقي جنګونه نه دي بلکې تکتیکې جنګونه دي نو پکار ده چې مجاهددجنګ ښه طریقه زدکړي اوپه ټولوامورواومهار تونوځان پوه اوسنبال وګرځوي ،له یولوري به دښمن ته ښه ضربه ورسیږي ،بل به دخپل امیر اوقوم په زړه محبوبیت پیداکړي .

حضرت سعد(رضي الله عنه) چې په غزاد احد کې زر غیشی ویشتلې وو نبي کریم(ﷺ) ور ته داسې دعاکوي (الهم صدد رمیاهُ اللهم اجِب دعاءهُ) خدای ته یې غیشي مضبوط کړي او ته یې مستجاب الدعوات وګرځوي ، دغه راز نبې کریم (ﷺ) ور ته وویل چې (فداک ابی وامی)یعني زما موراو پلار دې له تانه قربان وي ، دحضرت سعد(رضي الله عنه) چې ښه رمیه زده وه نو نبي کریم (ﷺ)ته ځومره محبوب وګرځیدو ور ته یې وویلی چې فداک ابی وامی، حضرت علی (رضي الله عنه) وویل چې دحضرت سعد (رضي الله عنه) نه پر ته دبل چاپشان کې ماد نبي کریم (ﷺ) دغه ډول کلمات ندي اوریدلي علت یې داوه چې دجهادپه میدان کې به هغه په نښه برابر اوموثر غیشي ویستل او توده مقابله به یې کوله

دیو مجاهدلپاره بل مهم ادب دادی چې دجهاداومجاهدینوراز به ساتي ، راز ساتل سبب د کامیابی ګرځي اوافشاء یې ناکامي اوخیانت دی ،بنو قریظه چې نبي کریم (ﷺ) محاصره کړي وو اوپه ابتداکې یې اراده د تسلیمی نه درلوده خو وروسته پوهه شول خبر و ته اماده شول اودهغه لپاره یې ابولبابه (رضي الله عنه) ورواستاوه ابو لبابه صاحب چې ورغلو هغه ته یې وویل چې د نبي کریم (ﷺ) په حکم تسلیمیدل ښنګه دي ، ابولبابه (رضي الله عنه) پخپلې مری لاس راتیر کړ اووي ویل چې تسلیمیدل ستاسودټولوذبحه ده ، یوراز او سیر د نبی کریم(ﷺ) یې د کفارو په مخ کې ښکاره کړ ، ابولبابه قسم خوري چې ما قدمونه له هغه ځایه نه وه ښورولي زه پوه شوم چې ما خیانت د الله (جل جلاله)اودهغه د رسول (ﷺ)) سره وکړو په کومه لاره چې راغلی وم خپله لاره مي بدله کړه او مدینه منوری ته لاړم نبي کریم (ﷺ) ته ورنغلم ځکه چې ما خیانت کړی وه او ځان مې پر ستني پوري وتړ لولوړی او تندی مې تیرولې یوازی لمانځه لپاره به مې لور اویابل چاته اجازه ور کوله چې خلاص مې کړي اوعهدمې کړی وو چې الله پاک زما توبه قبوله نه کړي تر هغه به زه ځان خلاص نه کړم تر دې پورې چې ستر ګو اوحواسو دابولبابه کار پریښودو ، نبي کریم (ﷺ) چې خبر شو نو وې فرمایل چې ماته به راغلی وه مابه ور ته له الله تعالی څخه مغفرت غوښتی وه اوس چې هغه فیصله پخپله کړی دی پوه شه او الله پاک چې څه ورسره کوي د ښپي الله پاک) توبه نازله کړه او بی بی امه سلمه (رض) ور ته وویل چې بشارت ور ته ورنکړم نو حضور (ﷺ)ور ته ویل چې بشارت ور ته ور کړه جمات خواته راغله بشارت یې ور ته ور کړو نو هغې اراده درلوده چې خلاص یې کړي خوابولبابه ور ته وویل چې نبي کریم (ﷺ) ما په خپل خلاص نکړی نو زه به له ده ځای نه جګ نشم ، نبي کریم (ﷺ) سهار لمانځه ته راغي اوله بندنه یې خلاص کړ او توبه یې په اخلاص سره وویستله نو راز ویل داهم لوی خیانت دی له تحریک سره او له خپلو ملګرو سره، بایدځان ترینه وساتل شي .



په سر کې موهم ویلي ووچې دامیر اطاعت دجهادله اهموامورو څخه ګڼل کیږي ، که اطاعت ونشی نو تر شاانتهایې ډیر ضرورونه لري ،لکه تیر کال چې کوم تعلیمات داسلامي امارت له لوري ور کول کیدل

دمشر انوله لوري په باربار طالبانواومجاهدينو ته دا اعلان وشو چې موبايل به نه استعمالوی خويوشمير هغوچې دمشر انوله حکم نه خلاف کړی وه اوموبايل يې کاراوه له سختو مشکلاتوسره مخ شول ، ياشهيدان اوياهم اسيران وگرځيدل، چې داټول دېې اطاعتی اوخلاف ورزی اثردی .

. پوښتنه : په اخير کې محترم شيخ صاحب که د فرهنگي کميسون نشراتي برخي ته څه نصايح اولارښوونې وکړي ، خوشحاله به شو ؟

ځواب : د فرهنگي کميسون خدمتونه اووظايف د جهاد له قسمونه نه يو قسم دی، لکه چې نبی کريم (ﷺ) فرمايلي دي چې (جاهدو بالنفسکم واموالکم والسنتکم)جهاد که باالنفس وي جهاد که باالمال وي او جهاد که په ژبه وي او د جهاد مفهموم همدغه دی چې جهاد بذل د طاقت ته ويل کيږی په مقابله د کفارو کې باالسيف والسنان اوالللسان والبنان وباالحجة والبرهان چې خپل وس او طاقت به د کفارو مقابله کې په توره او په نيزو سره هغه وخت کې چې اسلحه موجوده ده اوس وخت کې چې کومه اسلحه موجوده ده او دامقابله به هغوی سره کيږی او دابه په لسان او قلم سره کيږی لسان او قلم دواړه دفرهنگي کميسون وظيفه ده او دايو قسم جهاد دی پدې کې ډير اخلاص پکار ده ،بيان دواقعيتونو بايدوشي ، داسلام محاسن او دنبي کريم(ﷺ) سنن چې داټول د حکمتونو نه ډک دي ښکاره کول او تبليغول يې پکار دي ، ساينسدانانو چې څومره تجزيه کړي ده هر سنت دنبي کريم(ﷺ) دپاره يې ډير ډير حکمتونه ذکر کړي دي داپيش گوياني نبې کريم(ﷺ) ډيرې مخکې کړي اوس خلک د هغو تحقيقاتو ته رسيدلي ، دهغوی په حقانيت باندی اقرار کوي الله تعالی دغه مقدسه وظيفه تاسي باندې لورولې چې داسلام محاسن ، الهي احکام ، نبوي سنت اود کفار واوبر غلگرو په مقابل کې دجهادضرورت په گوته کړي ، په دې برخه کې موچې څومره خدمتونه سر ته رسولي هغه دې الله پاک درنه قبول کړي او چې نور وڅومره ته مو اراده وي نو الله (پاک) دې در ته نور هم توفيق در کړی

فرهنگي کميسون اوچاري ديوه ملت اوحرکت دژبې مثال لري وژبه هم قلاده او هم بلا ده که په سمه استعمال شي ډير فوايد لري او که ناسمه اوناجايزه استعمال شي زيات منفی اثرات لري ، داښکاره خبره ده چې په خلکو کې دامارت اوتحريک څومره مقبوليت راځي هغه دفرهنگي کميسون دمثبتو تبليغاتواثر اوعلت وي اوخدای مکړه څه کمزوري پکي راځي نوبيا ارومرو فرهنگي کميسون ته متوجه کيږي چې ولې يې دخلکواوامارت ترمنځ مثبت صميميت خيرولو ته هڅي ندي کړي اويايې دامارت غوره کړني دولس ترغوږوندي رسولي .

حسان ابن ثابت (رضی الله عنه) د نبي کريم (ﷺ) شاعر وو نبي کريم (ﷺ) به ور ته ويل چې (هاجيهم يا اوهجيهم) چې د کفاروذم او بدي بيان کړه دا د فرهنگي کميسون کار دی فان جبرايل معک ، جبرايل (ع) ستا موءيد هغه تاسره مدد کوي، نو کچيرې فرهنگي کميسون داسلام ، جهاداونبوي سنتو رجحانات بيانوي اود کفر په مقابل کې په ژبه اوقلم جهاد کوي ، نودابيالوي بشارت دی اوله تاسي سره الهي مرسته ارومرو شامل حال گرځي ،نبی کريم (ﷺ) چې د عمرې لپاره دفتحې په اوم کال مکې مکرمې ته داخليده نو شاعر د نبي کريم (ﷺ) ور ته په مخکې شعرونه ويل د کفاروذم اوبدي يې بيانولو صحابه و به ور ته ويل چې د نبي کريم (ﷺ) په مخکې شعرونه وايې؟ نبي کريم (ﷺ) ور ته وويل پريږدی دا شعرونه په کفارو د غشو نه هم سخت تماميږی پريږده چې دا ووايې ، نو داسي تبليغات کول چې کفار مرعوبه وی ، مسلمانان تشويقه وی دا د تاسو وظيفه ده الله پاک دې پدې وظيفه کې تاسو صداقت او اخلاص نصيب وگرځوي، حسان (رضی الله عنه) د نبي کريم (ﷺ) نه اجازت وغوښتلو چې زه د مشر کينو قريشوذم بيان کړم نبی (ﷺ) ور ته وويل چې په قريشو کې خو زه هم يم ،حسان صاحب ور ته وويل چې زه به داسې ذم بيان کړم چې تا به داسي پاک ترينه راوباسم لکه ويښته چې له وړو نه څوک راوباسي دا په کوم صورت کې کيداشي چې يوڅوک په قلم او بيان کې ماهر وي نو قوم ته به نسبت نکوي بلکې د کافر به شخصي قبايح بد صفات ذکر کوي ، نودفرهنگي کميسون ملگري هم بايدداسې ذکاوت اومهارت ولري .

تاسي وگوری چې دقلمي جهادڅومره لوی اثرات دي چې د زيد ابن ثابت دليکلواوقلم په برکت مطبوع قرآن زمونږه او ستاسو په مخکې پروت دی دا د هغه د قلم برکت ده چې په نبی(ﷺ) به نازل شو نو ده به ليکلو ، کوم ترتيب يې چې پيداکړ د صحوفو په طريقه سره دامشوره د شيخينو وه چې زيد ابن ثابت ته يې ور کړه چې يوځای ته يې راجمع کړي دا د هغه د قلم برکت ده کوم چې اوس مرتب او مولف کتاب گرځيدلی ،نو ستاسو ژبه او قلم يوه حصه د جهاد ده او جهاد کې تاسو ته انتهايي اخلاص پکار ده

په اخير دازما شخصي نظر دی . که څه هم تاسې په خپل کار کې ښه مهارت لری ،چې مجلو کې مضمونونه ډير لوی لوی راځي او خلک يې ټول مطالعه کولی نشی او که مضمونونه واړه اومختصروي ښه مطالعه يې کيږی او مطلب ورنه زر اخستل کيږی او که اوږد وی مطلب هم زر نه ترې اخستل کيږی اوپه خلکوېې مطالعه درنيږي .

یکه ټاکنې به چېرته کټېږي؟

ع - حکیم

د ژمي ساړه، د کرزي د بلواکه رژیم او د دوی د باداراانو لپاره د هوسایې یوه لمحه وي، ځکه چې د ژمي په سړو کې طالبان نه وي، دوی له همدې موقعې نه په استفادې د ځان لپاره دختو پوزه جوړوي، او پرلپسې یې په ځمکه او اسمان کې غوراری جوړ کړی وي، څو خوار، بې وسه کلیوال سره راټول کړي، زندان پرې ډک کړي، اوازه ګډه کړي، شل مو ووژل او شل موژوندي ونیول!

د زوی ژبه مو تر خوله شه! ولې مو دا عملیات له حمله تر قوسه نه کول، چې ښکاره طالبان ګرځېدل او ستاسې ګزمې یې در لولپه کولې؟؟؟

سږنی ژمی بیا د کرزي د بد رژیم د تبلیغاتو ژمی و، پرلپسې یې داسې تبلیغوله چې ګواکې زموږ چرسي اردو له خپلو باداراانو پرته هم آن پنځوس کسه طالبان په یوه ځای له منځه وړلای شي. سړی حیران شي، چې وه زوی مړې! ښه سره پوهېږو چې ته چېرته د طالبانو دوژلو ادعا کوې هلته په ژمي کې اوهغو ساحو کې چې عملیات ترسره کوي دطالب نوم هم نه وي. دوی اصلاً غواړي په دې ګرم تبلیغاتي ژمي سره راروانې ډرامې (ټاکنو) ته د بشپړې امنیتي زمینې دعوه وکړي. په داسې حال کې چې هره ورځ یې په رسنیو کې لولو، اورو، ګورو چې په بېلابېلو ولایاتو کې بېلابېل ارقام د رایې ورکونې مرکزونه یا بېرته لغوه شوي یابه له ګواښ سره مخ وي. مګر پر دې سربېره د کرزي مفسد رژیم غواړي دا ډرامه ترسره کړي، او د ډرامې یوولس ممثلین چې ډایر کټرې به یې د دوی دباداراانو په لاس کې وي، په ولس ووینې. خو چېرته؟؟؟

د کرزي د بلواکه رژیم خو آن دارګ ماڼۍ هم له ګواښه خوندي نه ده پاتې، د دوی دباداراانو تر ټولو پټ ځای د سې آی اې مرکز ته هم د اسلام سرښندونکي ورننوتل، د لبنان هوټل یې هم پرې وغماوه، نو دهېواد پلازمېنه او په پلازمېنه کې بیا په خپله د پاچا څوکۍ چې په خطر کې وي، نو ټاکنې به چېرته وشي؟ د تېروټاکنونه دوه ورځې وړاندې فدایانو د کابل ښار په سر سره واخېست، دټاکنو په ورځ په اتمې حوزې مخامخ فدایي برید وشو. نو د به ملت ته چې دوی به د ورکولو پر مهال بې غمه وي؟ که څوک دادعوه کوي، چې اردو، پولیس یا اربک به د دوی امنیت خوندي کړي، نو دا خوب دې اوبه ته ووایي، ځکه چې د طالبانو یوازې د جنوري په میاشتني راپور کې له اسنادو سره سلګونه ځوانان له همدې لیکو راجلاشوي وو، او څوک چې پکې پاتې دي، هغوی لېوني نه دي چې د مفکر(!) یا مفتي(!) یا هم نر(!) لپاره خپل ځانونه قرباني کړي، دوی د میاشتې اړولو په تمه دي، نو د ټاکنو ورځ چې د حمل شپاړلسمه ټاکل شوې، هیڅ نظامي تبع به دې ته حاضر نه شي، چې د میاشتې په نیمایي کې د پردیو ګټو لپاره خپل ځان قرباني کړي، بلکې دوه اوونۍ وروسته یې معاش راځي، چې د رایي ورکونې ټول مرکزونه بندېږ، هم، بند دې شي، دی ولې خپله نیمه میاشت پرې خرابه کړي؟؟؟

کرزي د پیسوټولولو پروژه څنګه ډاډ ورکړي، رایې

نو ټاکنې ممکن، لکه د تېر په څېر بیا هم یوازې په ارګ، دحوزو په تعمیرونو او دولایاتو په مقرونو کې ترسره شي. چې بیا به نو پوره یوه میاشت د دوی په پایلو لانجه وي، چې کوم والي د کوم نوماند لپاره کار کړی؟ نو راتلونکی ولسمشر(!) به په ټوله معنی لکه د تېر په څېر انتسابي وي، نه انتخابي!

د مستشرقينو د ظهور

قاري عبدالولي

په اړوند د رسول الله ﷺ وړاندوینه

په څوارلس سوه کلن تاریخ کې صلیبیانو او نورو کافرانو له مسلمانو سره مخامخ ډېرې زیاتې جګړې وکړې، ولې په هر ډګر کې له ماتې سره مخامخ شوو، تر دې چې دوی د مخامخ جګړې په ځای یو بل سنګر پرانست او د مسلمانانو په منځ کې یې د تفرقې او اختلافاتو را منځته کولو لپاره فکري او رواني جګړه پیل کړه او مستشرقین یې را منځته کړو، هغوی په لومړي قدم کې عربي زده کړه، په دوهم قدم کې اسلامي علوم لکه قرات، تفسیر، حدیث، فقه، اصول فقه او نور علوم تر لاسه کړو، تر څو دوی په دې پوه شي چې په څه طریقه له مسلمانانو سره جګړه تر سره کړي، پخپل دین کې ورته ستونزې را پیدا کړي، نوې فرقې او ډلې را منځته کړي، په خپل دین کې ورسره دلائل ووايي. دې حالت ته رسول الله ﷺ اشاره کړې ده، حاکم روایت کوي او وايي چې د شیخینو په شرط صحیح حدیث دی، او طبراني یې هم روایت کوي له حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ﴿سَيَأْتِي عَلَى أُمَّتِي زَمَانٌ، يَكْثُرُ الْقُرَّاءُ، وَيَقِلُّ الْفُقَهَاءُ، وَيُقْبَضُ الْعِلْمُ، وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ، قَالُوا: وَمَا الْهَرْجُ؟ قَالَ: الْقَتْلُ بَيْنَكُمْ، ثُمَّ يَأْتِي بَعْدَ ذَلِكَ زَمَانٌ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ رِجَالٌ لا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ، ثُمَّ يَأْتِي زَمَانٌ يُجَادِلُ الْمُنَافِقُ الْمُشْرِكُ الْمُؤْمِنَ

ژباړه: ... بیا به داسې زمانه راشي، چې منافق او مشرک به له مؤمن سره مجادله او مباحثه کوي.

حاکم په مستدرک کې بیا داسې روایت را نقل کوي: ﴿یجادل المنافق الکافر المشرک بالله المؤمن بمثل ما یقول﴾

ژباړه: په الله کافر، مشرک او منافق به له مؤمن سره مجادله او بحث په داسې توګه کوي، لکه څرنګه یې چې هغه وایې.

یعني په قرآن، حدیث، فقهه، تفسیر، توحید، تصوف کې به هغه له یو سوچه مسلمان سره دلائل وايي، دا عمل دوه ډوله کسان تر سره کوي، یو هغه کس چې مسلمان وي، یوازې د مطالعې، یا له یوې باطلې فرقې څخه د رنګ اخستو او جهالت په مټ ځان له یوه مدرس تقوی دار عالم څخه هوښیار او پوه ګڼي بحث ورسره کوي، په لوی مجلس کې د هغه خبره په غیر شرعي او غیر منطقي انداز ورغبرګوي، دوهم هغه کسان دي چې کفارو د مسلمانانو په منځ کې تفریق او بېلتون راوستو لپاره ګمارلي وي، هغوی دیني زده کړې تر سره کړې وي، چې نن سبا داوړ کسانو ته مستشرقین ویل کیږي، او په هر ځای کې په پراخه کچه موجود دي.

دا هم د رسول الله ﷺ یوه معجزه ده، چې اوس مهال سل په سله کې رښتیا شوه، په داسې توګه چې کافر له مسلمان سره د هغه په دین کې باطل دلائل وایې او بحث ورسره کوي. تاسې به په نړیوال ټیلیویزوني مناظرو کې

لیدلي وي، چې یو طرفته مسلمان عالم او بل لوري مستشرق (کافر عالم) په قرآن او حدیث کې له یو بل سره بحث او مجادله کوي.

د رښتیا او درواغو اغیزه (حدیث)

عن عبد الله بن مسعود (رضي الله عنه)، عن النَّبيّ (صلى الله عليه وسلم)، قَالَ: (إنَّ الصّدقَ يَهْدِي إِلَى البرّ، وإنَّ البر يَهدي إِلَى الجَنّة، وإنَّ الرّجُلَ لَيَصدُقُ حَتّى يُكْتَبَ عِنْدَ الله صدّيقاً، وإنَّ الكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الفُجُور، وَإنَّ الفُجُورَ يَهدِي إِلَى النَّارِ، وَإِنَّ الرّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتّى يُكْتَبَ عِنْدَ الله كَذّاباً.(

د حدیث تخریج

دا حدیث امام بخاري (رحمه الله) په خپل صحیح، کتاب الأدب، باب قوله تعالی: وکونوا مع الصادقین کې نقل کړی دي.

د صحابي لنډه پیژندنه عبد الله بن مسعود بن غافل یې نوم، ابو عبد الرحمن یې کنیه ده، د هذیل د قبیلې سره یې تړاو درلود، نو ځکه ورته الهذلي ویل کیږي، د ده مور ام عبد نومیده، او له دې امله به ورته ابن ام عبد هم ویل کیده، دی د لومړنیو مسلمانانو څخه دی، د عمر فاروق (رضي الله عنه) څخه یې هم مخکې اسلام قبول کړی دی.

د اسلام سبب یې دا وو چې نوموړي به چیلۍ څرولې، یوه ورځ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د ده څنګ ته تیریده، د ده په اجازه یې یوه وچه چیلۍ راونیوله ، هغه یې ولوشله چې شیدې په کې راپیدا شوې، د دغه منظر په لیدلو عبد الله اغیزمن شو او ایمان یې راوړ.

نوموړی به هر وخت د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره ګرځیده، د هغه مسواک، څپلۍ او د اوبو کوزه به ورسره وه، ده حبشې ته هم هجرت کړی وو، نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) ورته د جنت زیری ورکړی وو، د نوموړي ډیر فضیلتونه په حدیثو کې ذکر شوي دي، ډیر لوی عالم او په قرآن کریم پوهیدونکی صحابي وو، ډیر حدیثونه ترې هم نقل شوي دي، نوموړی د هجرت په ۳۲ کال په مدینه کې وفات شو، عثمان بن عفان (رضي الله عنه) پرې جنازه وکړه، او په بقیع کې خاورو ته وسپارل شو (رضي الله عنه.(

د حدیث ژباړه

عبد الله بن مسعود (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وینا نقل کوي چې: «رښتیا نیکۍ ته لارښوونه کوي، او نیکي د جنت لاره ښیي، یو سړی به رښتیا وایي تر دې چې د الله په وړاندې به هغه رښتیا ویونکی ولیکل شي، او درواغ د ګناه طرف ته لارښوونه کوي، او ګناه د اور لاره ښیي، یو سړی به درواغ وایي، تر دې چې د الله په وړاندې به درواغجن ولیکل شي.«

د حدیث تشریح

رښتیا هغه اخلاقي ځانګړتیا ده چې په دنیا کې پرې د انسان ټول کړه وړه تلل کیږي، هم دا رښتیا ده چې انسان ته د نورو انسانانو په منځ کې اعتماد او باور وربخښي، هم دا رښتیا ده چې انسان د ګناهونو څخه ساتي، هم دا رښتیا ده چې د انسان د مخ رڼا زیاتوي، او د بدمخۍ، بې باورۍ، بې اعتمادۍ او په ټولنه کې یې د شرم او حیا د له لاسه ورکولو څخه ساتي.

رښتیا انسان د ګناهونو څخه ساتي او د نیکیو لاره ورښیي، او درواغ انسان په ګناهونو زړور کوي، ځکه چې د خپلو ګناهونو د پټولو لپاره به له درواغو څخه ګټه پورته کوي.

هم دغه لامل دی چې الله تعالي د ایمان خاوندانو ته له تقوی څخه وروسته د رښتینو خلکو د ملګرتیا حکم کوي او ورته وایي چې: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ﴾ [التوبة : ۱۱۹]، ژباړه: «ای د ایمان خاوندانو له الله څخه ویره وکړئ او د رښتینو خلکو سره ملګري شئ»، د دې آیت څخه معلومیږي، چې یو انسان به هلته د تقوی څښتن کیږي، کله چې هغه د رښتینو خلکو ملګرتوب غوره کړي، د هغوي سره په یوه لار روان شي، د ژوند په ټولو شیبو کې د هغوی سره مل وي، او د رښتینو خلکو څخه هغه خلک هدف دي، چې هغوی د حق طرف ته دعوت او بلنه ورکوي، ځکه چې د ټولو څخه ستره رښتیا حق دی، او لوی درواغ باطل او د باطل ملګرتوب دی.

کوم خلک چې د رښتینو خلکو ملګرتوب کوي، هغه په خپله هم د دغه عالي صفت څښتن کیږي، او کوم خلک چې د درواغجنو او ناوړه خلکو په مجلس کې کښیني پاځي، د هغوی سره ملګرتوب کوي، نو هرو مرو له هغوی څخه اغیزمن کیږي، او په هغه اخلاقي مرض اخته کیږي، په کوم چې هغوی اخته وي، ځکه چې ملګرتوب هرو مرو اغیزه لري، او یو ملګری د بل څخه اغیزمن کیږي.

که یو څوک دا فکر کوي چې که زه په شخصي ژوند کې د ایمان او تقوی څښتن یم، نو د ناوړه او درواغجنو خلکو ملګرتوب، د هغوی سره

ناسته پاسته، د هغوی سره اړیکي جوړول، د هغوی افکار تائیدول به، زما تقوی ته کوم زیان وانه ړوي، نو دا هغه خیال دی چې قرآن کریم یې په دې آیت کې رد کړی دی.

په دغه ډول رښتیا هغه څه دي چې انسان ته فکري، او ذهني آرام او اطمینان وربخښي، او دروغ د هغه په زړه کي خفګان او نا آرامي پیدا کوي، کیدای شي کله د رښتیا ویلو له امله انسان ته دیو لوی زیان د رسیدلو ویره وي، او د دروغو له امله هغه ته دیوې لویې دنیوي ګټې هیله وي، خو په دواړو کې به توپیر دا وي چې د رښتیا ویلو له امله به د زیان سره د هغه ذهن او نفس مطمئن وي، د هر ډول ذهني فشار څخه به خلاص وي، او په اوچتو سترګو به د خلکو سره مخ کیږي، خو بل طرف ته که د دروغو له امله یوه دنیوي ګټه لاس ته راوړي نو د ذهني فشار سره به مخ وي، نفس به یې مطمئن نه وي، او هم به د خلکو په مخ کي ټیټې سترګی وي.

څکه خو د اسلام ستر لارښود محمد (صلی الله علیه وسلم) ویلي دي: (دَع مَا یَرِیبُکَ إِلی مَا لاَ یَرِیبُکَ؛ فإنّ الصّدقَ طُمَأنِینَةٌ، وَالکَذِبَ رِیبَةٌ)، ژباړه: «کوم شي چې تا په شک کې اچوي هغه پریږده، او هغه څه واخله چې تا په شک کې نه اچوي، څکه چې رښتیا د اطمینان، او دروغ د شک وسیله ده.»

د دې حدیث څخه په ښکاره معلومیږي چې رښتیا د انسان په زړه کې خوښي او په نفس کې اطمینان او آرام پیدا کوي، او دروغ د انسان په زړه کې شک پیدا کوي، او د نفسي فشار سره یې مخ کوي.

که مونږ په دنیا کې هغو خلکو ته وګورو چې د هغوی د ژوند ډیره برخه په رښتیا ویلو کې تیریږي، په درس تدریس، او د اسلام په دعوت او بلنه کې تیریږي، د حق په ملګرتوب او د حقپالو په مجلسونو کې تیریږي، نو هغوی د اقتصادي او مالي کمزورۍ سره هم ډیر لږ د ذهني فشار سره مخ کیږي، خو هغه خلک چې د خپل ټولنیز موقعیت له امله یا د تجارت او سوداګرۍ د راکړې ورکړې له امله دروغ وایي نو د هغوی د ذهني فشار، او د ژوند د ناآرامۍ او بې اطمینانۍ کچه ډیره لوړه وي، سره له دې چې هغوی به اقتصادي او مالي ستونزې نه لري.

څکه خو نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) په څانګړې توګه سوداګرو ته په خپله سوداګرۍ کې د رښتیا ویلو اهمیت داسې بیانوي: (البَیّعَان بالخِیَارِ مَا لَم یَتَفَرّقَا، فإنْ صَدَقا وَبیّنَا بُورِکَ لَهُمَا في بیعِهمَا، وإن کَتَمَا وَکَذَبَا مُحِقَت برکَةُ بَیعِهما)

ژباړه: «پیرودونکی او پلورونکی دواړه تر هغې چې سره جلا شوي نه وي (د سودا د مجلس تر پایه) واک لري (چې په خپله سودا کې تجدید نظر وکړي)، که دواړو رښتیا وویل او هر څه یې ښکاره کړل، نو د هغوی په سودا کې به برکت واچول شي، او که کوم عیب یې پټ کړ او دروغ یې وویل نو د سودا برکت به یې له مینځه لاړ شي.»

خرڅونکی باید د خپل مال په هکله اخیستونکي ته پوره معلومات ورکړي، که عیب او نقصان په کې وي، هغه دې ورته ووایي، تر څو هغه پرې پوهه شي، نو یا به یې واخلي یا به یې پریږدي، په دې صورت کې به الله تعالي د خرڅونکي په ګټه کې برکت واچوي او هغه به ورته د نورې نفعې لامل وګرځوي، او اخستونکی هم باید د خپلو روپو په اړه پوره معلومات ورکړي، هسې نه چې د هغه د مال په مقابل کې کوټه روپۍ ورکړي.

دا ټول هغه نصحیتونه دي چې اسلام یې خپلو پیروانو ته کوي، او د هر قسم اخلاقي مفاسدو څخه یې ساتې، څکه چې په دې سره د دوی ټولنه پیاوړې کیږي، او د اخلاقي مفاسدو له امله د دوی ټولنه له منځه ځي، او په ټولنیزو اخلاقو کې رښتیا هغه صفت دی چې د ټولنې ډیرې ستونزې پرې له منځه تللی شي، او دروغ د هغو ټولنیزو مفاسدو څخه دی چې ډیرې ستونزې ترې پیدا کیدای شي، که دیوې مسلمانې ټولنې غړي په ځان کې د رښتیاویلو صفت پیدا کړي، نو د دوی تر مینځ به ډیرې شخړې له منځه لاړې شي، تر دې چې محاکمو ته به د تللو اړتیا هم نه پیدا کیږي، او هم به د ګناهونو کچه ډیره راټیټه شي.

الله تعالي دې زمونږ د ټولنې غړو ته په رښتیاوو د خپل ژوند د سمبالولو توفیق ورکړي، او مونږ ټول دې د هر راز دروغو څخه وژغوري. آمین.

ماته کمپیوټر رانیسه!

قاري محمد شيباني

نن سبا په اکثرو دفترونو کې چې چاته معمولي منصب هم ورسيږي، نو له خپل مشر نه يې لومړی او اهمه غوښتنه دا وي، صيبه ! ماته خو يو ښه کمپيوټر رانيسه ! او ورپسې متصل بيا د ټچ ټيلفون او نور څيزونو غوښتنه کوي، خو که منصب يې لږ لوړ وي بيا د موټر غوښتنه کوي. خبره دا ده، چې همدا سي ګڼو کسانو ته لومړی د کمپيوټر او موبائل اړتيا نه وي، که چيرته ورته ضرورت هم وي، د ډېر ادنا او ارزان بيه کمپيوټر باندي يې مشکل حل کيږي، ځيني خو بيخې د کمپيوټر شاه او مخ هم نه پېژني، ولې دوی ته خو د دفتر پيسې په لاس ورځي، نو زړه يې نه پرې سويږي، ځکه خو د اوچت او د قيمت ترين کمپيوټر او موبائل غوښتنه کوي، که چيرته همدا کسان له خپل شخصي جيب څخه مصرف کوي، بيا که هر څومره مالداره وي، په ډېر ارزانه او استعمالي کمپيوټر باندي ګزاره کوي، خو چې خبره دفتر ته شي يا په بل تعبير بيت المال ته شي بيا د نوې او اوچت ماډل کمپيوټر او موبائل غوښتنه کوي. که له ما سره موافق نه ياست بيا صرف د څو دقيقو لپاره د ځينو کسانو په اړه سوچ وکړئ، چې له تقرر څخه مخکې يې څه قسم وسائل درلودو او اوس څرنګه وسائل لري؟

په همدا سي توګه همدا سي کسان چې کله د خپل شخصي کار لپاره چيرته لاړشي، نو د ډوډۍ وخت خامخا د کوم ملګري اودوست کور ته رسوي او هلته ډوډۍ خوري، که چيرته ورته په بازار کې اړشي، نو په ډېر ادنا څيز، د پښوريانو په اصطلاح په چولو (کلول) ګزاره کوي، له خپل جيب نه د زيات مصرف هڅه نه کوي، خو که همدا کس بيا د دفتر په پيسو واک پيدا کړي او بازار ته د څه کار لپاره لاړ شي، نو بيا يې د چرګ په کړايي هم ګزاره نه کيږي، بلکې د پسه کړايي به خوري، او دوه درې ساعته د کړايې په پخولو او خوړلو قرباني کوي.

ځيني کسان له چا سره د يو کمپيوټر يا بل څه وعده وکړي چې درته اخلم به يې، ولي وروسته په خپله وعده پښېمانه شي، ځکه هغه ورته کمي پيسې له زړه ويستلې وي، ولي مقابل لوری د اوچت او قيمتي کمپيوټر غوښتنه کوي.

او ځيني وخت داسې هم پيښه شوي چې دضرورت وړ عراده خولري ، خو دفروبکس اوفيلډر ، هوس يې هم په سترګوکې هروخت ګرځي راګرځي اومدام په دې سوچ کې وي که داتشه يې هم ژر ډکه شي.

همدا سي کسان بايد د يو بام او دوه هواوي، عملي مصداق ونه ګرځي، خپل جيب او د دفتر جيب، خپل ضرورت او د دفتر ضرورت ته د پخواني مشرانو او عالمانو په څير په يوه سترګه وګوري، تر څو له يو لوري ځان له اسراف او په عين حال کې له داسي ګناه څخه وژغوري چې بظاهر په سترګو نه ليدله کيږي، خو حقيقت کې ستره ګناه او خيانت دی او له بل لوري څخه د بې ځايه مصارف په مټ په خپل دفتر د رکود او جمود لوري ته سوق نکړي، کنه بيا دا شته تنخوا او کار به هم بيا له لاسه ورکړي، موږ بايد د خپل جيب په مصرف ميړنې او د بيت المال په مصرف محتاط او سلامي اووسيږو او داسي معامله ورسره وکړو لکه څرنګه چې د يتيم له مال سره کيږي. عاميانه او جاهلانه اصطلاح نه ښيم چې د يتيم په مال لوټ او تالان جوړ شي، بلکې قرآني اصطلاح يادوم چې د يتيم مال د مال ښه ساتنه دي وشي. او د وَمَن كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَن كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ مصداق دي ځان وګرځوي.

گلشونه

د تیښتې غزل

حبیب الرحمن دانش

دغزامیدان موتل نیولی زوک دی
دشملې سیوری مې ستا په مانۍ جګ دی

نوردې ژوند هم دشکست په مورو کوتم دی
په تمام جهان دی خور د تیښتې غږ دی

په شریرځواک دې راکړه بوربوکی ده
غلیمګیه خولې دې یانیولی زک دی

عمري کوزاردې توره ژامه کریک کړه
داجل نیردې غوځ کړی مغروررک دی

لاس په لاس به یې در ورم ترکابل جانه
سپین بیرغ مې په توحید جوړکړی برګ دی

که دژوندتولې خوښی دانش ترې زارکړې
یا مې هم د حق جهاد پر لاره تګ دی

غزل

پیر محمد کاروان

داچې مخ یې په غبار باندې سپېره دی
ده ستاتلی دهندارو غوندې زړه دی

په ګلونو باندې رنګ او خوشبو ویشي
په اغزیو کې روان لکه اوبه دی

خود به ستوري دالهام په خوب کې ګوري
چې سر ویږدی یې ګردی کاڼی دغره دی

لوند په اوښکو لکه ستا دباڼو ګانو
سور په وینو دجمدر غوندې خونه دی

چې له تورو بلاګانو یې ډار نشته
ستادستر ګو خواته ناست لکه رانجه دی

بدر ګه به تر غروبه در سره وي
ستر ګې وغړوه څر ک دلمر خاته دی

چې شي ستړی بیا به ستا پر اوږه کیني
د ارمان په دنګ اسمان کې یو مارغه دی

خوبولي په زړه ولې چې راویښ شي
د کاروان غزل تر غشي هم تیره دی

حماسه

حاجي محمد اواب

دوی لښکر او زه تنها یم په دې جنګ کې
هیبتناک لکه بیدیا یم په دې جنګ کې

پاکو مه درست بشر له دې مرضه
غلیم پیس او زه عیسی یم په دې جنګ کې

نن چې خیږم په سینو دیر غلګرو
دمیوند ددښت هوا یم په دې جنګ کې

د ظالم په غاړه تاو لکه زینده یم
د مظلوم ملت ښیرا یم په دې جنګ کې

د امت تېږې حریت ته ملا اوابه !
پټې ږدمه او لګیا یم په دې جنګ کې

انتخابات نیست . . .

حمید حقیقی

انتخابات نیست جز لهو ولعب
پول ستانی بهر شادی وطرب
نامزادان از برای جلب وجذب
هر یکی رامیکند رقص گلب
وعده های چرب مردم را دهد
همچو دریوزه بزاری ولقب
از سرکسازی ودانشگاه وپل
تا فرودگاه و طیاره لاف لب
لاف از ابادی و تعمیر و تخت
هم زآزادی زند این بی ادب
همچو میمون رقص بهر جاه کند
راه هموار میکند بهر لعب
از همه مزدور تر مزدور غرب
لاف آزادی زند ای بوالعجب
پول وثروت میدهد بهر مرام
دزد دخل و موش کند و روز وشب
هم برای خوردن خون یتیم
این چنین ها میزنند دهل طرب
بهر کسب اعتماد شرق و غرب
هم برای لقمه ای چرب غضب
هم برای شیوه ای عیش و فساد
میفروشند خاک وایمان ونسب
روبه و میمون و گرگس گرگ وسگ
آمده اند گرد هم چون منجلب
آمده برخطه ما اضطراب
اضطراب و انقلاب منقلب
قلب اقلیم مسلمان را رسید
تیر ظلم یاسدار منتخب
منتخب کی انتخاب از کی وکو ؟؟؟
دزدی چندی گرد هم دارند شب
ای حقیقی باش درفکر وطن !
از ره دجال ناید دین رب
دزد کی آباد دارد ملتی
سوی ملت می زند سنگ وخشب
دختران را ساخته میل ملل
عفت وعزت ربود از چشم ولب

مجاهده !

طالب العلم نصرت زرمتی

قد نښتر، مخ دې ريحان دی مجاهده
رعب دې خپور په ټول جهان دی مجاهده

ستا محکمه اراده او متين عزم
هوډ دې لوړ لکه آسمان دی مجاهده

لکه سترګې او بانه د پاکې مينې
شان دې دومره راته ګران دی مجاهده

د جنت سينګار او حسن ښکلا واړه
په څېره کې دې عيان دی مجاهده

په ښايست او په پرتم کې دې سيال نه دی
که دلبر او که جانان دی مجاهده

بدرګه دې د تکبير په ښه هنر کړې
که دره که بيابان دی مجاهده

دا کمال د نصرت نه ښکلا دستاده
خوږ غزل که يې داستان دی مجاهده

می شود افغانها ها را خرید؟

ح - یوسفزی

به روز سه شنبه مورخ ۴ فبروری نشریه فارن پالیسی مقاله ای تحت عنوان ده اشتباه عمده جنگ آمریکا در افغانستان به نشر رسانید که متعاقبا توسط یکی از شبکه های آمریکایی به زبان دری برگردانید شد.

نویسنده این مقاله، استیفن ام. والت، به نظر خویش ده مشکل عمده اشغال آمریکایی بر افغانستان را می شمارد. مگر عمده ترین اشتباهی را که آمریکا در اشغال افغانستان مرتکب شده است فراموش کرده و یا نادیده می گیرد.

به نظر والت وارد شدن تنها در جنگ بدون مشوره ناتو، هماهنگی ضعیف اشغالگران با مزدوران در جریان جنگ توره بوره، تدوین قانون اساسی !و ایجاد به اصطلاح دولت مرکزی در کابل در سال ۲۰۰۴ میلادی، حمله بر عراق، تصمیم افزایش نیروهای اشغالگران توسط بارک اوباما در سال ۲۰۰۹، تعیین محدودیت زمانی برای خروج این نیروها، دست کم گرفتن مجاهدین توسط آمریکا، از دست دادن حمایت جنگ در کشور خود، ناکامی در مدیریت متحدان سرکش و بالاخره استراتژی ضد و نقیض آمریکا باعث ناکامی آن در جنگ افغانستان شد.

والت این اسباب را می شمارد مگر فراموش می کند که بزرگترین اشتباه آمریکا در اشغال افغانستان نادیده گرفتن تاریخ افغانستان و نیاموختن درس عبرت از شکست های پی هم اشغالگران در این کشور بوده است، چنانچه عدم اعتنا به مشوره جنرالان روسی که دو دهه قبل لذت این شکست را چشیده بودند نیز می توانست باعث دیگر مگر جزئی در شکست آمریکا بوده باشد.

آمریکا با نیروی نظامی و تکنولوژی پیشرفته گمان کرد که تاریخ تکرار نمی گردد و افغان ها نیز نخواهند توانست یاد اجداد خود را تازه نمایند و یا این که آمریکا در جمع و تفریق نتایج جنگ اشتباه بزرگی را مرتکب شود و بالاخره به یقین بداند که تاریخ به خصوص در افغانستان تکرار می گردد و هیچ متجاوز و اشغالگر، اگرچه تا به دندان مسلح بوده و از حمایت یک مشت خود فروختگان نیز برخوردار باشد نمی تواند سطور رقم زده شده تاریخ این کشور را تغییر دهد.

اگرچه سناتور آمریکایی در آغاز جنگ گفت که می توان افغانها را به کرایه گرفت اما مشکل است آنان را خرید مگر... آمریکا را چنان کور و غافل کرده بود که گمان می کرد با خریداری چند تن همه افغا ها را غلام های زر خرید خود گردانیده است و شاید هم در خفا بر این سخن سناتور خود می خندید و شاید هم سناتور خودرا به چالش نیز گرفته بودند تا ثابت خواهند ساخت که می توان افغانها را خرید...

والت در مقاله خود دست کم گیری افغانها را نیز سبب شکست آمریکا خوانده است مگر فراموش کرده است که آمریکا همه مردم افغانستان را دست کم گرفت، روزی نگذشت مگر اینکه بر خانه ای یورش برد، نه محفل شادی را در امن گذاشت و نه نماز جنازه و محفل دعا و فاتحه را، نه محاسن سفیدان را بدون درندگی گذاشت و

نه بر زنان و کودکان رحم کرد ، بلکه بر همه را یکسان تاخت و آنان را درید ، نه تنها این بلکه گاهی بردگان خودرا نیز بمباردمان های دوستانه کرد و صدها تن از آنان را مکافات داد. کرزی و دوستان وی که به ایمان به مصالح و منافع آمریکا حلف خورده بودند مجبور شدند تا با دیدن لحد سنگ دهن باز کنند و تلاش نافرجام کنند تا لجام گسیخته بادار خود را به دست گیرند.

به نظر والت از دست دادن حمایت مردمی نیز باعث شکست آمریکا گردید مگر وی فراموش کرده است که آمریکا بعد از شکست حمایت مردمی را از دست داد ورنه زمانی که آمریکا مرتکب بدترین و فجیع ترین نقض حقوق بشر می گردید ، آنگاه که بمب های ۷۰۰۰ پاوندی را بر مردم بیچاره و بی دفاع افغانستان می ریختاند ، آنگاه که آنان را همچو حیوانات جنگل های آفریقا با کلستر بمب ها شکار می کرد ، آنگاه که قریه ای را با افراد آن یکجا به خاک و خون یکسان کرد ، آنگاه که محفل عروسی را بمبارد کرده بشمول شاه و عروس یکی را نیز زنده نگذاشت و به این صورت بر قریه و قصبات و ولسوالی ها و شهرها پیشرفت کرد ، آنگاه مردم آمریکا به این پیروزی های ظاهری عساکر خود می بالیدند و کف می زدند و به افتخار آن می رقصیدند ، بلکه پیلوت شان می گفت که با خاک و خون دیدن مردم بعد از فشار دکمه پرتاب بمب احساس راحت کرده و لذت می برد ، آنگاه حمایت آنان کاملا با حکومت و عساکر بود ، مگر وقتی حکایت بر عقب گشت، طیاره های مملو از تابوت ها پی هم در فرودگاه های آمریکایی نشست کردند ، آنگاه که هزاران آمریکا برگشتند کسی دستش را از دست داده بود ، کسی پایش را و کسی عضو دیگر بدنش را ، آنگاه که دیوانه خانه های شان مملو از برگشتگان جنگ افغانستان گردید ، آنگاه که برگشتگان، چون به آشامیدن خون بی گناهان عادت کرده بودند ، آغاز به کشتن اطفال و اعضای خانواده خود کردند ، آنگاه بود که پرده تاریک و سیاه تعصب و جاهلیت قرن بیست یکم به نام دموکراسی و حقوق بشر از چشمان مردم آمریکا دور شد و متوجه شدند که اشتباه بزرگی را مرتکب شدند سپس به کوچه ها بر آمده و شعار برگشت درندگان خود را سر دادند بلکه اکنون نیز عده ای از آنان مصمم بر ادامه این جنایت اند.

پس بدین گونه آشکار شد که این حمایت بعد از شکست و فروپاشی از دست داده شد نه قبل از آن و به همین شکل اگر اسباب شکستی را که والت ذکر کرده است یک به یک به خوانش گیریم در می یابیم که اصل حقیقت همانا نادیده گرفتن تاریخ افغانستان است و اسباب ذکر شده در نوشتار والت همه جزئی بوده و بعد از شکست رونما گردید که در اصل قضیه تاثیر گذار نبوده و یا تاثیر به سزایی نداشته است.

آیا غواړې دښمن دې و ژاړې؟

د ابن ماجه په یو حدیث شریف کې له حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې: کله چې یو انسان د تلاوت د سجدې کوم آیت ولولي او بیا سجده وکړي، نو شیطان یو طرف ته کېني، ژاړي و وایې،ای زما هلاکته!

د ادم بچیانو ته چې د سجدې امر وکړی شو نو هغوی سجده وکړه، نو هغوی ته به جنت وي، ماته چې د سجدې امر وشو او ما انکار وکړ نو ماته دوزخ دی.
اللهم لا تزغ قلوبنا بعد ما هدیتنا...
اللهم یامقلب القلوب ثبت قلبي علی دینك
واللهم صلي وسلم علی حبیبي رسول الله

داسلام جنګي اصول

<<<<< حامد >>>>>

داسلام سپېڅلي دين دژوندانه ټولو برخو او څانګو په اړه لارښوونې لري، دژوند دهرې برخې او څانګې په باره کې يې ځانګړي احکام، اداب او اخلاق تعين اوښودلي دي، جهاد او جنګ هم داسلام په لويو څانګو کې يوه عظيم الشانه برخه ګرځول شوې چې په اړه يې اسلامي شريعت دښې جامعې لارښوونې ، حکمونه ، اصول او مقررات ټاکلي اوبيا دهغو رعايتول اوپه عمل کې پلي کول يې په مسلمانانو او په تيره په مجاهدينو وجب اولازم ګرځولي، له دې وجې هغه څوک چې دمجهادنيو د ورې يا کو چنۍ ډلې مشرې په غاړه لري هغوئ شرعاً په دې مکلف دي چې داسلامي شريعت ټاکلي مقررات او حکمونه هم پخپل ځان عملي کړي او هم يې تر لاس لاندې مجاهدينو باندې پلي کړي ،ولې داسلامي حکمونو او اصولو پايمالول په مجموع کې بيرته دمجاهدينو دناکامۍ ، ستونزو او دالله (جل جلاله) دناراضايت سبب ګرځي.

دنړۍ په نورو اديانو او قومونو کې هم دجنګ په اړه بېلا بېلې لارښوونې او مقررات شتون لري، خو داسلام سره يې توپير دادی چې هغوئ دامن حالت لپاره جلا اصول او دجنګ حالت په اړه جلا لايحې ټاکلي دي، دامن په حالت کې دهر قوم په لارښوونو کې دامن ، محبت او ورورولۍ پيغام ليدل کېږي، خو دجنګ په حالت کې دهغوئ په لارښوونو کې دامن، محبت او ورورلۍ پيغام نه تر ستر ګو کېږي ، يواځې اسلام هغه دين اونظام دی چې له نيکه مرغه دامن او جنګ دواړو په حالت کې دامن، محبت او ورور ولۍ پيغام لري، دجنګ په ګر مو شيبو او د وينو د ډکو لښتيو په مينځ کې له ځان سره هم دمحبت رحم ، عاطفې او ورورولۍ پيغام ليږدوي، دسوبې اوبرې پر مهال دمفتوح قوم سره دغوره انسانې او اخلاقي روې تلقين کوي

هو! دنړۍ دنورو قومونو دفاتحو ځواکونو رويه د خپل مفتوح لوري سره ډېره ناوړه اوظالمانه وي، هغوئ دخپل وحشت اوبرياوو په نشه کې دومره مست وي چې دمفتوح لوري سره هيڅکله نرمه او انساني رويه نه کوي، دهغوئ ديني او ملي ارزښتونه پايمالوي دمفتوح لوري په پټ او ابرو دتيري جسارتونه کوي، ماشومان لويان ، کمزورې اوبې وزلان ټول ی مخ تر تيغه تيروي

که څه دا هر څه دجګړې ډګر کې پوځيان کوي ، خو دهغوئ تر شاه د تهذيب او کلتورمفکوره کارې رول لري، د کوم لپاره چې هغوئ جنګيږي ، په حقيقت کې جنګيالي ظلمونه او جنايتونه د خپل کلتور او دين داصولو په نامه کوي، کوم چې ور ته دمذهبي پيشوايانو لخوا ښودل شوي، ورته دماشومانو وژل دميرمنو بې عفته کول دسپين ږيرو وژل ثواب ښکاري، خو اسلام ددې ټولو برعکس دجنګ په ډګر کې هم په کلکه داخلاقي ارزښتونو په احترام او رعايتولو ټينګارلري خپل جنګي اصول يې دانسانيت دبقا او دفاع په معيار غوره اوجوړ کړي، دامن له حالت نه علاوه دجنګ حالت چې دجذبې او انتقام اخستلو وخت دی دمسلمانانو رويه به تغير نه لري.

درسول الله (صلی الله علیه وسلم) له بعثت څخه وړاندې نړۍ ځنګل ته ورته وه، په ظاهره به جنګ دانسانانو ترمنځ وو، خو په عمل کې به دانسانيت ښه او څرک هم نه تر ستر ګو کيده، جنګ کې چا داخلاقو او عاطفې رعاتيولو تصور نه کاوه، کله چې اسلام راغی ورسره دجنګ په معيارونو او اصولو کې هم تغير راغی، اسلام په مکه مکرمه کې داوږده ځنې اوزغم او مدينې منورې ته دهجرت وروسته مجبوراً کله دجنګ ډګر ته ددانګلو پرېکړه وکړه نو په پوره توګه داخلاقي او انساني معيارونو درعايتولو حکم وکړ، ګورئ! په دښمن دغلبې موندلو لپاره دحرامو اوحلالو حدودو نه پايملوئ، په يو لاس کې توره ونيسئ په بل کې دالله کتاب (قرآن) ونيسئ ،څو دجنګ په منځ کې ددواړو ترمنځ ربط او تعلق قايم پاته وي، په اسلام کې دجنګي اصولو ښه

خلاصه په دې لاندې فرمان کې په بشپړ ډول ځای شوی، کوم چې داسلام لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) دخپل خلافت په لومړیو شیبو کې د لومړي لښکر لیږلو پرمهال خپل لومړي سرلښکر حضرت اسامه (رضي الله عنه) ته فرمایلی:

۱- دقتل وروسته ددښمن لاشونه مثله نکړئ!

۲- کوچنیان او بوډاګان چې دجګړې توان نه لري نه به قتلوئ، په ښځو هم کار مه لرئ!

۳-فصلونه اوبڼونه تلف نکړئ!

۴- دتګ راتګ لارې مه نړوئ!

۵- ونه لرونکې ونې قطع نکړئ، دومره څاروي ذبحه کوئ چې دهغو غوښه تاسي ته کفایت کوي زیات څاروي مه ضایع کوئ

۶- په عبادت ځایونو کې په عبادت لګیا خلکو کار مه لرئ، هغوئ پخپل کار لګیا پرېږدئ!

دا حقایق ددې ښوونه کوي چې دجنګ په اړه اسلامي حکمونه او اصول نازک اومحتاطانه دي ولې چې دجهاد غرض یوائې اویوائې دالله (جل جلاله) رضا حاصلول دي، دجهاد غرض وینه تویول نه دي، اسلام په کلکه د جنګ ډګر کې پخپلو اصولو دعمل غوښتنه کوي، دمسلمانانو فاتحینو سوبې اوبریاوې دیوه خدای (جل جلاله) درضا ترلاسه کولو لپاره وي، دمسلمانانو ډله به دفتحې وروسته داسي کارونو ته لاس نه اچوي چې په هغو تري خدای (جل جلاله) ناراض شي ،بلکې دمسلمانانو فاتحه ډله به دفتحې وروسته داسي کارونه کوي چې په هغو تري الله (جل جلاله) خو شالیږي ،دهغه درضا اوخوښۍ سبب ګرځي، عظیم الشان قرآن کې ددغه ډول فاتحانو باره کې الله (جل جلاله) فرمایلي:

داهغه خلک دي چې کله مونږ ورته په ځمکه واک ور کړو، هغوئ لمونځونه قایموي، زکاتونه ور کوي، اوپه نیکۍ کولو حکم کوي، او له بدو څخه منع کول کوي (الحج ۴۱ایت)

دا هغه حدود او اصول دي چې دمسلمانانو فاتحینو لپاره ټاکل شوي، چې هغوئ به دبشریت دفلاح چارې پرمخ بیایي، عدالت به پلی کوي، دحقوقو اوفرایضو په سرته رسولو کې به مخلصان وي، دخیر او شر ترمنځ به توپیر کوي.

نړۍ کې دمسلمانانو ترڅنګ دنورو ادیانو کتابونه هم شتون لري، په هغو کې دځینو ښو اصولو دشتون سربېره هغوئ دعمل او کردار له پلوه دجنګ په ډګر کې ظالمان او وحشیان دي، او ډېر بد نوم لري ددې برعکس په جنګ کې دمسلمانانو کردار تل شاندار او دبشریت دنجات ضامن شوی، نړۍ کې دمسلمانانو دواکمنۍ د زرکلن دور له برمه ډک تاریخ شاهد دی چې مسلمانو فاتحینو دجنګ په میدان کې تل اسلامي اصول او اخلاق رعایت کړي، هیڅکله یې له هغو څخه سرغړونه نه ده کړې، ولې اسلام دجنګ جواز یوائې د"اعلاء کلمة الحق" لپاره ورکړی، دوطنونو او ښارونو اشغال او لاندې کول یې غرض ندی، اسلام چې دامن په حالت کې کوم امور جایز او روا ګرځولي دجنګ په حالت کې یې هم هغه هغه جایز ګرځولي اودامن په حالت کې چې څه ناجایز ګرځولي دجنګ په حالت کې هم هغه ناجایز ګڼې، اسلام مسلمانو فاتحینو ته اجازه نه ورکوي چې ددوئ دلښکر دتګ په مخ کې پراته کلي اوښارونه ړنګ کړي، یا هلته دمیشتو انسانانو سره ناوړه چلند اوبده رویه وکړي، یا دمجاهد زړه چې هر څه غواړي هغه وکړي اوتري څوک دپوښتنې حق نه لري، عظیم الشان قرآن یوائې دجنګیدونکو سره دجنګ حکم کړی دی، یوائې دهغو خلکو د کورونو دویستو حکم یې کړی دی چې هغوئ مسلمانان له کورونو ویستلي، الله جل جلاله فرمایلي:

یوائې دالله (جل جلاله) په لاره کې تاسي دهغه جنګ کوونکو سره وجنګیږئ، چې له تاسي جنګیږي، ګورئ زیاتی مه کوئ، ولې چې الله (جل جلاله) زیاتي کوونکي نه خوښوي،

نو حتمي ده چې مسلمان جنګیالی اسلامي مقرراتوته پام وکړي ځکه تري دتخلف په صورت کې هغه اسلامي مجاهد نه پاتې کېږي



سوانح مختصر مولوی صاحب عبدالرقیب شهید

الحاج مولوی صاحب عبدالرقیب فرزند مولانا مخدوم عبدالباری روز جمعة المبارک سال ۱۳۴۵ ه ش در یک خانواده علمی درولایت تخار ولسوالی کلگفان چشم بدنیا گشود ، تعلیمات ابتدائی خود را در مدرسه ابتدائی محلی قریه زردالو دره سفلی ولسوالی کلفگان ولایت تخار فرا گرفت .

و در سال ۱۳۶۱ ه ش بخاطر فراگیری علوم دینی کوه های سر بفلک هندوکش و چترال را عبور کرده براه پشاور وارد مدرسه احیاء العلوم ضلع سوات شد تا درجه ششم از استادان بزرگوار آن مدرسه هریک شیخ الحدیث قاری صاحب حبیب الله ، شیخ صاحب محمد زکریا و مولوی صاحب عبدالخالق ادامه داد .

از سال ۱۳۶۵ هـ ش تا آغاز تحریک طالبان مسؤلیت فرهنگی جمعیت طلبه اهل سنت و الجماعة ولایت تخار را بدوش داشت .

بعدا برای تحصیلات عالی در مدرسه دار العلوم حقانیه اکوره ختک داخله نمود ، از درجه شش تا موقوف علیه رادرین مرکز علمی از شیوخ کرام حقانیه فرا گرفت .

در ایام تعطیلات تکرارا تفسیر و ترجمه قرانکریم را از شیخ قاضی فضل الله صاحب فرا گرفت در ضمن درس طلباء آسیای میانه در دارالعلوم حقانیه داخله داشتند چونکه بزبان پشتو و اردو آشنائی نداشتند بمشوره و حکم منتظمین دارالعلوم تدریس میکرد و درجه موقوف علیه را در مدرسه ضیاء المدارس در نزد شیخ الحدیث آخندزاده صاحب محمد نعیم رحمه الله خواند و دوره حدیث را یکمرتبه در دوران وزیر بودنش در کابل در مسجد پل خشتی در پیش شیخ الحدیث محمد نعیم آخندزاده رحمة الله بهره مند شد و بعد از اینکه صلیبی ها به همکاری اجیران و مزدوران خود افغانستان را تحت اشغال قرار داد بار دیگر به کشور همسایه پاکستان هجرت نمود و مرتبه دوم دوره حدیث شریف را در دار العلوم فاروقیه حیات آباد پشاور در نزد شیخ الحدیث عبدالحق صاحب کوهستانی خواند .

فعالیت جهادی اش

شخصیت جهادی و مبارز برای تطبیق شریعت محمدی همرای مجاهدین مخلص به رهبری جلالتمآب

امیر المؤمنین جناب ملا محمد عمر مجاهد حفظه الله تعالی بنام تحریک طالبان به فعالیت آغاز نمود .

مرحوم حاجی صاحب در سال ۱۳۷۲ با جمع از دوستان طلبه تخار راهی قندهار شده با مجاهدین پیوست و با مولوی صاحب احسان الله شهید در فتح غزنی ، میدان شهر و خوست هم سفر بود .

بالآخره بعد از فتح کابل از طرف مقام رهبری امارت اسلامی بحیث وزیر شهداء و مهاجرین تعین شد و تا اشغال صلیبی ها فرائض وزارت را بعهده داشت .

قبل از وزارت و بعد از وزارت چندین سفر سیاسی رسمی به کشور های عربستان سعودی ، ازبکستان ، دوبی ، سویس و ایالات متحده آمریکا کرده است و همین سال ۱۳۹۲ هش جهت ادای فریضه حج و عمره ازطریق دبی عازم عربستان سعودی شد و ضمنا با مسلمان های مظلوم سوریه دیدن نمود .

بعداز اشغال صلیبی هادرنقاط مختلف کشور در سلسله فعالیت های جهادی و سیاسی ده ها تن از قهرمانان فدائی مجاهدین را به مراکز مختلف خارجی ها اعزام نمود و لله الحمد فدائیان به هدف رسیدند و صد ها اشغالگران خارجی را هلاک و روانه جهنم نمودند .

از سه سال به این طرف در مدرسه منبع العلوم کتب حدیث، فقهه و فنون دیگر را تدریس میکرد .

از جمله شهکاری های حاجی صاحب همین است که ده ها یتیم و بی سرپرست و بی بضاعت را سرپرستی میکرد.

جناب الحاج مولوی عبدالرقیب شهید شخصیت علمی ، جهادی و نهایت زیرک اهل مطالعه وارث علوم حضرت شیخ ولی الله محدث دهلوی رح بود، در میدان علم یک استاد محقق و مدقق و حافظ هدایه و هجة الله البالغه بود در علوم دینی و عصری فهم عالی و ید طولی داشت مرحوم آخندزاده شیخ محمد نعیم به عمق مطالعه و معلومات وی افتخار میکرد و به زبان عربی فصیح صحبت کرده میتوانیست .

چنانچه در دورانیکه در دار العلوم حقانیه زیر تعلیم بود بفرمائش مسؤلین دار العلوم حقانیه به طلباء آسیای میانه درس میداد و در ضمن درس ها نظریه جهادی ، اخلاقی ، اجتماعی ، سیاسی و طرز خلافت اسلامی را ارایه میفرمود ، شاگردان مرحوم شهید در میدان جهاد دشمنان اسلام را لرزه براندام ساخته است.

بالآخر آن پیکر اخلاق ، سخاوت و شجاعت به اثر یک حمله قاتلانه در موقعیت ناصر باغ حین که از مدرسه منبع العلوم از تدریس فارغ شده بیرون میشود به تاریخ ۲۸ دلو ۱۳۹۲ مطابق ۱۷ فروری ۲۰۱۴ میلادی توسط افراد نا معلوم به شهادت رسید . انا لله وانا الیه راجعون

از جمله همراهان و همسفران حاجی صاحب مرحوم که قبلاجام شهادت را نوشیده اند مولوی صاحب عبدالحق ، قاری صاحب عبدالحلیم ، مولوی صاحب عبدالغفار ، قاری صاحب محمد عثمان ، حاجی صاحب عبدالعزیز و قاری صاحب نورالحق میباشند .

متأسفانه چنین شخصیت علمی ، سیاسی ، قهرمان ، نادر الوجود و جبل استقامت از طرف اشغالگران مکار و غلامان احمق شان به شهادت رسید . انا لله وانا الیه راجعون .

جمیل میړنی

دحوت د ۳ پاڅون او کابل ښاریانو اتلولی !

کابو ۳۵ کاله وړاندې د ۱۲۵۸ کال د حوت په ۳ نیټه یعنې د شوروي یرغل نه ۲ میاشتې ورسته د کابل متدی نو او مجاهدو پرګنو د خپل پراخ او له قربانیو ډک قیام په ترڅ کې په ثبوت ورسوله ، چې رښتیني افغانان که هغه په ښارونو او یا اطرافو کې استوګن دی هیڅکله د خارجي یرغل په مقابل کې سرونه نه ټیټوي.

د حوت د ۳ نیټې خودجوشه او سپیڅلي پاڅون چې تش لاسو کابل ښاریانو د هغه وخت د سپرپاور مادي قوت او لوی طاغوت په وړاندې ترسره کړ، د هیواد په تاریخ کې د کابل ښاریانو لپاره له حماسو او اتلولیو نه ډکه ورځ ده.

نوموړی ولسي قیام په داسې شرایطو کې ترسره شو چې د ببرک کارمل اجیررژیم تازه دواک په ګدی ناست وو او په خپل شیطاني وینااو او غولوونکو شعارونو یې د ترکي او امین په دورو لدې امله بداورد ویل شروع کړي وو چې هغوی د ولس په مقابل کې له وحشت او استبداد نه کار اخیستی وو ،د کارمل مهمه هڅه دا وه چې د شوروي په یرغل پرده واچوي او شتون یې د افغانستان د پرمختګ لپاره ضروري وګڼي.

خو د کابل ویښو او مومنو ښاریانو د کارمل له فریب کاري ډیري ژر ښه د سرتاسري پاڅون او خوځښت په ترسره کولو توره پرده لیري او د ایې ورته ښکاره کړه چې افغان ولس به هیڅیري هم د بهرني تجاوز په وړاندې په ارام کیننې او نه به یې هم کفري فلسفې ته د تسلیمي سرټیټ کړي.

د ببرک رژیم او روسانو د خپل هر ډول وحشت په کارولو سره کلکې هلې ځلې وکړي ، ترڅو د ولسي قیام مخه ونیسي او د ا حقیقت پټ کړي چې د کابل په ښارکې هم د یرغل په مقابل کې ولسي مخالفت دومره ستر او پراخ دی چې له هر کور او هرې کوڅې څخه د ملکوتي نارو زوږ را وځي او د سرو په نذرانو خپله کرکه او بیزاري له کمونیزم او د هغو له اجیرانو څخه په ډاګه کوي.

کابل ښاریانو چې یو خودجوشه او صرف په ایماني غرور او جذبه ولاړ قیام وو په روسي ټانګونو پسې یې ډبرې اخستې وي او له هرلوربه یې ورویشتلي ، تردې چې د کابل ښار په څو برخو کې ګڼي دولتي او پوځي ودانی او تاسیسات دیو وخت لپاره په خپله ولکه کې اخستې وي.

ویل کیږي چې د حوت د ۳ نیټې په قیام کې چې دری ورځې په مسلسل ډول روان وو ، نیږدې ۵ زره تنه کابل ښاریان د شوروي لښکرو او کمونیست رژیم له لوري په ډیرې بې رحمی شهیدان شول ،په زرګونو تنه زندانو ته واچول شول او په زرهاوو تر اوسه تری تم دي.

که څه هم د حوت د ۳ نیټې له پاڅون څخه کابو ۳۵ کاله وتلي دي ، ولې لاهم د کابل ښاریانو په اذهانو کې هغه خاطرې او حماسې ژوندی او نه هیریدونکې دي.

د محمد فاضل په نامه یوه تن کابل ښاري دوخت خبري اژانس ته په خبرو کې ویلي : د حوت په دریمه ورځ ټول خلک د شوروي اشغال په مقابل کې په جوش او جذبه له بیل ، تبر ، خنجرونو او نورو دودیزو وسلو او جنګې وسایلو سره د کابل لاروکوڅو ته راوتلي وو ، خلقیانو او پرچمیانو د خپلو کورونو په بامونو مورچې نیولې وي او هرچا به چې د تکبیر ناره پورته کوله له بامونو به یې ښه ګزځول او شهیدانول به

يې ، چې هغه صحنه نو موږي ته ډېره ترخه او هيڅکله يې له ذهنه نه ووځي ! !

اوس که څه هم د حوت د ۳ نيټې له تاريخي پاڅون او قربانيو څخه دري نيمې لسيزې تيرې شوې او شوروي اتحاد او کمونيستي اجيران يې د خپلو جنايتونو ترخه ځکلي او د نړۍ په مخ وجود نلري ، خو د افغان مجاهد ولس د ميړاني او حماسو تسلسل هماغسې ګرم او پرجوشه روان دي او افغانان له څه باندې يوې لسيزې راهيسې د دفن شوي شوروي طاغوت له لوی رقيب امريکا او ناټو له يرغلګرو لښکرو سره په جهاد او مقابله بوخت دي او که الله تعالی ته منظوره وي امريکايي استعمارېي هم د خپل رقيب برخليک ته وررسولی دی.

د افغانستان اتل ولس که پرون د روس د ۲۷ ميګ بم غورځونکو الوتکو په مقابل کې هغسې الوتکې او دفاعي ځواک نه درلو اوس يې د ۵۲ او ډرون امريکايي الوتکو په مقابل کې هم مقايسوي جنګي وسلې او تجهيزات نلري ؛خو کوم عزم او پخې ارادې چې د شوروي يولک او شل زره لښکري ماتي او نابودي کړي اوس هم دغه عزم او ارادي امريکا سره له ۴۷ مجهزو او پرمختللو هيوادونو سره چې يونيم لک خارجي او ۴ لک داخلي قواوي ورسره مل دي د متعال رب په لوی نصرت د غم او تيښتې په درشل درولي او په دې لټه کې دي چې په کومه لار او پلمه خپل بګيل شوي او بيم زده عسکر له افغانستان څخه وباسي.

الله تعالی دې د حوت د ۳ نيټې د معصومو قربانيو او د روان اشغال په وړاندې د پاکو او مقدسو سربښندنو په برکت بهرني بلوسګر او د هغوی تاليځتي د تل لپاره له خپلو شوموا هدافو سره نابود او شرمنده وګرځوي او الله تعالی افغانانو ته دا ځواک ورپه برخه کې چې په خپلو مټو ديوه سوچه اسلامي نظام په پلوشو کې ژوند وکړي او د ارام ساه واخلي. امين

زعفران؛ د هر مرض دوا

زعفران د اقتصادي ارزښت له مخې په نړۍ کې د لوړ قيمت لرونکو کرنيزو محصولاتو له ډلې شمېرل کېږي چې؛ د نورو محصولاتو په شان په کيلو ګرام او ټنونو نه پلورل کېږي، بلکې په ګرام او مثقال يې پېر او پلور کېږي. زعفران په غالب ګومان د مديترانې شرقي سيمې نباتاتو له ډلې شمېرل کېږي چې له دې ځايه يې کر کيله افغانستان کې هم رواج پيدا کړی، خو د ترويج او پراختيا لپاره يې لومړنی هڅې ۳۰ کاله وړاندې پيل شوې، خو بدبختانه د کورنيو جګړو پر مهال نيمګړې پاتې شوه .

او سهمال د يو کيلو زعفرانو بيه په نړيوالو بازارونو کې څلورو او دولسو زرو ډالرو ترمنځ ده. په لرغوني او اوسني وخت کې د زعفرانو اکثريت مقدار د غذاګانو او مشروباتو د خوند، رنګ او بوی په ښه کولو کې او همدارنګه د ماشومانو لپاره په خوراکي توکو جوړولو کې ترې استفاده کېږي .

د زعفرانو په اړه تحقيقات ښيي، چې د مختلفو ويټامينونو او د بدن ضرورت وړ مختلف عناصر، منرالونه او شحمي موادو لري او په درملنه کې يې اغېز مثبت دی .

د زعفرانو په استعمال سره عصبي، هضمي او تنفسي سيستمونه د ځينو ناروغيو لکه د اعصابو ضعف، خستګي، درد ،بې خوبي، کم خوراکي او تنفسي بې نظمي ورسره حلېږي. همدارنګه د پښتورګو او مثانې تېږې، د سرخکانو، تبې، زيړي، د زړه د لويوالي، د توري لويوالي، شکر او پوستکي ژير زخم، د سترګو خارښت، د کلمو درد او همداډول خوني اسهال، عضلاتي دردونه او سرطان ناروغيو لپاره په درملو کې ترې استفاده کېږي. د ليدو او اورېدو قوت هم ډېروي او هغوی چې د زړه له رنځه ځورېږي د زعفرانو د استعمال توصيه ورته کېږي .

د زعفرانو د حاصل ټولو وخت کې بايد هڅه وشي څو (stigma) برخه ميده نه شي، که چېرې ميده شي نو خپل لوړ ارزښت له لاسه ورکوي. د يو کيلو وچ زعفران د لاسته راوړلو لپاره /۱۵۰۰۰۰تازه ګلانو ته ضرورت دی او د دې شمېر پوره کولو تکليف يوازې بزګر ته معلوم دی

نوم ورکي اتلان

د شهید ملامحمدنعیم نافذ ژوند ته کتنه

عبدالرؤف " حکمت "

داسلامي مبارزوبهیر اساسا دهغو ګمنامو اتلانو دکارنامو او جانبازیو مرهون دی ، چې موږ یې له نومونو ، ژوندلیکونو او څیرو سره آشنا نه یو ، دایو حقیقت دی ، چې دتاریخ پاڼې تر ډېره دمشهورو او سرکرده اشخاصو په تذکرو راڅرخي او هغه ګمنام اتلان یې په هر دور کې هیر کړي دي ، چې دانقلابونو په راوستلو ، کارنامو جوړولو او حماسو زیږولو کې یې لومړی لاس او مباشر رول درلودلی وي .

داسلامي تاریخ دغه اتلان که څه هم په دنیایي لحاظ نومور کي بلل کیږي ، مګر باور دادی چې دآخرت برخه به ددوی درنه وي ، ځکه دوی دالله تعالی حضور ته دخپل سوچه عبادت او خدمت پانګه وروړې ، چې دهیڅ ډول شهرت ، ریاء او ځانبنودنې شائبه په کې نه شته .

په افغانستان کې داسلامي امارت قیام په معاصره اسلامي نړۍ کې یوه لویه پیبنه وه ، په لومړي ځل له لسیزو وروسته دالله تعالی په ځمکه په صحیح معنی دیوه سوچه اسلامي نظام دنفاذ غږ پورته شو ، ددې ارمان دترسره کولو په لاره کې ډیرو متعهدو ځوانانو خپلې وینې نذرانه کړې ، هغوی چې خپل پور یې اداء کړ ، دحق دمعر کې میدان ته راغلل او لاړل ، داممکنه نه ده چې ددوی ټولو سوانح راغونډ او تدوین شي ، خو په دې باید اعتراف ولرو ، چې همدغه دحق دسنګر ګمنام شهیدان هر یو ددې حق لري ، چې امت یې یادونه په سینو کې ژوندي وساتي ، ځکه همدوی دي چې خپلې وینې یې داسلام ډیوې ته ور کړي دي ، خو په مقابل کې یې هیڅ دنیاوي خونبها ونه غوبنته .

راځئ دهمدې قافلې دیوه بل لاروي شهیدملامحمدنعیم نافذ په ژوند او ژوند پیبنو سره وغږیږو .

شهید ملامحمدنعیم نافذ

محمد نعیم نافذ د حاجي ګل محمد زوی دمرحوم سعیدجان لمسی په قوم پبنتون /میراڼی په ۱۹۷۲ میلادي کال کې د روزګان ولایت دخاص روزګان ولسوالۍ په شیره نومي علاقه کې په یوه دیندار ه کورنۍ کې دنیا ته راغی . نوموړي خپل دکوچنتوب عمر په خپل کلي کې تیر کړ ، دکلي دمسجد له ملاامام څخه یې لومړنۍ الفباء ولوسته اووروسته دروزګان ولایت دمرکز ترین کوټ چرمستان سیمې ته لاړ او هلته یې په دیني مدرسه کې داخله واخیسته .

په همدې سیمه کې یې یو کال درس ووایه او وروسته دزابل ولایت د دایچوپان ولسوالۍ هزاربوز سیمې ته لاړ چې هلته یې په یوه کلیواله مدرسه کې دیني زده کړو ته دوام ور کړ ، په دې مهال چې په افغانستان روسي یرغلګرو برید کړی وو او په مقابل کې یې مسلح جهاد شروع وو، ددوی کورنۍ له روزګان څخه دپاکستان دبلوچستان مسلم باغ سیمې ته هجرت وکړ او هلته یې دمهاجرو په یوه کیمپ کې دهجرت ژوند پیل کړ .

محمدنعیم نافذ چې دغه مهال نوی ځوان وو ، دپاکستان دبلوچستان په مختلفو مدارسو کې یې خپلو دیني زده کړو ته دوام ور کړ ، له دې جملې په مسلم باغ ، کویټه ، سرخاب ، میزی اډه او نورو سیمو کې یې له مشهورو استادانو څخه دیني کتابونه ولوستل تر دې چې دفنونو کتابونه یې خلاص کړل ، او د وړې دورې تر درجې پورې ورسید .

د کمونیستانو په خلاف دجهاد په وروستیو کلونو کې نوموړي په لومړي ځل په جهادي عملیاتو کې برخه واخیسته ، چې دغه وخت

دروزګان ولایت دمشهور جهادي قومندان ملامحمد شفیق اخند په جبهاتو کې یې جهادي خدمت تر سره کړ .

دطالبانو په اسلامي تحریک کې شمولیت او خدمت

دطالبانو داسلامي پاڅون دپیل په مهال ، هغه وخت چې دطالبانو لخوا بولدک نیول شوی ، ملامحمد نعیم نافذ په اسلامي تحریک کې شامل شو ، دکندهار له فتحې وروسته چې کله دنورو ولایاتو په خوا تشکیلات کیدل ، ملامحمدنعیم په هغه تشکیل کې وو چې دروزګان ولایت په خوا ولیږل شو ، په روزګان ولایت کې زیاتره پخواني جهادي قومندانانو دطالبانو داعیې ته لبیک وو ایه او له اسلامي تحریک سره وصل شول ، خو یوازې محمدنبي ، معلم عبدالخالق او اختر محمد په نومونو دری تنو قومندانانو مقاومت وکړ ، له دوی سره دروزګان دمرکز ترین کوټ په مربوطاتو کې جګړه وشوه ، چې ملامحمدنعیم په کې دیوه ګروپ مشر په حیث برخه درلوده ، دروزګان له فتحې وروسته ملامحمدنعیم داسلامي تحریک دمشرانو لخوا د دهراوود ولسوالۍ دامنیه قومندان په حیث وټاکل شو .

کله چې دطالبانو تحریک دغزني او کابل په خوا پر مختګ وکړ ملامحمد نعیم هم ددې لښکر ملګری وو ، چې دغزني ، میدان وردګ او لوګر په جګړو کې یې برخه درلوده ، تر څو دکابل دچهار اسیاب ښار ګوټې او دکابل ښار یو شمیر جنوبي سیمې دطالبانو لاس ته ورغلې ، نوموړي ته په دې مهال دریشخورو دفرقې مسؤلیت وسپارل شو ، او په همدې سیمه کې له خپلو جهادي ملګرو سره اوسیده .

په همدې سیمه کې یوه ورځ چې له ملګرو سره په جهادي دفاعي خط باندې ګرځیده ، ددښمن دهاوان مرمۍ دلګېدو له امله سخت ټپي شو ، چې دعلاج لپاره دجګړې له سیمې انتقال شو .

له علاج وروسته نوموړی بیر ته جهادي صف ته حاضر شو ، دغه وخت طالبانو هرات نیولی وو او دبادغیس په مربوطاتو کې جګړه روانه وه ، نوموړی دامیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد په فرمان دبادغیس دفاعي کربنې ته ولیږل شو او د کمربند مسؤلیت وروسپارل شو .

په بادغیس کې له څه وخت تیرولو وروسته چهار اسیاب ته راغی ، او همدلته ترهغه وخته په جهادي صف کې پاته شو ، تر څو طالبانو کابل فتحه کړ ، دکابل د فتحې په مهال چې طالبان دمیدان ښار ، چهار اسیاب او پل چرخي له لورې په کابل ورننوتل ، نوموړی دچهار اسیاب په دفاعي خط کې وو ، چې د دری طرفه جګړې په نتیجه کې ددښمن دفاعي کمربندونه مات شول او طالبان فاتحانه کابل ته ننوتل .

د کابل په شمال کې جهادي خدمت

دملامحمد نعیم نږدې ملګری او همسنګر ملاعبدالحنان وایي ، چې دکابل له نیولو وروسته نوموړی د کابل دشمال شکردرې په سیمه کې مسؤل وټاکل شو ، له هغه وروسته څه موده دکاپیسا ولایت ته لاړ او بیا دبګرام په دفاعي خط کې په خدمت بوخت وو .

ملاعبدالحنان وایي هغه وخت چې دمسعود له خوا دکابل دبیانیولو عملیات پیل شوي وو ، او طالبانو دبګرام په استقامت دکاریزمیر ترسیمې پورې عقب نشیني کړې وه ، بلې خواته په شکردره باندې هم سخت عملیات روان وو ، په همدې وخت کې چې حالات ډیر حساس وو ، دافغانستان ددفاع وزیر ملاعبیدالله اخند دجګړې کربنې ته راغی ، او ملامحمد نعیم نافذ ته یې وویل چې دشکردرې خط ته لاړ شي ، نوموړی له خپلو ملګرو سره دشکردرې خط ته لاړ چې هلته له څوورځو جګړو وروسته ددښمن پرمختګ په ټپه ودرېد ، له دې وروسته نوموړی په شکردره کې دقطعې مسؤل وټاکل شو ، او تر ډیره وخته یې په همدې سیمه کې خدمت تر سره کړ ، نوموړي د شمالي تقریباً په ټولو عملیاتو کې برخه درلوده .

هغه وخت چې ملامحمد نعیم په شمالي او کندز کې جهادي دنده تر سره کوله ، دګرديز ددریم نمبر قول اردو دقومندان په حیث مسؤلیت یې هم درلود ، خو څرنګه چې نوموړی همیشه په جنګي کربنو کې وو په قول اردو کې یې دنده په نیابت شهید ملاعبدالمنان او بیا شهید ملاپای محمد تر سره کوله .

کندز ته اوښتل

د ۱۹۹۷ میلادی کال په می میاشت کې دافغانستان په شمال کې ستر تحولات رامنځته شول ، په همدې میاشت کې دشمال یو مشهور قومندان جنرال مالک له طالبانو سره ملګری شو ، دنوموړي سره په ګډه طالبانو دمزارشریف په ګډون شمالي ولایات تر کنترول لاندې راوستل ، دغه راز دطالبانو بل لښکر دپروان څخه دسالنګ تونل په لاره بغلان ته ووت او

پلخمري ښار ګوښي يي ونيو ، خو کله چې جنرال مالک له طالبانو سره غدر وکړ او دمزار شريف په شمول شمالي ولايات يي بير ته ونيول په پروان کې مسعود بريد وکړ سالنګ ، جبل السراج او چاريکار يي ونيول چې په دې توګه دطالبانو زر ګونه مجاهدين په بغلان کې کلابند پاتـه شول ، طالبانو د نجات ديوازينۍ لارې په توګه په کندز بريد وکړ ، او دسيمه ايزو قومندانانو په مرسته يي کندز ښار ګوښي ونيو، چې په دې توګه يې د کندز دهوايي ډګر له لارې له کابل سره دهوايي تګ راتګ لار ومونده .

طالبان چې د کندز په مرکز کې په ډيره محدوده ساحه کې محاصره وه ، او هره شيبه د تخار ، بغلان او سمنګانو له اړخه دمخالفينو تربريدونو لاندې وو ، په ډيرو سختو شرايطو کې يې شپې ورځې تيرولې ، هيڅ داتمه نه درلوده چې له دې سختې محاصرې به روغ وځي همدا سخت حالات ددې باعث وو چې د کندز جهادي صف تـه هيڅ د تللو زړه نه کاوو ، پـه همدې مهال ملامحمدنعيم نافذ چې د کابل پـه شمال شکردره کې يې جهادي دنده ترسره کوله دملامحمد عمر مجاهد لخوا مأمور شو ، تر څو دجهادي خدمت لپاره کندز تـه لاړ شي ، نوموړي پـه پوره اطاعت دخپل امير امر تـه لبيک ووايه او دغه سخت مسؤليت يي قبول کړ .

ملاعبدالحنان وايي ، شهيد ملامحمدنعيم خپل ملګري پـه کابل کې راغونډ کړل او ور ته ويې ويل چې ماته ويل شوي دي چې کندز تـه واوړم ، پـه تاسو کې که هرڅوک تيار وي او له ماسره پـه خوښه ځي زه ورباندې خوشاله کيږم امازما لخوا اجبار نشته چې خامخا راسره لاړ شئ ، پـه دې مهال يوازې ۱۱ تنه تيار شول چې له ده سره دې سخت سفر ته تيار شي ، ملامحمدنعيم له همدې ۱۱ تنو ملګرو سره د طيارې پـه توسط کندز تـه لاړ ، چې وروسته کله چې د کندز دجبهاتو مشر شهيدملادادالله اخند کابل تـه لاړ ملامحمد نعيم په کندز کې دعمومي جهادي مشر به صفت پاته شو .

دافغانستان د تعليم او تربيې پخوانی وزير ملاامير خان متقي چې هغه مهال يې پـه کندز کې دطالبانو پـه جهادي ليکو کې خدمت کاوو ، وايي چې ملامحمد نعيم خورا منتظم او په حربي چارو پوهيدونکی سړی وو ، د کندز دمحاصرې په مهال داحمدشاه مسعود ټول کوشش داوو چې په کندز کې طالبان له منځه يوسي ، ځکه پـه کندز کې دطالبانو شتون نوموړی پـه کابل باندې لـه سر تاسري بريـد څخـه منعـه کـاوو او ډيـر ځواکونه يې په کندز کې بوخت وو ، دهمدې لپاره مسعود او ملګري يي هر دم په هڅه کې وو چې پـه طالبانو دمحاصرې کړۍ تنګه کړي ، خو ملامحمد نعيم نافذ چې پر لپسې يې مقاومت او تعرضونو ته دوام ور کـاوو نه يوازې په شا نه شو بلکې اضافه ډيرې سيمې يې فتحه کړې ، او هميشه ډير مختګ په حال کې وو چې په دې توګه دمحاصرې ساحه ازاديدله .

ملاامير خان متقي وايي ، ملامحمد نعيم دمخابراتي ارتباط خورا ښه او بريالی نظام جوړ کړی وو ، چې هميشـه فعال وو ، ملامحمـد نعيم فعال او متحرک سړی وو ، چې اکثره وخت يې ۱۸ تر ۲۰ ساعته پوري کار کاوو ، هميشه به په جنګي کرښو ګرځيده ، او ددښمن دبريدونو ځواب ته اماده وو .

ملا عبدالحنان چې په کندز کې يي لـه ملامحمد نعيم سره جهادي ملګر تيـا درلوده ، وايي چې پـه کندز کې دجهادي مسؤليت پـه مهال دملامحمد نعيم په مشرۍ د تخار اشکمش ، دبغلان بورکه او نورې ګڼې سيمې فتحه شوې او مجاهدينو سترې برياوې ترلاسه کړې .

شهادت يې

پـه کندز کې لـه اوږده مسؤليت ترسره کولو وروسته نوموړي تـه پـه ۱۹۹۹م کال کې يوځل بيا د کابل په شمال کې جهادي مسؤليت وسپارل شو ، داځل چې مخالفينو د کاپيسا پـه مربوطاتو کې عمليات پيل کړي نوموړي هڅه کوله ، د تګاب او نجراب ترمنځ سيمه کې دمخالفينو پـه پوستو بريد وکړي ، مخالفينو چې سيمه په ځمکنيو ماينونو پوښلې وه ، ملامحمدنعيم لـه خپلو ملګرو سره يوځای هڅه کوله دلارې پـه تصفيې سره مخ پـه وړاندې دتللو لاره خلاصه کړي ، پـه همدې مهال چې ماين پاکان دلارې پـه خلاصولو بوخت وو ، او دی له خپلو ملګرو سره دسرک پـه غاړه انتظار وو ، د دوه ميلې يو موټر پـه ماين وخوت چې پـه درانه انفجار کې ملامحمدنعيم اخند هم سخت ولګيد او ځای په ځای په شهادت ورسيد .

اناالله وانا اليه راجعون

ملامحمدنعيم نافذ چې دشهادت په مهال ۲۷ کلن وو جسد يې د روزګان ولايت دمرکز مربوط په چرمستان سيمه کې خاورو ته وسپارل شو .

ملامحمد نعيم نافذ چې ډير عمر يې په ديني تعليم او جهاد کې تير کـړی وو نـږدې ملګـري يـي وايـي چـې پـه دې دواړو ډګرونو کـې دښـه استعداد خاوند وو ، چې په علمي پانګه سربيره يې ښه شجاعت او تدبير هم درلود .

ملاامیر خان متقي چې شهید ملامحمد نعیم یې له نږدې پیژاند وایي ، چې نوموړی د حسنه اخلاقو څښتن اودمشرانو قدرپیژندونکی شخص ووبهترینه خاکساري یې درلوده اوله تکبره دومره لیري وچې

یوه ورځ دتخارولایت دبنګي په سیمه کې له دښمن سره سخت جنګ روان و چې په دې وخت کې شهید ملا محمد نعیم نافذ هم دجګړې ډګر ته راورسید دده په راتلو سره په مخابرو کې ناري شوي چې نافذ را غی ددښمن خواته هم په مخابرو کې همدا اوازه خپره شوه چې ور سره دښمن دتیښتي لاره خپله کړه او میدان یې پري ښود شهید نافذ چې دا هر څه په غوږونو اوریدل او په ستر ګوېي لیدل نو بې اختیاره یې په ستر ګو کې او ښکې راغلي او ویې ویل چې زه څوک یم زه خو دیوه غریب سړي زوی یم ، مګر داچې دحق صف ملګری یم الله تعالی دهمدې حقانیت له بر کته په دښمن داسې رعب ګډ کړ .

ملا ولي جان چې دملامحمد نعیم نافذ کشر ورور دی ، وایي چې ملامحمد نعیم له بیت المال سره خورا ډېر احتیاط کاوو ، او دبیت المال هیڅ پیسه یې په کور کې نه مصرف کوله.

ملا ولي جان وایي هغه مهال زموږ ژوند دغربت ژوند وو ، یو وخت مې ملا محمد نعیم ته د کمزوري اقتصادي حالت شکایت وکړ ، ده راته وویل له ماسره دبیت المال خورا زیاتي پیسې دي ، چې په شخصي ضروریاتو یې مصرفولای شم ، خو زه له الله تعالی څخه ویریږم ، که زما منې همدا دفقر ژوند ښه دی ، دغه پیسې که بې له اجازې څخه په شخصي ډول مصرف کړو نو دقیامت په ورځ به زموږ لپاره سور اور وي ، ملا ولي جان وایي نوموړی به چې کور ته راتلو نو دامارت دمشر تابه لخوا ور ته د کور دمصارفو لپاره ځانګړې پیسې ور کول کیدلې چې ده یوازې هغه ماته راکولې ، او ویل به یې چې دغه د کور دمصارفو لپاره راکړل شوي دي ، دبیت المال له نورو پیسو سره یې ډېر احتیاط کاوو .

د ملامحمد نعیم نافذ تر شهادت وروسته دنوموړي نږدې جهادي ملګری ملاعبدالرزاق دده په ځای وټاکل شو ، چې وروسته هغه هم دنافذ په نامه خورامشهور شو او ستري کارنامې یې ترسره کړې ،ملاعبدالرزاق نافذ په روزګان ولایت کې دامریکایي یرغل په وړاندې جهاد پیل کړ ، چې تراوسه یې لا جهادي ملګري او همسنګران په جهادي مبارزه بوخت دي .

د بادامو له پریمانه ګټو به خبر نه یاست!

دژمي پدې یخو شپو ورځو کې بادام د هغو وچو میوو له ډلې دی، چې هم خوند لري او هم پریمانه ګټې.

د بادامو له پریمانه ګټو یو څو یې له تاسو سره شریکوو:

.د بادامو غوړي د نورو غوړیو په شان خرابېدو والا ندي او د ماشومانو لپاره ډېر ګټور بلل کېږي.

.د بادام شیره د ټوخي ناراحتي او د ستونې لپاره ګټور ثابت شوي دي .

¬ـ بادام، چې اوړه شي او له شیدو سره ګډ شي د بډوډو او پښتورګو د درد لپاره ښه درمل دي.

.بادام جنسي قوه ځواکمنوي او سپرم زیاتوي، همدا رنګه معده قوي کوي .


.د بادامو غوړي د ماشومانو داسهال لپاره هم ګټور دي .

.د بادامو غوړي خوب راوستونکي دي او بې خوبي له منځه وړي.

.بادام د ملا د فقرو لپاره ګټور دي، که ملا مو درد کوي، د درد د تسکین لپاره بادام وخورئ.

.د هغو ماشومانو لپاره، چې پربدن یې سرې دانې وي، د بادامو پر تېلو یې د ټول ځان غوړول کولای شي هغوی ته ګټه ولري او پدې سره به یې په اسانۍ درملنه هم وشي.

ـ د بادامو غوړي د پوستکي د وچېدا یا سوځېدلي پوستکي لپاره ډېر ګټور دي



انتخابات او د

یرغلګرو دریمه دروغژنه لوبه

راتلونکي انتخابات (انتصابات) د امریکا او ناټو د دیارلس کلن یرغل په موده کښې دریمه دروغژنه لوبه ده، په لومړي ځل چې کله دغه د دیموکراسۍ اتڼ په ۲۰۰۴ز کال کې پیل شو، لوبه په خورا ډراماتیکه توګه د کرزي په ګټه پایته ورسیده؛ ځکه په هغه وخت کې یرغلګر پر حامد کرزي د مجازي عاشقانو په څیر راګرم وو، هغوی یوازې او یوازې په ده کښې دا لیاقت لیدو چې په جمهوري ماڼۍ کې د استراحت پر تخت کښیني، د هغوی له نظره له نوموړي پرته هیڅ هم دارګ د بې تخت و تاجه پاچاهۍ وړتیا نه لرله.

مګر د لوبې په دوهمه مرحله کې د امریکایانو په نظر کښې د پخوا په پر تله ۱۸۰ درجې بدلون راغلی و، د امریکا متحده ایالتونو د دفاع د پخواني وزیر (رابرت ګیتس) د کتاب په حواله د ۲۰۰۹ز کال په انتخاباتو کې هغوی د کرزي په خلاف لاس وهنه وکړه، او په لوی لاس یې د انتخاباتو ګړبیدلې بګۍ د دوهم پړاو کندې ته ورټیل وهله، بالآخره د کرزي له څو میاشتو چیغو، بغارو او ناندریو وروسته امریکا مجبوره شوه، او د تقلبي انتخاباتو نتیجې یې ومنلې، او عبدالله عبد الله هم د هغوی له امر سره سم له مقابلې نه تیر شو.

اوس بد نام یرغلګر (امریکا او ناتو) خپلې شرمنده ماضي او تیرو درغلیو ته په کتو ټینګ قسمونه خوري، چې د راتلونکي ۱۳۹۳هش کال د حمل د ۱۶ نیټې په انتخاباتو کښې به هیڅ درغلي نکوي، او نه به د کوم کاندید ملاتړ کوي، خو د هغوی په قسمونو به باور څوک وکړي؟ حامد کرزي او عبدالله عبد الله ته خو د هغوی دروغژنه څیره ښه معلومه ده، په لومړي ځل یې د اول او په دوهم ځل یې د دوهم لپاره په پراخه پیمانه درغلۍ وکړې، دا نورو کاندیدانو ته هم ښه روښانه ده چې د پړې سر د چا په لاس کې دی!

د غربي دیموکراسۍ او بین المللي قوانینو له نظره انتخابات هغه وخت د اعتبار وړ دي کله چې په هیواد کې حالات نورمال وي، سیاسي استقلال، د امن او سولې چاپیریال وجود ولري، د هیواد چارې د یو ملي حکومت په کنترول کې وي، پر ځمکه او فضا د دولت حاکمیت وي، پوځي او ملکي تاسیسات، پوځي او ټولنیز ابزار، نشراتي وسائل، استخباراتي سیستم د دولت په ولکه کښې وي. راتلونکي انتخابات ځکه د اعتبار وړ نه دي چې د دیموکراسۍ شعار او د سر سره کرښه داده چې: ولس د خپل اختیار خاوند نه دی؛ ځکه د اشغال په حالت کې د خلکو د ژوند اصلي حقوق تر پښو لاندې وي، ازادي نه وي، عدالت نه وي، اختیار نه وي، د هیڅ وګړي ځان، مال او ناموس محفوظ نه وي، د ګدا نه تر پاچا پورې ټول د یرغلګرو قواو تر مستقیم تهدید او رهنمایۍ لاندې وي.

که بالفرض دا و منل شي چې: یرغلګر او د هغوی ګوډاګیان په انتخاباتو کې هیڅ درغلي نکوي، افغان ولس هم په خپله خوښه په ټاکنو کې ګډون وکړ، د کاندیدانو له منځه یي د یوه پر سر تاج کېښود، دارګ په تخت یي کښیناوه، له یوه لوري یرغلګرو د هغه تود هر کلی وکړ، له بل طرفه دګڼو هیوادونو جمهور رئیسانو د هغه په نوم د تبریکۍ پیغامونه واستول، آیا د اشغال د دوام په حالت کې به د نوي ولسمشر او کرزي په مینځ کې څه توپیر راشي؟ که فرض کړو چې دا انتخابات یونیک او له فساده لیري شخص وګټي او د ریاست جمهورۍ ماڼۍ ته ننوزي، آیا د افغان ولس لپاره به کوم د قدر وړ خدمت وکړای شي؟ نه، هیڅکله هم نه، دا سمه ده چې په ماڼۍ کې دننه به د بدو عملو پر ځای ښه کارونه کوي: تلاوتونه به کوي لمنځونه به کوي او داسې نور، خو دارګ څخه د باندې به د پردیو حکم چلیږي او د نوي ولسمشر به د کرزي په څیر یوازې چیغې او بوغې اوریدل کیږي، د عمل په ډګر کې به په صفر کې ضرب وي، دا نو بیا هغه دچا خبره تاج نشو بلکې د ګیدړې قباله شوه.

د سفرنامو او د پېښو ليکلو ارزښت

قاري محمود غزنوي

له ډېرې پخوا زمانې څخه د سفرنامو (سيلګري) او مشهورو پېښو ليکنه دود او دستور ده، له چيني (ماهيان)، جرمن او نورو نامسلمان سيلګرو څخه پرته د اسلامي نړۍ مسلمان سياحانو لکه ابن بطوطه، ابن جبير، ابن فضلان، ناصر المروزي او نورو هم په زرهٔ پوري سفرنامې په ګڼو جلدونو کې ليکلي دي. په همداسي توګه اوس مهال د نورو ليکوالانو سربېره مشهور عالم تقي عثماني صاحب هم د ګڼو هيوادونو حالات د سفرنامې په بڼه په ښه توګه انځور کړي دي. دې عمل ته په پښتو کې "ګرځښت" يا "سيل سيلګري"، عربي کې "رحلة" او په انګريزي کې Tour ويل کېږي، خو زموږ په ټولنه کې ترينه په عامه توګه تعبير په سياحت کېږي او قرآن کريم ترينه تعبير په "سير" لفظ سره کړی، الله تعالی انسانانو ته فرمايي: تاسو په ځمکه ګرځښت او سيل تر سره کړئ، تر څو تاسو ووينئ چې سرکښان له څرنګه برخليک سره مخ شوي دي [سِيرُوا فِي الأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ].

ځيني کسانو د ګرځښت په موخه د نړۍ ګڼو برخو ته سفرونه کړي دي او ځينو نورو بيا د خاص مقصد يا سياحت په موخه يوه ځانګړي سيمه انتخاب کړي، بهر تقدير دوی د هغو هيوادونو او سيمو په اړوند خپلي سفرنامې ليکلي. بظاهر دا ډول سفرنامې د دوی د سياحت، ګرځښت، مقصد او سيلګري راپور ښکاره کېږي، ولي حقيقت کې بيا له څه وخت تيرېدا څخه وروسته يو تاريخي سند ګڼل کېږي، چې له هغې څخه تاريخ پوهان او جغرافيه پوهان په زړه پوري موخې جوتوي.

د همدې سفرنامو په مټ موږ کولای شو، د سيمو، غرونو، دريابونو، لارو او ګودرو لرغونوالی او تاريخي قدامت ثابت کړو، دا چې د هغه مهال او د اوس مهال په نومونو کې تر کومه بريده توپير ليدل کېږي، موږ معلومولای شو چې د سفرنامې د سفر کونکې په مهال هلته ميشت پخواني قومونه له څرنګه برخليک سره مخ شوي؟ هلته چا يرغل کړی يا يې کړی وو؟ د هغه سيمي ګروهه څه وه؟ هلته د کومې ګروهي اغيز زيات وو؟ هلته د کوم پاچا پاچاهي وه؟ هغه د څه وړ شخصيت څښتن وو؟ هلته د نورو ګروهو له خلکو سره څه وړ کړه وړه په ډاګه کيدو؟ د هغه سيمي کلتور او عنعنات څه وو؟ تر دې پوري چې په ګڼو سفرنامو کې د سيمي د خلکو لباس، خوراک او څښاک ته هم اشارې شوي وي، د هغوی نسب او قوم پکښې نغښتل شوي وي، د هغوی ميلمه پالنه او ځوانمردي په ډاګه کړې شوي وي.

د همدي سفر نامو په برکت موږ کولای شو، چې د لیکونکې همعصره او د سسیمې مشهور اشخاص معلوم کړو، له کومو سره چې د سفر په اوږدو کې لیدني کتنې تر سره شوي دي، همدا سفرنامې د یو قوم او سیمي مثبت او منفي غبرګون د اقلیت او اکثریت وګړو شتون په ډاګه کوي.

له دې امله چې سفر کوونکې خپله سفرنامه له سیاسي، قومي مذهبي تعصب څخه پرته یو اځي د یادانبت په توګه ښکلې وي، نو ځکه د یو پیاوړي سند په توګه بدرګه کیږي.

زموږ په هیواد کې له پیړیو پېړیو را هیسې او په ځانګړي توګه د انګریزي، شوروي او اوس مهال د صلیبي یرغل په اوږدو کې چې له پنځوسو څخه زیاتو هیوادونو زموږ په ګران هیواد یرغل کړی، هره ورځ او شپه داسې پېښې تر سره کیږي چې د تاریخ په څپو کې یې بېلګه نشته، هره لحظه او هره لمحه، هره لږی او ګړی په لیکلو ارزي او د لیکلو اړتیا لري، نو زما په فکر ټولو مسلمانانو او په ځانګړي توګه د قلم څښتنانو افغانانو اوبیا په ډېره خصوصي توګه د اطلاعات او کلتور ملګرو ته یکار دي، چې روانې پېښې او غمیزي، سربښندني، کارنامې او اتلوال بریدونه، د مجاهدینو بریاوي، په دښمن مرګونې ګزارونه او د دښمن ظلمونه او تیري د راتلونکې نسل د پوهاوي لپاره له کوم تعصب، کرکې، زیاتي او کمې څخه پرته خوندي کړي، اړونده سیمو ته د کره معلوماتو د لاسته راوړلو په موخه قصدا سفرونه وکړي او د دښمنانو له اغیز څخه پاک د خپلو سترګو لیدلي حقائق د تاریخ غیږې ته په ډېر صداقت وسپاري، چې دا به یې له اسلام او خپل هیواد سره د زړه له کومې د مینې او محبت څرګندوی وي.

که کبان نه خورئ ګلپی وخوره !

ګلپی او ددی کورنی نباتات چی د ژمی په موسم کی پیدا کیږی د انسانانو روغتیا لپاره دیره ګټوره سبزی ده چی په مشرقي کی د ګلپیانو د کښت له مخی ننګرهار او کنړ ولایتونه دیر مشهور دی. علماو د ګلپی اصلی منشا دمدیترانی شمال شرقی سیمی په نښه کړی چی بیاله دغه ځایه د نړی نورو هیوادونو ته د دغه نبات کر کیله غځیدلی ده چی اوسهمال ګلپیانو څخه اکثره خلک په مختلف ډول استفاده کوی لکه د اچارو، سوپ په جوړلو او همدارنګه یو شمیر یی د کتغ په غرض پخوی دخامو ګلپیانو خوړل نسبت پاخه شوی ګلپیانوته دیره ګټه لری اوسنیو څیړنو ثابته کړی ده چی ګلپی او ددی کورنی نباتات دانیدول ۳- کاربینول، سولفورافان او ګلو کوزینولات مادو په درلودو سره د سینی سرطان او همدارنګه یو شمیر نور سرطانونه چی په ښځو کی پیدا کیږی په مخنیوی کی دیر موثر دی که څوک د زړه د ناروغی څخه رنځ وړی نو ګلپیAllicin ماده لری او د زړه حملی کچه راټیټوی ګلپی اومګا ۳ چی عموماً په کبانو کی دغه ماده دیره موندل کیږی په ګلپیانو کی هم شتون لری چی په بدن کی د مرضونو د پیداکیدو مخنیوی کوی ګلپی دیر وزن لرونکو کسانو لپاره د وزن په کمولو کی مرسته کوی نو ورته یکار ده چی د خوړو په ورځینی مهالویش کی دغه سبزی باید اضافه کړی همدارنګه اوسنی تجربو داهم ثابته کړی چی ګلپی د حافظی په قوی کولو کی هډوکو دجوړنو د درد، او د قبض ور کولو کی کی مرسته کوی ګلپی د بدن ورځینی اړتیا وړ ویټامینونه لکه د B کورنی ویټآمینونه او A ، Cویټامینونه او د ضرورت وړ کاربوهایدریت او منرالونه پوره کوي. د ګلپیانو دطبعی ګټو تر څنګه هغه کسانو ته مضر دی چی د بډوډو تیږی ولری او هغی د شدت څخه رنځ وړی. ګلپی زیات خرابیدونکې یا فاسدیدونکې سبزي ده او د ډیر وخت لپاره نشی ساتل کیدي نو یکار چی په کور کی ګلپیان باید په یخچال او یا یخ ځای کی د ۳ څخه تر ۴ ورځو زیات ونه ساتل شی او پوخ شوی ګلپی هم باید د یوی ورځی زیات ونه ساتل شی ګلپی باید د هغه سبزیجاتو او میوو سره یو ځای ونه ساتل شی لکه مڼې، کیلې، خټکې یا رومیان ځکه دوی د ایتایلین ګاز تولیدوي چی په پایله کی ګلپی خرابیږی د ګلپی اخستلو وخت کی باید پاملرنه وشی چی بی رنګه، ژیړ او تور شوی نه وی او د کوچنی ګلانو لرونکی ګلپی لرونکی نه اوسی.

هو! راتلونکی ولسمشر به

رښتیا هم د امریکایي ګټو ساتونکی وي

شریف شاهین

اوس امریکا دا خبره نه پټوي چې د کابل راتلونکی ولسمشر به نه یوازې له ځنډ پرته امنیتي تړون لاسلیک کړي، بلکې هغه به د امریکا د ګټو یو غوره ساتونکی هم وي. په افغانستان کې د ولسمشرۍ ټول کاندیدان په زغرده وایي چې که واک ته ورسیږي له امریکا سره به امنیتي تړون له ځنډ پرته لاسلیک کړي. هر کاندید هڅه کوي چې امریکا ته خپل د غلامۍ غوښتنلیک وړاندې کړي او ورته ووايي چې ستاسې سره پرته له شرایطو تړون لاسلیکوو.

که له یوولسو کاندیدانو هر یو بریالی شي، د امریکا ګټې خوندې کیږي، خو داسې ښکاري چې امریکا له وړاندې هغه کس انتخاب کړی چې په راتلونکي کې به د کابل ولسمشر وي. دغه خبره اوس د امریکایي چارواکو په خبرو کې روښانه ښکاري. موږ دلته د امریکا د استخباراتي ادارې د مشر خبرې را اخلو. د امریکا د استخباراتي ادارې مشر وایي، چې ولسمشر حامد کرزی به تر ټاکنو مخکې له واشنګټن سره امنیتي سند لاسلیک نه کړي، خو راتلونکی ولسمشر به یې لاسلیک کړي. د (سي ای اې) مشر جیمز کلاپر دغه څرګندونې دوې ورځې وړاندې د امریکا کانګرېس ته کړې دي. نوموړي په نړیواله کچه امریکا ته د رامنځته کیدونکو ګواښونو په اړه د سنا او کانګرېس د غړو پوښتنو ته ځوابونه ورکول. کلاپر د کابل او واشنګټن تر منځ پر امنیتي سند د لاسلیک په اړه د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: ((زه باوري نه یم چې ولسمشر کرزی به دغه سند لاسلیک کړي.)) کلاپر په ښکاره ټکو وویل: ((د کرزي ځای ناستی به نه یوازې دغه سند لاسلیک کړي، بلکې د امریکا لپاره به ډېر د باور سړی هم وي((.

د کلاپر له دغو څرګندونو ښکاري چې د کابل لپاره ولسمشر له وړاندې د امریکا له خوا ټاکل شوی دی. دغه ولسمشر چې هر څوک وي، د امریکا ګټې به خوندي کوي او د افغانستان په پرتله به امریکا ته ډېر وفادار وي. له همدې امله کلاپر په ډاډ سره وایي چې راتلونکی ولسمشر به هم تړون لاسلیک کوي او هم به د امریکا باوري دوست وي.

په افغانستان کې د امریکا نظامي او سیاسي حضور، په افغانستان او سیمه کې د امریکا اهدافو او بیا د کلاپر څرګندونو ته په کتو سره دا خبره یقیني ده چې دلته چې هر څوک ولسمشر کیږي، تر بل هر څه باید امریکایي ګټو ته ډېر وفاداره وي. نو چې کله دلته داسې څوک نه ځان کاندیدولی شي او نه هم بریالی کیدلای شي چې د امریکا ګټې ورته تر هر څه با ارزښته نه وي. په داسې حالاتو کې ټاکنې او د خلکو اراده بې معنی کیږي او دا هغه زړه شوې سندره ده چې امریکا پرې کلونه کلونه خلک غولولي او استعمار ته یې تدوام ور کړی دی.

نه یوازې له شرعي اړخه ددغه ډول ټاکنو مشروعیت، بلکې له سیاسي اړخه هم اوس دا روښانه ده او خلک پرې پوهیږي په افغانستان کې ټاکنې د افغانستان د خلکو د ارادې څرګندونه نه شي کولی، بلکې دا یوازې ددې لپاره ده چې امریکا، نړۍ ته وښیي چې دلته مشروع او متخب حکومت دی. خو رښتیا دا ده چې افغان ولس لا هم په ټاکنو کې پوره برخه نه اخلي. دوی اوس پوه شوي چې په اشغال کې د دوی اراده هیڅکله ځای نه نیسي او د دوی لپاره دا خورا مهمه ده چې له استعمار څخه ځان خلاص کړي.

د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظیم د کمیسیون محترم مسئول مولوي احمد بلال :

بشري مرستې، عام المنفعه او رغنیزې چارې باید په ټول هیواد کې بې توپیره ترسره شي

له هرڅه وړاندې درته هرکلی وایو، او مننه کوو چې له ټولو ورځنیو مصروفیاتو سره سره مو زموږ غوښتنه ومنله، ترڅو مو پوښتنو ته ځواب ووایاست.

د کمیسیون رئیس:

الحمد لله و الصلوة و السلام علی رسول الله و علی آله و اصحابه و من والاه و بعد

ترهرڅه وړاندې تاسو او لوستونکو ته خپل مسنون سلامونه وړاندې کوم له تاسي څخه هم د زړه له کومي مننه وی یم چې موقع مو راکړه ترڅو درنو هیوادوالو او لوستونکو ته د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظیم د کمیسیون د تاسیس، اهدافو او فعالیتونو وضاحت وکړم.

پوښتنه : ستاسو کمیسیون د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې د کومو اهدافو لپاره ایجاد شوی او څه ډول ترکیب لري که یې لطفا تشریح کړئ؟

ځواب : تاسو ته معلومه چې په افغانستان د امریکایي یرغل څخه وروسته زموږ په هیواد کې جنګي حالت حاکم دی، او امریکایانو په افغانستان یو داسې حکومت تپلی چې په ټوله نړۍ کې په فساد کې لومړی درجه ځای لري، دهمدې فاسد رژیم ترسیوري لاندې نورو لوټماریو، غصب او اختلاسونو سربیره دبشري مرستو په برخه کې هم لویه بې انصافي روانه ده.

هغه داچې له یوې خوا زموږ جګړه ځپلی ولس د ژوند په هر پړاو کې له مختلفو ستونزو سره مخامخ دی او لاسنیوي ته اړ دی له بله پلوه همدا زموږ د هیواد والو د مرستې په نامه چې هیواد ته څه هم را ورسیږي نو زیاته برخه یې د بهرنیو مؤسسو د اداري پرسونل په معاشاتو، د لوکسو او مجللو قصرونو په کرایو، د نویو ماډلونو موټرونو په رانیولو او د دوی د دفتري لوازمو په کش او پش لګیږي، کومه برخه چې بیا کومي پروژې ته رسیږي د هغې ډیره حصه هم د نوموړو مؤسسو او یا هم د کابل د ګوډاګي اداري د فاسدو چارواکو جیبونو ته ځي، د دې لپاره چې د غه مرستې باید دضرورت وړ ځایونو کې ولګیږي او همدا ډول د دښمن له لوري د مرستو په نامه د مغرضانه فعالیتونو مخه هم ونیول شي، دافغانستان اسلامي امارت وپتیپله چې دمؤسساتو او شرکتونو دکنترول، د هغوی د فعالیتونو د تنظیم او د هغوی دمصارفو د پرځای لګیدو په منظور په خپلو تشکیلاتو کې ځانګړی کمیسیون ولري.

په لنډو ټکو کې به د کمیسیون د لائحې د دوهمې مادې په یادولو سره د سوال د دې برخې ځواب را خلاصه کړم:

دوهمه ماده: د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظیم کمیسیون د افغانستان د اسلامي امارت له لوري په هیواد کې مؤسسو او شرکتونو ته دضرورت په اساس د فعالیت د

اجازي ور کولو ، تنظيم او څارني په غرض رامينځ ته شوي اداره ده.

د دي کميسيون د تشکيلاتو په هکله بايد يادونه وکړم چي: په راس کي يي رئيس ، مرستيال او ور سره تجربه لرونکي اعضاء ، اداري او مالي څانګه ،د رغنيزو چارو د تنظيم څانګه ،د مخابراتي شبکو د تنظيم څانګه ، د عمومي اړيکو څانګه او په ټولو ولايتونو کي نمايندګي.

پوښتنه : ستاسو کميسيون تر اوسه پوري په هيواد کي کوم او څه ډول فعاليتونه ترسره کړي ؟

ځواب : د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظيم کميسيون وکولای شول چي د هغو خپل سريو مخه ونيسي چي د يو شمير غير مسؤولو افرادو له لوري به د اسلامي امارت او يا هم د طالب په نامه له مؤسسو او يا هم د تليفون له کمپنيو سره تماسونه نيول کيدل او په يو او بل ډول به يي هغوی تهديدول او خپلي ناروا غوښتني به يي ترسره کولي چي په دي کار سره له يوي خوا د عام المنفعه چارو په وړاندي ډيري ستونزي را ولاړي شوي وي ، د بشري مرستو رسيدګي ستونزمنه شوي وه ، د ولس اړو خلکو ته څرنګه چي لازم وو اسانتياوي نه وي له بلوه پلوه داسي ناوړه تبليغات هم کيدل چي ګواکي اسلامي امارت په هيواد کي د پرمختګ مخنيوی کوي ، خو لله الحمد د کميسيون په جوړيدلو سره د دي ډول ګډوډيو مخه ونيول شوه ، موږ وکولای شول چي د خپلو منظمو تشکيلاتو له لاري په ټولو ولايتونو کي د استازيو په درلودلو ، هغوی ته خپل کاري لوائح او منظم پروګرامونه تهيه کړو او د چارو په هره برخه کي د ځانګړو لارښوونو په ور کولو سره په لومړي سرکي د هر ډول ګډوډيو او خپل سريو مخنيوی وکړو او په دوهم پړاو کي د ټولو مرستندويه مؤسسو ، خصوصي شرکتونو او مخابراتي شبکو د کار او فعاليت په هکله دقيق معلومات راټول کړو او بيا يي څارنه ترسره کړو ترڅو ټولګټي چاري په ښه ډول سمبال شي او مرستي اړو خلکو ته ورسيږي ، اوس په ډاډ سره ويلای شو چي د تيرو کلونو په پرتله ښه مثبت بدلون ترسترګو کيږي.

پوښتنه : تاسو په هيواد کي له ټولو مؤسساتو سره په اړيکه کي ياست ؟دهغو کارونه څارئ او مراقبت يي کوئ؟ او که دځينو سره رابطه او تماس لرئ؟

ځواب : د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظيم کميسيون له مؤسسو او شرکتونو سره کومي ځانګړي موافقي او تړونونه نه لري البته د اړتيا په صورت کي د تماس لپاره عمومي نماينده لري چي څلرويشت ساعته د تليفون په لين ور سره اړيکه ټينګيدلای شي او ټول اړوند لوري کولای شي خپلي غوښتني او ستونزي له همدي لاري تر موږ پوري ورسوي.

البته د کار ترتيب داسي دي چي په هر ځای کي کومه پروژه تطبيقيږي نو تر منظوري وروسته د سيمي د ولسي مشرانو له لوري د اړوند ولايت د ولايت جهادي مسؤول په عنوان د کار د پيليدلو لپاره د اجازي عريضه ليکل کيږي ، د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظيم د کميسيون د ولايتي نماينده له تائيد وروسته که د ولايت جهادي مسؤول ورسره موافقه وکړه نو موضوع د کميسيون په غونډه کي تر بحث لاندي نيول کيږي او تر دقيقي څيړني وروسته د کميسيون د لائحي د اتمي مادي په رڼا کي ورته اجازه ليک ورکول کيږي او بيا يي د پلي کيدلو چاري د ولايتي نماينده له لوري تر تکميل پوري څارل کيږي تر څو د هر ډول درغلی مخه و نيول شي او کار په ښه کيفيت تر سره شي ، د کار له تکميل وروسته يي بياهم کميسيون ته خبر ور کول کيږي .

پوښتنه : ستاسو لخوا هغه کوم کارونه دي چي مؤسسات يي د کولو اجازه لري او کوم دي چي اجازه يي نه لري، که راته واضح يي کړئ؟

ځواب: اسلامي امارت کله هم د هيواد د رغوني ، آبادی او پرمختګ مخالفت نه دی کړی ټول هغه جهتونه چي غواړي په سمه توګه زموږ د ولس د هوساينې په غرض هر

ډول رغنيزي چاري او بشري مرستي تر سره کړي نو په وړاندي يي هيڅ ډول ممانعت نشته ، دوی کولای شي چي د ورته وضع شويو قوانينو په نظر کي نيولو سره په ډاډمنه توګه خپلي چاري پرمخ بوزي ،په دې اړه د کميسيون دلايحې دريمه ماده داسې صراحت لري:

(د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظيم کمېسيون مسؤليت لری چي د اسلامي امارت د فرامينو او ورته وضعه شويو اصولو په رڼا کې د مؤسساتو او شرکتونو له لوري د بيارغاوني او مرستو په نامه هغو ټولګټو او عام المنفعه فعاليتونو ته اجازه ورکړي چې د اسلام او وطن په ګټه وي او دهغو فعاليتونو مخه ونيسي چې د دين او هيواد په تاوان او د روان جهادي بهير په ضرر وي)

البته يو شمير بهرنۍ اداري د خيريه او مرستندويه مؤسسو تر عنوان لاندي د اسلام د مقدس دين په خلاف فعاليتونه لري او غواړي زموږ مؤمن ولس په تيره بيا تنکي ماشومان او زلميان د نصرانيت او نورو باطلو عقائو لور ته دعوت کړي ، نو د دا ډول نا مشروع هلو ځلو مخنيوی بيا د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظيم کميسيون د خپل مسؤولت او دندي له مخي خپله فريضه ګڼي چي همدي خبري ته د لائحي په څلورمه ماده کي داسي اشاره شوي ده:

(هغه مؤسسات چي غير اسلامي نظرياتو ته دعوت کوي لکه يهوديت ، نصرا نيت او داسي نور.. او دمجاهدينو په ضد فعاليت کوي هغوی ته مطلقا اجازه نشته، د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظيم کميسيون به يې په خپل ټول قوت سره د فعاليت مخنيوی کوي .)

پوښتنه : تاسو پوهيږئ چې د مؤسساتو له فعاليت سره جوخت يو شمير هيودوال له مؤسساتو سره کارکوي، نو ستاسو د پاليسۍ له مخې افغانانوته په مؤسساتو کې د کار اجازه شته اوکه نه ؟ او که ځواب هو وي نو په کومو برخوکې او له کومو مؤسساتو سره افغانان کار کولای شي؟

ځواب : اسلامي امارت له هغو مؤسسو سره چي يواځي او يواځي د بشري خواخوږی په بناء عام المنفعه چاري پر مخ بيايي زموږ د هيوادوالو د کار په کولو کي کومه ستونزه نهويني البته له بهرنيو خيريه مرستندويه مؤسسو سره کارکوونکي افغانان بايد خپل اسلامي او ديني مقررات او افغاني عنعنات په پام کي ونيسي ځکه د يوه مسلمان او افغان په صفت دا د دوی اسلامي او ملي وجيبه ده.

پوښتنه : که کله مؤسسات ستاسو غوښتنې يا هغه طرز العمل چې د مؤسساتو لپاره يې لرئ عملي نه کړي او سر غړاوي ترې وکړي ، بيا تاسو څه ډول برخورد ورسره کوئ او ايا د هغو کارونه بندولای شئ؟

ځواب : کومي مؤسسي او يا هم شرکتونه چي د اسلامي امارت د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظيم د کميسيون له مقرراتو او اصولو سرغړونه وکړي او يا هم د کومي پروژي لپاره د قرار داد د منل شويو موادو رعايت ونکړي نو داسي مؤسسو او شرکتونو ته د فعاليت اجازه نه ورکول کيږي او مخنيوی يي کيږي ، د اسلامي امارت مجاهدين کولای شي چي د دا ډول سرغړوونکو مخنيوی وکړي ، البته که بيا وغواړي چي په اصولي ډول خپل فعاليتونه له سره پيل کړي نو د تضمين تر ورکړي وروسته بايد د کار او فعاليت نوی جواز تر لاسه کړي.

پوښتنه : تاسو په هيواد کي دتليفو ني شبکو دکنټرول او انسجام مسؤليت هم په غاړه لرئ موږ او رو چي اشغالګر او دهغوی کورني مزدوران دتلفو ني شبکو څخه دمجاهدينو او زموږ دهيواد والو په ضد ناوړه استفاده کوي که په دې اړه معلو مات را کړئ چي تا سو په دې برخه کي څه ډول اجرا آت کوی؟

ځواب : هو کي ، د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظيم کميسيون په ټول هيواد کي د تليفوني شبکو د فعاليتونو څارنه هم کوي او په مختلفو ولايتونو کي د سيمي د حالاتو په نظر کي نيولو سره يي نوموړيو شبکو ته د

فعالیت طرز العمل جوړ کړی دی چي په ځیني سیمو کي ځلرویشت ساعته فعاله وي ، په ځینو کي بیا د ورځي له خوا خلاصي او د شپي بندي وي او په ځینو نورو کي بیا له اړتیا سره سم د څو ساعتونو لپاره د فعالیت اجازه لري البته دا ټول د ولس او مجاهدینو په غوښتنو پوري تعلق لري او د دا ډول طرز العمل په پلي کولو سره د هیواد په مختلفو برخو کي د دښمن د چاپو او ړندو بمباریو مخنیوی شوی او د ملکي تلفاتو شمیره هم ورسره کمه شوي ده ، له بلي خوا دغو کمپنیو ته هم کافي سهولتونه ورکول شوي دي هغه که د امنیت په برخه کي وي او یا هم د افرادو او وسائلو د حمل او نقل په مورد کي ، زه په پوره ډاډ سره ویلای شم چي اوس هیڅوک هم نشي کولای چي د تلیفوني کمپنیو کارکوونکي د خپلو ناروا غوښتنو د تر سره کولو لپاره تهدید کړي او یا یي هم اجناس او وسائط ور څخه وګرځوي.

نوموړي شبکي مکلفي دي چي له ټاکل شوي تګ لاري سره سم عمل وکړي.

پوښتنه : د مؤسساتو د کمیسیون په نمایندګۍ که مؤسساتو ته څه پیغام لري هم را سره شریک کړي ، چي مؤسسات باید خپلو کارونو د دوام لپاره څه ډول فعالیت وکړي او څه ونه کړي؟

ځواب : افغانستا ن یو جګړه ځپلی هیواد دی چي له کلونو کلونو را هیسي له ډول ډول کړاوونو سره لاس او ګریوان دی نو په هره برخه کي مرستو ته اړتیا لري ، د دي لپاره چي د بشري چارو د فعالیت مخه تل پرانیستي وي زموږ غوښتنه دا ده چي بشري مرستي ، رغنیز فعالیتونه ، د صحت او تعلیم چاري باید د هیواد ټولو وګړو ته بي له کومه توپیره په یو ډول ورسیږي او د وګړو او سیمو تر مینځ د تبعیض مخنیوی وشي.

په همدي ډول ټولو مرستندویه مؤسسو ، ټولنو او خصوصي شرکتونو ته دا وضاحت کول غواړم چي د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظیم کمیسیون د اسلامي امارت په تشکیلاتو کي د دي لپاره ایجاد شوی دی چي د رغوني ، بیا رغوني او بشري مرستو د ویش په وړاندي د شته ستونزو مخه ونیول شي ، د نوموړي کمیسیون له عمومي نماینده پرته هیڅوک د دي حق نه لري چي په یو او بل نامه له مؤسسو او شرکتونو سره تماس ونیسي ، البته د هر ډول ستونزو پر مهال باید دوی مستقیما خپل مشکل د عمومي نماینده په توسط تر کمیسیون پوري ورسوي.

د اسلام او هیواد د دفاع په ګرمو سنګرنو کي پرتو مجاهدینو ته مي پیغام دا دی چي: د دښمن هر ډول د سیسو ته باید متوجه و اوسي ، د کمیسیون له سیمه ایزو استازو سره خپلي مرستي ته دوام ورکړي ، د اړتیا په صورت کي پوره همکاري ور سره وکړي ، وخت په وخت خپل معلومات سره شریک کړي او هیچا ته هم اجازه و نکړي تر څو په یو او بل نامه د بي باوری فضاء را مینځ ته کړي او د خپلو شومو اهدافو ترلاسه کولو ته زمینه برابره کړي.

د افغانستان میړنی ولس هم باید په دي پوه شي چي د مؤسسو او شرکتونو د کنترول او تنظیم کمیسیون به ستاسي په مرسته ستاسي د هر ډول ستونزو د حل لپاره په خپل ټول توان سره خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړي تر څو له یوي خوا د هیوادوالو د مشکلاتو د حل او هغوی ته د هوسا ژوند لاري چاري برابري شي او له بلي خوا د مرستو په نامه د دښمن د دسیسو مخه ونیول شي.

الاماره: دا چي وخت مو راکړ ډیره زیاته ډیره مننه.

د کمیسیون رئیس: له تاسي څخه هم مننه کوم او له الله تعالی څخه در ته لا زیات توفیق غواړم تر څو د روان جهاد او اسلامي امارت بریالۍ نشراتي مبارزه لا پسي پیاوړي شي.

پای

دسلواغي دشپږویشتمې پهٔویاړ

سید سعید



دسلواغي شپږ ویشتمه دافغان ملت دویاړ یوه لویه اوتاریخي ورځ ده، دافغان ولس جهادي طوفاني څپو دکرملین واکمن اړیستل چې په دغه ورځ له افغانستان څخه خپل ټول عسکروباسي اورسماځپله ماته ومني .دوارساسره ډغري وهلوته لویو اتومي ځواکونوزړه نه ښه کاوه ، خوافغان ولس په تش لاس دوارسادلوی ځواک مختـه خپلـه سینه سپر کـړه چې پـه برکت یې الله جل جلاله د اتحادجماهیرشوري امپراتوري تراوسنۍ روسیې پروي ور ټوله کړه .

سرو لښکرو د۱۳۵۸ل ،دمرغومي په شپږمه پرافغانستان وحشیانه یرغل وکړ ، په اصطلاح افغان – شوروی ببرک کارمل یې په روسي ټانګ سپورافغانستان تـه راوست اودکابل پر پلازیې نصب کـړ ، دکمونیزم داخلي مزدورانودشوروي بادارانوپه ملتیاپه افغاني ټولنه کې دمارکسیزم دپلي کولو په موخه کټ مټ دلیلن اوستالین له انتهایي ظالمانه روشونوڅخه کار واخیست ،دوی هم دخپلو بادارانوغوندې دټولوهغواقشاروا و افرادوچې مخالفت یې ورسره درلودد وژلو، نیولو ،او شکنجه کولوړۍ پیل اوپه خورا شدت سره جاري وساتله ،خلقیان اوپرچمیان په شوروي پوځونو، وسلواوپیسو دومره مغرورشوي ووچې په یوه ورځ یې هرات کې دپنځه ویشت زره هیوادوالوويني وبهولې ،همدا رازدهیواد په ګوټ ګوټ کې یې په سلهاووزره ښځي ،ماشومان، اوبوډاګان شهیدان کړل ،په لسهاووزره روحانیون ،علماء اومخوریې ولچک وزولانه کړل چې دزیاترویې تراوسه پوري هم دمرګ اوژوندحال نه دی معلوم .

دشوري ضدجهاد کې یونیم ملیون افغانان شهیدان اوهمدومره معیوب شول ،پنځه ملیونه مهاجراوټول ولس له راز رازغمونو اوکړاونو سره لاس وګریوان شو.عام المنفعه تاسیسات ګړوب شول ، صنعتي پارکونه ویجاړشول، کلي ،فصلونه اوباغونه دنیپال اوسکاټ په لمبو کې وسوځیدل ، لویې لاري شوروي ټانګونواوزرې پوښونو کنډوکپر کړې او.....

افغان ولس دخپلووینواوسرونوپه بیه دمارکس ،انګلزاوډاروین له وژنکوویروسونوڅخه امت وژغوره ،له هغه دین څخه یې چې الله تعالی وایې «رضیت لکم الاسلام دینا»ځانونه ځار کړل ، اودهیوادخپلواکي یې ترلاسه کړه. دافغان جهادلـه برکته پـه ټولـه نړۍ پـه ځانګړي توګه منځنۍ اسیااوقفقاز کې دخپلواکۍ جرس وګړنګېد ، بیده ضمیرونه یې ویښ کړل ،محکوم ولسونه یې پاڅون ته بیداراوتیار کړل ،دافغان جهاد څخه په الهام اخیستنه دنړۍ په مختلفو سیموکې پاڅونونه وشول ،دخپلواکۍ ګټلوناري پورته شوې ،دلسیزواوپیړیوراهیسې بـایللې مځکـې بیرتـه اصـلي مالکانوترلاسه کـړي، دخوار ځواکه امت دصحت لپاره تر ټولومجربه خوهېره شوې نسخه(جهاد) بیا دودشوه اودنړۍ په ګوټ ګوټ کې دکفر اوظلم پرضد دحی علی الجهادازانګې پورته شوې .

افغانستان چې پـه نړۍ کې دامپراتوریوپه هدیره سره شهرت لري ،شوروي تـه هـم قبرستان شو،ددوی په اعتراف پنځه لس زره پوځیان یې په افغانستان کې ووژل شول، څه کم پنځوس زره عسکر یې معیوب شول . ترلس زره ډیرګاډي ، ټانګونه اوبیلابیل نقلیه وسایط یې ویجاړ شول ،څلورسوه اوبوڅلویښت چورلکي اوالوتکي یې داور خوراک شوې اوهمدا رازپه لسهاوو زره لویې اووړې وسلې، وسایل اومهمات یې له منځه ولاړل .

شوروي عسکرو په افغانستان کې نهه کاله اوپنځوس ورځې تیرې کړې کرملین په نوبتي شکل شپږ لکه پوځیان افغانستان ته راولیږل ،خود خپل ټول وحشت ،زر اوزور کارولوسره سره ونه توانیدل چې دزمرو په زاله کې دپښې ټینګولوځای ومومي ، بالاخره دافغان ولس سپېڅلی مقاومت مجبور کړل چې د۱۳۶۷ل ،دسلواغې په شپږ ویشتمه له افغانستان څخه پښې سپکې کړي .

ننني نیواکګر په افغانستان کې کټ مټ دپخواني شوروي اشغالګرو له تور برخلیک سره مخ دي، ددوی پرضد هم دهیوادپه لویدیځ اوختیځ ،شمال اوجنوب کې ولس پاڅون کړی دی ،نننیو یرغلګرو ددوی داعتراف له مخې تر دې دمه په افغانستان کې په سلهاوو ملیارډه ډالر ضایع کړي ،او دسلهاوو پوځي نقلیه وسایطو، وسایلو ،چورلکو، الوتکو او..... دلـه منځـه تلوتر څنګ یې دخپلودرې زره اوڅلورسوه پوځیانودوژني پخلی هم کړی چې په واقعیت کې یې دسر اومال زیان تر دې څو چنده زیات دی .ناټو دوارسا په ګور کې دبقا خوبونه ویني ، دخپل رقیب دوژني څخه یې نه یوازې دا چې عبرت وانه خیست ،بلکې دهغه په پیروي یې ځان دامپراتوریو په هدیره کې ښکېل کړ چې بې له شکه به له هماغه حالت سره مخ کیږي چې شوروی ورسره مخ شو.ان شاءالله

په منځنۍ افریقاکې

'' شهید زوی ''

دمسلمانانوعامه وژنه دچا په لمسون اودڅه لپاره؟

د منځنۍ افریقا په ،،کار ،، نومي هېواد کې چې په کومې بې رحمۍ دمسلمانانو قتل عام وشو او روان دی یقیناً ددې وړ دی چې د اوښکو پرځای پرې دستر ګو نه وینې توی شي، دپلازمېنې هنګوبې په شمول دهېواد په مختلفو برخو کې په زرونو یاسونو ډلې ډلې مسیحیان وسلې چړې، خنجرونه او کوتکونه په لاس په مسلمان مېشتو سیمو یرغلونه کوي، د کوچني، ستر، ښځې او سړي دامتیاز پرته په کورونو کې دننه او دتېښتې په حالت کې په لارو کوڅو کې له هر ډول وېرې پرته ښه په بې دردۍ مسلمانان وژني، کورونه او ملکیتونه یې سوځوي؛ دوژل شویو مسلمانانو جسدونو ته اور اچوي او په اور دمسلمان دوریتو شوو جسدونو نه لکه دسپو په خپلو خولو غوښې رابېلوي او ښه په مینه یې خوري.

دمنځنۍ افریقا جمهوري د ،،کار،، په نوم دتور پوستو داهېواد، نېږدې ۶ لکه او ۲۵ زره کیلومتره مربع مساحت لري او دنفوسو شمېر یې نېږدې ۵ میلیونو ته رسېږي، چې ددې هېواد دخپلو ادارو په وینا ۵۰ سلنه پکې دمسیحیانو، ۳۵ پکې دځای نورو مذهبونو دپیروانو او ۱۵ سلنه پکې دمسلمانانو ده ؛خودمسلمانانو ځایې اداري مسلمانانو فیصدي د ۲۰نه هم زیاته ګڼي .

ددې دشمال ته چاډ او شرقي سوډان پراته دي، ختیځ ته یې جنوبي سوډان، سهیل ته یې کانګو او لویدیځ ته کیمرون دی.

دا سیمه چې پکې دمنځنۍ افریقا داجمهوریت هم واقع دی ډېره موده دفرانسې تراشغال لاندې وه، په ۱۹۱۰ کې دا هېواد دفرانسې تراشغال لاندې راغلو چې تر ۱۹۶۰م پورې یې تراشغال لاندې و؛ ځکه خو فرانسوي ژبه لاهم په دولت کې رسمیت لري اګر چې درسمي چوکاټ نه بېرون دخبرو ژبه سانګو ده ؛ د۱۹۶۰ کال داګست په ۱۳ مې نېټې دې هېواد ته ازادي ورکړل شوه خو داستعمار ترورځوېې دازادۍ ورځې زیاتې له بدبختیو ډکې وې، دا هېواد جمهوري هېواد ګڼل کېږي خو دازادۍ نه پس تر ۹۰ یمې لسیزې پورې پدې هېواد کې جمهوري دولت رامنځته نه شو ؛ ۳۰ کاله مسلسل دلته دزور واکانو زورواکي روانه وه چې ددې زورواکانو په شتون کې ولس دآزادۍ نه پس هم هیڅ ډول پرمختګ په ستر ګو نه لیدلو .

دا هېواد هم دګڼو نورو افریقایي هېوادونو په څېر په طبعي زېرمو غني هېواد دی، په باکوما نومې سیمې کې یې دیورانیمو ډېرې زیاتې زېرمې شتون لري او ((وکاګا)) نومې سیمه یې چې دخوراکي تېلو نه ډکه ده تر څنګ یې دلته دسرو زرو، لعلونو او جواهرو، هایډروجنو او نورو کانونو ډېرې زېرمې هم شتون لري خو دا چې ددې هېواد دحاکمانو ددې زېرمو نه دولس په ګټه کار ندې اخستی نو ځکه دا هېواد دنړۍ په ترټولو غریبو او دافریقا په ۱۰ ترټولو غریبو هېوادونو کې شمېرل شویدی، دلته دهر تن کلني عواید ایله ۳ سوه ډالرو ته رسېږي چې دا دنړۍ دعوایدو ترټولو ټیټه کچه ده.

ددولتونو له لوري دولس پرمختګ ته نه پاملرنه چې دولس او دولت ترمنځ دلري والي سبب او ددولت پرضد دولس دپاڅون خطر مخ په زياتېدو شو نو ځکه نړيوالو دلته خپل فشارزيات کړ چې له امله يې په ۱۹۹۳ کې دې هېواد کې عامو انتخاباتو ته لار برابره شوه، د۱۹۹۳ پدې عامو انتخاباتو کې ګڼو سياسي ګوندونو ګډون کړی و چې پکې ((اينج فيلکس پټاسي)) بريالی او دهېواد ولسمشر جوړ شو ؛ خو په ۲۰۰۳ کې پرې فوځي مشر ((فرانکويس بوزيزي)) کودتا وکړه او بيا يې په ۲۰۰۵ کې ځان دهېواد ولسمشر اعلان کړ دا چې دده دولت دولس غوښتنو ته مثبت ځواب نه و ويلی نو بايد ولسمشري يې پرېښې واي خو هغه دقدرت په چوکۍ کلک پاتې شو او کله چې په ۲۰۱۱ کې انتخابات ترسره شول دهمده ګوند پکې بريالی اعلان شو چې ولس يې ډېر غصه کړ ؛دولس دا غصه او ناراضايت په ۲۰۱۳ کې په بغاوت بدل شو فرانکويس بوزيزي استعفی ورکولو ته اړ او د ۲۰۱۳ په مارچ کې دمسلمانانو ،، سليکا،، نومې ګوند واک ته ورسېد او ددې ګوند يو مشر ،،ميکال جوتوديا،، ددې هېواد ولسمشر شو چې ورسره سم دمسلمانانو پرضد دمسيحيانو د راپارولو لپاره ټول لويديځ او خصوصاً فرانسې دا تبليغات پيل کړل چې مسلمانان ددې هېواد په واک مسلط کېدل غواړي ؛ بس ددې خبرې درامخې ته کېدلو نه پس ددې هېواد نه دمسلمانانو دجرړو ويستلو په موخه د هماغه مارچ دمياشتې نه مسيحيانو په مسلمانانو وسله وال بريدونه پيل کړل چې ترننه دوام لري، د ۲۰۱۳ ددسمبر په ۵مې نېټې پدې هېواد کې دامن او سولې راوستلو په نوم ۱۶۰۰ فرانسوي فوځيان ددې هېواد پلازمېنې بنګويې ته راښکته شول، دفرانسوي فوځيانو ترڅنګ دلته داروپائی اتحاد ۱۰۰۰او دافريقايي اتحاد ۴۴۰۰ سوله ساتي فوځيان هم دلته راغلي دي چې دهمدوئ دفشار په نتيجه کې دهېواد مسلمان ولسمشر ،،ميکال جوتوديا،،دټېرې مياشتې ياني د ۲۰۱۴ دجنورۍ په ۱۰ مې نېټې په هېواد کې دامن راتللو او پرمسلمانانو دحملو بندېدلو په شرط استعفی ورکولو او دهېواد نه بېرون تللو ته هغه مهال اړ شو چې کله دفرانسوي فوځيانو او افريقايي مرکچيانو په وساطت دهغه نه دمسيحي ملېشو له لوري دواک نه دلرې کېدلو او دهېواد پرېښودلو غوښتنه رامخې ته شوه.

،،ميکال جوتوديا،،دالېګزينډر فرډيننډ په مشرۍ کې عبوري اداره جوړه کړه؛ پخپله يې استعفی ورکړه؛ واک يې عبوري ادارې ته پدې شرط وسپارلو چې په راتلونکي کې به ازاد انتخابات ترسره کېږي او سمدستي به د ،،اينټي بلاکا،،په نوم دمسيحي وحشي مليشو له لورې پرمسلمانانو حملې ودرېږي.

خو متأسفانه چې دنوموړي مسلمان ولسمشر داستعفی نه پس چې اصل واک مسيحي ملېشو ته په لاس ورغلو نه يوائې دا چې پرمسلمانانو حملې ونه درېدلې بلکې دبهرنو فوځونو ترچتر لاندې نبه زياتې او خورامنظمې شوې؛ دفرانسې او افريقايي اتحاد فوځيان دمسلمانانو دمال ځان او عزت دساتنې لپاره دهڅو پرځای دروان وحشت ننداره کوي او ضمناً مسيحي ملېشې دمسلمانانو پرضد لازيات ظلم او وحشت ته هڅوي ځکه چې فرانسويان خو هسې هم مسيحيان دي دافريقايي اتحاد دلته راغلي فوځيان هم درونډا، برونډي او ځنې نورو هېوادونو مسيحيان دي چې مسلمانانو ته يوائې دشر رسولو تمه ترې کېدای شي اوبس.



دفرانسې مشهورې ورځپاڼې ،،لافرانسوا،،په خپل يو

خپور کړي راپور کې اعتراف کړی چې دفرانسوي فوځیانو په شتون کې د محتاطو اندازو له مخې دهېواد په پلازمېنې بنګویې کې دوژل شویو تنانو شمېر ۱۰ زرو ته رسېږي او دپلازمېنې نه بهر دهېواد په مختلفو برخو کې د ۵ زرو نه زیات تنان وژل شویدي حال دا چې دمسلمان ولسمشر داستعفی ورکولو او دهېواد پرېښودلو په صورت کې مسیحي ملېشو مرکچیانو ته پرمسلمانانو دحملو نه کولو اطمینان ورکړی و.

پدې هېواد کې دځای Islamic Humanitarian Assistance نومي اسلامي تنظیم مشر شیخ احمدالمثل رسنیو ته ویلي دي چې: دفرانسوي فوځیانو په شتون کې دمسلمانانو عامه وژنې ډېرې پوښتنې راولاړې کړیدي ؛ مسیحي ملېشو پر مسلمانانو هغه مهال په خلاص مټ سترې حملې پیل کړې کله چې دفرانسې، افریقایي اتحاد او ملګرو ملتونو دامن فوځ دلته راغلو او دافریقایي مرکچیانو په منځګړیتوب مسلمان ولسمشر استعفی ورکړه ؛ نو داسې ښکاري چې دا هر څه دیو پلان له مخې شویدي ،،

آزاد اژانس آل افریقا ډاټ کام پخپل یو راپور کې لیکلي دي چې مسیحي ملېشې مسلمانان دبسونو او نورو مسافرو وړونکو موټرو نه راکوځوي په تورو او خنجرونو یې وهي لاپې ساه نه وي وتې چې دوئ یې دخوراک لپاره له بدن غوښې پرې کوي او یاورباندې تېل پاشي او ژوندي یې سوځوي بیا یې دبدن غوښې پرې کوي او دحاضرو وګړو ترمخه یې خوري ؛ مسلمانان چې پیاده له سیمو وځي دهغوئ هم همدا حال دی، چې پدې متمدنې نړۍ کې هم دلته دآدم خورۍ باب پرانستل شوی او دپرانستل کېدو سره سم عروج ته رسېدلی دی .

عجیبه دا ده چې ددې آدم خورو مشر ،، اوندجامنګلور ،، دمسلمانانو دعامه وژنې او ددوئ دغوښو خوړلو نه یواځې دا چې اعتراف کوي بلکې فخر هم پرې کوي خو څوک ترې دپوښتنې کولو نشته.

دنړیوالو ادارو له لورې دخپرو شویو راپورونو له مخې دپلازمېنې په شمول دهېواد په یوې برخې کې هم مسلمانان په خپلو کورونو کې ندي پاتې، یا خو مسلمانان دوه بهرنو هېوادونو چاډ او کیمرون ته کډه شوي او یا هم پخپل هېواد کې دیو نه بل ځای ته تللي دي چې دبې ځایه شویو ټولوشمېر یو میلیون ته رسېږي ؛ یواځې دهېواد هوایې ډګر ته دیولکو نه زیات مسلمانان راجمع شویدي.

دهیومن رایټس په شمول دبشر دحقوقو نړیوالې ادارې وایې چې دمسلمانانو شتمنئ چې په لوړ مقدار لوټ کېږي، کورونه یې ورانېږي، هجرتونو ته اړ کېږي، او قتل عام یې روان دی که دا هر څه همداسې روان وي نو ډېر ژر به دا هېواد دمسلمانانو نه خالي شي او دلته به بیادمسلمان په نوم لګکي څوک نه پېژني.

دملګرو ملتونو سرمنشي بان کې مون ویلي دي چې دا هېواد دمسلمانانو او مسیحیانو په سیمو دتقسیم دخورا ستر خطر سره مخامخ دی .

دلویدیځ دسیاسي دریځ پر ضد چې پدې ورځو کې دروسې له لورې یو کوچنی اقدام شویدی نو لویدیځ ټوله نړۍ په سر راخستې ده او په ملګرو ملتونو کې پدې اړه یو بل پسې ژر ژر دري بېړنۍ غونډې وشوې او روسې باندې داقتصادي بندیزونو خبرې رامخې ته شوې خو دلته چې دمنځنۍ افریقا په ،، کار ،، هېواد کې یو ستر بشري ناورین دی نو وربانډې دنړۍ دبشر دحقوقوټیکداران نړیوال ستر طاقتونه غوږ هم نه ګروي ځکه چې دلته دوحشت ښکار مسلمانان دي او مهمه دا ده چې وحشت دمسیحي وحشیانو له لورې دی؛ که چرته دنړۍ په کوم ګوټ کې دمسلمانانو له لورې ۱۵ زره نه بلکې ۱۵ عیسویان یا یهودیان مړه شوي وای بیا به نړۍ لېدلی وای چې نړیوال طاقتونه څومره ژر په حرکت کې راتلل ؟!

نړیوالو رسنیو هم خپله اسلام دښمنې ښکاره کړه، دا دمسلمانانو او مسیحیانو ترمنځ په نښتو او فساداتو تعبیروي حال دا چې دا دیو اړاخیزې حملې او دیو منظم پلان له مخې ددې هېواد نه دمسلمانانو دنابودۍ لپاره دوحشت یو خورا خطرناکه لړۍ ده.

اربکیان

ژغورونکي

(ډاکټرعطامحمد رحیمي)

کله چې داربکیزم کرغېړنه پروژه د ورک اسدالله خالد او دهغه د بانډچیانو پر لمسون لومړی ځل د غزني په اندړو کې رابرسېره شوه، په هماغه پیل کې یې چې د دوی اخلاق همدې بنسټګرو په خپلو سترګو ولیدل، مایوسه ښکارېدل او ښکاره یې اعتراف کاوه، چې ممکن همدا اربکیان به داسې بڼه خپله کړي، لکه پخوانیوزردادیانو چې هیڅ ډول ارزښت به پر رسمیت نه پېژني.

همداسې وشول، د هېواد په ګوټ ګوټ کې لومړی ځل د ولسي پاڅون او دقومي مخورو ترسرلیک لاندې فعالیت شروع کوي چې وروسته یې خپله څېره ورو ورو بربنډه بړې. په دې وروستیو کې له غلامو رسنیو نه داسې راپورونه خپاره شول چې دلوګر په چلتن کې هم ولسي پاڅون شوی، ولسي پاڅون پر دې مانا چې دا خلک له هیچا سره تړاو نه لري یوائې غواړي په خپلو متو له خپلو سیمو نه طالبان ورک کړي.

لومړی خو دا خبره عقل نه مني چې د یو چا دې دښمن شریک وي، خو دوی دې سره دوستان نه وي، ځکه امریکا، ګوډاګی رژیم او همدا اربکیان ټول همدا یو غرږ لري چې طالبان ورک کړي، نو بیا اربکیانو پر کوم منطق ځانونه له دولته لري او دولس له منځه بولي؟؟؟ که چېرته دوی رښتیا هم د ولس له منځه ولسي پاڅون کړی وي نو داسې یو ولس چې له لسګونه ځل د خپل بادار له خوا ډې ډې آر او ډایاګ شوی وي، هغوی باید په تېرګیو او لرونو پاڅون وکړي، اما تاسې به لیدلي یا هم اورېدلي وي چې د اندړول له شریرو اربکیانو سره داسې سلاح ګانې په پیل کې موجودې وي چې د دې ګوډاګي رژیم له اردو سره هم نه وي. نو پر کوم دلیل دغه خلک د ولس له منځه دي؟؟؟

د لوګر پاڅون خپلو پوره دوه ورځې خپله اصلي اربکینه څېره معلومه کړه او پر ګوډاګي رژیم یې غږ وکړ چې له موږ سره باید مرسته وشي، دا دی د خلکوپر فکرونو ملنډې!!!

د دې شريرې ډلګۍ په منځ کې داسې خلک ننوتل چې په هيڅ ډول ارزښت بند نه دي او هيڅ ډول ارزښت په رسميت نه پېژني، لواطت، زنا، لوڅ فلمونه، چرس، بچه بازي او فحشا يې ورځني عادتونه دي. ځکه خو دې خلکو بې له نظامي، اخلاقي، ټولنيزې زده کړې ټوپک غاړې ته واچاوه او د سرک پر سر د سرک د ساتلو پر نامه د خلکو د لوټولو لپاره ودريد.

د غزني د مقر په بازار کې اربکيانو پر هردوکاندار د مياشتې زر افغانۍ خپل حق ګڼلی او که يې ورنه کړي، نو داسې حال به يې وي، لکه د زابل د اسحاقزي چې پر همدې زرو افغانيو يې شهيد کړ.

د اندړو اربکيان بيا د څهارد بوال په سيمه کې په رڼا ورځ د پکتيکا غزني په لويه لاره د موټرو د تالاشۍ پر پلمه د خلکو جيبونه لوټي.

دوه ورځې وړاندې يې له پکتيکا څخه را روان ټونيس ډوله موټر پاک تلاشي کړی و، او د موټروان پر قول چې پنځه ويشت زره کلدارې يې ټولې کړي.

موټروان وويل چې څو ځلې د دې لارې مسوول قوماندان چې له غزني ښار سره په بيرګټ کلا کې اوسي ورغلي يو، شکايت مو ورته کړی هغوی لا راته ويلي دي، چې دا خو زموږ مربوط نه دي، دا خلک خو تاسې جوړ کړي دي.

د پکتيکا په مرکز ښرنه کې د اربکيانو يو اځي يوه پوسته چې د زړې ښرنې پرنامه په يوه کلا کې اوسي، د يادې سيمې د اوسېدونکو پر قول تل له کلي نه ښايسته هلکان پر دې خاطر چې ګواکي په دوی پسې يې ښکنځل کړي، پوستې ته بيايي او شپه پرې تېروي، که يې دا هلک شکايت وکړي، د ويډيو پر خپرولو يې ګواښي. د دوی په خبره تر ولايته څو ځلې خو په پکتيکا کې د اربکيانو عمومي قوماندان عزيزالله يې خبره په خوله کې وروچه کړې ده.د دې ولايت د ځينو ولسواليو اوسېدونکي بيا له اربکيانو پر نورو فحشاو سربېره پر دې په تنګ دي، چې له کيلومترو لرې راغلي شينواري چې کورني اربکيان ورسره دي د دوی په کورو کې دېره دي او له دوی نه بوټي، لرګي او د خوراک توکي غواړي، مګر پر دې سربېره په پکتيکا ځينې ځيره خواره خبريالان لا دا راپورونه خپروي چې د پکتيکا خلک د اربکيانو ډېرښت غواړي!!!

همداسې وشول، د هېواد په ګوټ ګوټ کې لومړی ځل د ولسي پاځون او د قومي مخورو تر سر ليک لاندې فعاليت شروع کوي چې وروسته يې خپله څېره وروورو بربنډېږي. په دې وروستيو کې له غلامو رسنيو نه داسې راپورونه خپاره شول چې دلوګر په چلتن کې هم ولسي پاځون شوی،ولسي پاځون پر دې مانا چې دا خلک له هيڅا سره تړاو نه لري يوازې غواړي په خپلو مټو له خپلو سيمو نه طالبان ورک کړي.

په کندوز کې د دې شريرې پروسې په پنځلس کسيزه ډلګۍ سره د عبدالخالق پر مشرۍ پر پنځلس کلنې نجلۍ د کورنيو د نورو غړيو ترمخ جنسي تېری کړی دی، چې رسنيو پرې په څو څو ځلو ورته پېښو خوله پټه کړې ده.

سره له دې چې د دې شريرو پاټکيانو اړوند د هېواد په ګوټ ګوټ، لکه زابل، کندوز، پروان، غزني، پکتيکا، فراه او... کې لاريونونه شوي، خو د کابل دولت پورته خلک د دوی اربکيانو د استعمال نه په ګټې په مزو چړچو اخته دي.

هغه بې موره، بې پلاره، ښايسته، څوارلس کلن، ښوی مخی اربکی پر دې نه دی خبر چې دی له کوم نظام نه دفاع کوي؟؟؟

مشران اربکيان يې بيا هيڅ ډول نظام په رسميت نه پېژني او د هرې پوستې اربکی د خپل پاټک پاچا دی!

د عیسیٰ علیه السلام
له لوري د اخري پیغمبر زیری

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم امابعد:

په اوسنۍ زمانه کي هغه خلګ چي دعیسائیت دعوه کوي، خو بیاهم د اسلام پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم

ایمان نه راوړي.

دوی باید لږترلږه دومره فکروکړي چي آیادوی ته عیسائیت ددې کار اجازه ورکوي چي د اسلام له پیغمبر صلی الله صلی الله علیه وسلم څخه انکار وکړي؟

راشئ! وګوروچي حضرت عیسی علیه السلام او انجیل په دې هکله څه وایي؟

حضرت عیسی علیه السلام خپلو تابعدارو ته زموږد پیغمبر صلی الله علیه وسلم د راتګ خبرورکړی و او الله پاک فرمایي: قال الله تعالی: (وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ مُصَدِّقاً لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّراً بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هَذَا سِحْرٌ مُبِينٌ) الصف/۶. {او یادکړه د مریم د زوی عیسی (علیه السلام) هغه خبره چي هغه ویلي وو چي اې بني اسرائیلو: زه تاسو ته د الله لېږل شوی استازی یم، تصدیق کوونکی یم د هغه تورات چي له ما مخکي راغلی موجود دی، او زیری ورکوونکی یم د یوه پیغمبر چي له ما وروسته به راشي چي د هغه نوم احمد دی، خو کله چي هغه دوی ته د ښکاره نښانو (معجزو) سره راغی، نو دوی وویل: دا خو ښکاره کوډي دي}

په بل ځای کي الله جل جلاله فرمایلي دي:} : الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوباً عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (سورة الاعراف الایة ۱۵۷)

ژباړه: دا (تقوا لرونکي، زکات ورکوونکي او د الله په آیاتونو ایمان لرونکي) هغه کسان دي چي تابعداري دداسي رسول کوي چي نبي او امي دئ. هغه رسول چي دوی یې (نوم او یاد) په تورات او انجیل کي له دوی سره لیکلی پیدا کوي، (هغه رسول چي) په ښېګڼې سره دوی امر کوي او له بدۍ څخه یې منع کوي، دوی ته پاکیزه شیان حلالوي او مردار شیان ورته حراموي،

او د رانه پېټي (سخت احکامات) ترې ایسته کوي او هغه سخت طوقونه (سزاګاني) چي پر دوی باندي وو، (ایسته کوي) نو هغو کسانو چي ایمان پرې راوړ، ملاتړ او مرسته یې وکړه او په هغه رڼایي پسي روان شول چي له ده سره را نازله شوې ده، همدوی بریالي کېدونکي دي!!)

په حدیث شریف کي راغلي دي: عن خالد بن معدان عن أصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم أنهم قالوا: یا رسول الله أخبرنا عن نفسک. قال: "دعوة أبي إبراهیم وبشری عیسی، ورأت أمي حین حملت بي کأنه خرج منها نور أضاءت له قصور بصری من أرض الشام." (اخرجه الطبري، والحاکم والبیهقي وقال ابن کثیر ص۲۰۶ ج۲ وهذا اسناد جید)

خالد بن معدان د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ملګرو څخه روایت کوي چي دوی وویل: اې د الله رسوله (صلی الله علیه وسلم) موږ ته د ځان په هکله خبر راکړه!

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه د خپل پلار ابراهیم (علیه السلام) دُعاء یم، د حضرت عیسی علیه

السلام زېرى يم اوكله چي زماموږ زماله امله اميدواره شوه، خوب يې وليد لكه له دې څخه چي يوه داسي رڼاووتله چي له امله يې دشام دزملكي دبصرى ماڼۍ روښانه شوې ! !

په اوسني انجيل كې داسلام دپيغمبرپه هكله زېرى

داخبره خوښولوته معلومه ده او خپله يهود او نصارى هم ددې خبري اقراركوي چي په تورات او انجيل كي تحريف اوبدلون راغلى دى.

او حقيقت دادى چي په دغودواړوكتابونوكي دومره زيات تحريف راغلى دى چي داصلي كلام پېژندل ناشونى اوگران كاردى.

په دغه محرف اوبدل شوي انجيل كي اوس هم داسي خبري شته چي له هغو څخه داجوتېږي چي حضرت عيسى عليه السلام دآخري پيغمبرصلى الله عليه وسلم دراتگ زېرى وركړى وو.

چي داپه اصل كي دنبي عليه السلام يوه معجزه ده چي دتورات او انجيل دبدلون سره سره بياهم څه ناڅه خبري تراوسه په انجيل كي پاته شوې دي چي دنبي عليه السلام تائيداو دراتگ زېرى ترې معلومېږي په اوسني انجيل كي داسي راغلي دي:زه به تاسوسره زياتي خبري ونه كړم ځكه چه ددې دُنياسرداررا تلونكى دى اوماپه ماكي دهغه هيڅ نشته(انجيل يوحنا:ايت٣٠باب١۴)

په دې كي حضرت عيسى عليه السلام ددُنيادسرداردراتلوخبروركړى اودايې هم ويلي چي كومه مرتبه اوفضيلت هغه ته الله پاک وركړى دى، ماته نه دى راكول شوى.

ددې وجه په بل ځاى كي داسي ليكي:ځكه چي زموږعلم ناقص دى اوزموپيغمبري ناتمامه ده، ليكن كله چي كامل راشي نوناقص به ځي(كورنتيانوته دپولس لومړى خط:باب:١٣آيت:٩، ١٠)

په بل ځاي كي داسي وايي:كله چي هغه دحق روح راشي، نوتاسوته به درښتينولۍ لاردرښيي ځكه چي هغه له خپل لوري نه وايي، ليكن څه چي اوري هغه به وايي اوتاسوته به دراتلونكي خبردركوي(انجيل يوحناباب:١٢آيت:١٣)

ددغوصفاتولرونكى شخص له نبي عليه السلام پرته بل څوک نه دى اوداټول صفات په هغه كي موجودوو:

ددُنياسردار، دكامل شريعت خاوند، خلگوته درښتينولۍ دلاري ښودونكى، دراتلونكي په هكله ښشمېره وړاندويني كوونكى اوله خپل لوري پرته له هغه چي ورته يې وحي شوې وي دنورڅه نه ويونكى داهغه صفات دي چي داسلام په پيغمبرصلى الله عليه وسلم كي په بشپړه توگه موجودوو.

په بل ځاى كي له نبي عليه السلام څخه انجيل په مرستندوى سره تعبيركوي اودده دشريعت ترقيامته دپاته كېدلوخبروركوي ليكي:اوزه له پلارڅخه غوښتنه كوم ،نوهغه به تاسوته بل مرستندوى دركړي چي ترابده پوري ستاسوسره واوسي(انجيل يوحناباب:١۴آيت:١٢)

په دې كي دراتلونكي پيغمبردراتلوزېرى اودده دشريعت ترقيامته دپاته كېدلوخبروركول شوى دى.

همدارازنورځايونه هم ډېرشته په ځانگړي توگه په انجيل برناباس كي خوډېرزيات اوډېرپه صراحت سره دنبي عليه السلام بيان راغلى دى.خوموږاختصارته په پام په دغوحوالواكتفاءكوو.

نوددې سره بياهم چي عيسايان پرنبي عليه السلام له ايمان راوړلوډډه كوي، دا له انجيل څخه دبشپړمخ اړولوپرته بل څه نه دي.

علامه ابن قيم جوزي رحمه الله ليكلي دي: لو لم يظهر محمد بن عبد الله صلى الله عليه وسلم لبطلت بنوة سائر الأنبياء، فظهورنبوته تصديق لنبواتهم، وشهادة لها بالصدق،

فإرساله من آيات الأنبياء قبله، وقد أشار سبحانه إلى هذا المعنى بعينه، في قوله:(جاء بالحق وصدق المرسلين(فإن المرسلين بشروا به، وأخبروا بمجيئه؛ فمجيئه هو نفس صدق خبرهم.(هداية الحبارى في اجوبة اليهود و النصارى ص ۱۲۰)

(که رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وی ښکاره شوی، نو د ټولو پیغمبرانو (علیهم السلام) پیغمبري به باطله شوې وی، نو دده د پیغمبرۍ راښکاره کېدل د هغوی د نبوتو لپاره تصدیق دی او د هغوی د پیغمبرۍ لپاره په رښتیا والي سره شاهدي ده، نو دده را لېږل تر ده د مخکینیو پیغمبرانو له معجزو څخه ده.

او الله پاک هم دې خبري ته په خپله دې وینا کي اشاره کړې چي: هغه (نبي علیه السلام) له حق سره راغلی او د ټولو (پخوانیو) پیغمبرانو تصدیق یې کړی دی! ځکه پیغمبرانو دده په هکله زیری ورکړی وو او دده د راتګ خبرې ورکړې وو، نو دده راتګ په خپله د دوی د خبر صدق او رښتیا کېدل دي!!

نو پر عیسایانو باندي د حضرت عیسی علیه السلام او د انجیل د تعلیماتو په رڼا کي هم دا لازمه ده چي د حق په روح او د دُنیا په سردار جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ایمان راوړي.

که کوم د عیسائیت مدعي ایمان نه راوړي نو هغه عیسایي نه بلکي له حضرت مسیح علیه السلام او انجیل څخه هم منکر دی او د حضرت عیسی علیه السلام رښتوني منونکي او ورسره مینه لرونکي یوازي او یوازي مسلمانان دي چي پر ټولو پیغمبرانو علیهم الصلاة والسلام ایمان لري او د ټولو احترام کوي.

وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله واصحابه اجمعین

مولوي عصمت الله عزام

د عمر په کوم کال کې نه هېرېدونکې خاطرې ثبتېږي؟

په امریکا کې یوه وروستۍ څېړنه وایي، چې د انسان د ژوند تر ټولو غوره او نه هېرېدونکې خاطرې په ۲۵ کلنۍ کې ثبتېږي، دغه خاطرې له انسان سره د عمر تر پایه وي او له ځینو استثنایي حالاتو پرته کله هم د چا له یاده نه وځي.
د څېړنې د معلوماتو په اساس، ډېری کسان چې د ۳۰ تر ۴۰ کلنۍ عمر ته رسېږي، نو د پرېښانۍ او غم احساس کوي؛ اما په تقاعد شویو کسانو ترسره شوې دا څېړنه وایي، چې د انسان د ژوند تر ټولو غوره او خوږې خاطرې د هغوی د ځوانۍ د مهال وي.
دا څېړنه پخپل ډول کې لومړنۍ هغه ده او له څېړل شویو کسانو یکې د ۳۰ دقیقو لپاره د هغوی د تېر ژوند په اړه پوښتنې شوې دي، دې کسانو د خوابونو د دقت لپاره یوه اونۍ وخت درلود او تر یوې اونۍ وروسته یې ویلي چې ۲۵ کلنۍ یې د ژوند له ښو خاطراتو ډک وخت دی.
څېړنه ښيي چې؛ د انسان د عمر له خاطراتو ډک او مالامال کلونه له ۱۷ تر ۲۴ کلونو دي، خو ۲۵ کلنۍ بیا د مثبتو، ښو او نه هېرېدونکو خاطراتو ټولګه ده چې انسان یې تر مرګه یاد ساتي.
په اوسط ډول ځوانان پدې کال کې له پوهنتونه فارغېږي، دنده پیدا کوي، واده کوي، د بچیو پلار کېږي او د ژوند د نورو مهمو او مثبتو پېښو ډېری یې په همدې کال کې رامنځته کېږي.
د همپشایر پوهنتون استاده او ددې څېړنې یوې غړې کریستینا اشتاینر ویلي چې؛ د انسان د عمر ۲۵ کلنۍ په ځان د هغوی د بسیا کېدو له پلوه غوره کال دی او د پورته ځانګړنو په ترلاسه کولو دوی هېڅکله هم د دغه کال لاسته راوړنې نشي هېرولی.

آمریکای دیروز ، امروز و فردا یکی است!

منابع خارجی

امروز دنیا، دنیای ظلم و دروغ و فریب است. پرچم دفاع از حقوق بشر را کسانی به دوش گرفته‌اند که بزرگترین دشمنان حقوق بشرند! در راس آنها هم دولت امریکا است. ببینید در داخل کشورشان، با سیاهان چه می‌کنند! هنوز مساله‌ی تبعیض نژادی در آن کشوری که مدّعی آزادی و حقوق بشر است، حل نشده است. هنوز انسانی به جرم پوست سیاه، تامین ندارد که در آن جامعه زندگی کند! يك وقت اگر لازم باشد، به جرم سیاه پوست بودن، پولیسی او را تا حدّ کشتن کتك می‌زند !

اینها ادّعای حقوق بشر می‌کنند! اینها چشم خود را بر جنایات وحشت‌آور حکومت غاصب صهیونیست می‌بندند. این بمبارانها، این آدمرباییها، این کشتارها؛ اینها همه جنایت است. همه‌ی اینها حرکات ضدّ حقوق بشر است. طرفداران حقوق بشر، هیچ احساس نمی‌کنند که ضدّ حقوق بشر در آن‌جا انجام می‌گیرد .

امروز پرچم حقوق بشر را چنین کسانی بردوش گرفته‌اند! امروز در دنیایی که بر اساس فرهنگ زور و نامردمی بنا شده است، همه ملتها باید روح دفاع از مصالحشان را در میان خود تقویت کنند. می‌بینید که چطور سیاستهای عالم بر اساس زور، ظلم و نادیده گرفتن حقوق انسانها می‌چرخد و اداره می‌شود .

دوازده سال است که آمریکاییها همه نوع جنایت در کشور ما مرتکب می شوند. مردم افغانستان با بدترین شکنجه‌ها در زندانهای تحت اختیار خارجی ها شکنجه می شوند. همه منابع و معادن افغانستان را غارت می کنند. بعضا به حریم نوامیس افغانستان تجاوز می کنند و با همکاری با مافیای مواد مخدر جوانان کشور ما را به بدبختی می کشانند. وضعیت زنان و کودکان افغانستان نیز بعد از سرازیر شدن میلیاردها دالر به کشور ما مشخص است. توهین به مقدسات اسلامی و منحرف کردن اعتقادات مذهبی مردم توسط نیروهای وابسته به آمریکا نیز بر کسی پوشیده نیست.

آیا اینها معنی حقوق بشر را می فهمند؟! آیا این آدمها و این سیاستمدارها می‌توانند ادعا کنند که اصلاً حقوق بشر را فهمیده‌اند؛ چه رسد به طرفداری از حقوق بشر؟! اینهایی که وقتی می‌خواهند راجع به دولتهای مخالف خودشان حرف بزنند، مثل نقل و نبات همین‌طور کلمه حقوق بشر از دست و رویشان می‌ریزد! هر کس را بخواهند متهم کنند، به نفی حقوق بشر یا به عدم مراعات حقوق بشر متهم می‌کنند؛ مثل این‌که آنها بانی حقوق بشرند!شماچه می‌فهمیدکه حقوق بشر چیست؟! شما که علیه ملتهای افغانستان، عراق ،سوریه، فلسطین چنین خیانتهایی را روا می‌دارید و با صهیونیستهای نژادپرست همدست و همراه و حمایت کننده‌ی آنها هستید، چه می‌فهمید که حقوق بشر چیست؟ !

آن وقت، امریکاییها ادّعای طرفداری از حقوق بشر می کنند؛ در باره حقوق بشر سخنرانی می کنند؛ حرف می زنند؛ سیاستگذاری می کنند و موضعشان را نسبت به رژیمها معین می کنند. فلان رژیم در لیست سیاه آنها است، چون به قول آنها «مراعات حقوق بشر را نمی کند!» فلان رژیم امروز از لیست سیاه خارج شد! فلان رژیم امروز وارد لیست سیاه شد! اینها، دنیا را بازی می دهند. افکار عمومی عالم را با این ملعبه به تمسخر می گیرند و بشریت را استهزا می کنند .

می گویند «ما طرفدار حقوق بشریم»! ما می گوییم: اصلاً شما حقوق بشر را قبول ندارید. شما معتقد به حقوق بشر نیستید. شما معتقد به حقوق کمپانیها و سرمایه داران بزرگ آمریکایی هستید. شما معتقد به منافع نامشروع رژیم امریکا در سراسر دنیا هستید. شما به حقوق بشر کار ندارید! آن دیروزتان، این امروزتان! این قضایای داخل امریکا و مساله سیاهان! شما شهروندان خودتان را فقط به این جرم که پوستشان سیاه است، زیر پاهایتان لگدمال می کنید، آن وقت دم از حقوق بشر می زنید؟! شما سالهای متمادی در مناطق گوناگون عالم، انسانهای مظلوم را ذبح کردید. در ویتنام چه کردید؟ چندصد هزار از نیروهای آمریکایی برای دفاع از یکی از فاسدترین رژیمها به ویتنام رفتند! نه فقط مسلّحین مقابل خودشان، بلکه زن و بچه ها را کشتند. چقدر کشاورزان مزارع را از بین بردند و کشتند و گروههایی را در زیر خروارها خاك مدفون کردند! اینها حقوق بشر است؟ !

آن از دیروز آمریکا با آن همه جنایتش، این از امروز آمریکا با این همه خیانتش و خدا می داند ادامه حضور آمریکا در فردا چه بر سر مردم مظلوم افغانستان خواهد آورد. ولی آنچه مسلم است اینکه آزموده را آزمودن خطا است. تاکنون در تاریخ از آمریکا چیزی جز غارت و خونریزی و چپاول و مظلوم کشی و ظالم پروری چیزی ثبت نشده است که ما بخواهیم چشم امید به بهبود آن داشته باشیم

ګناه وړه مه ګڼئ

د ګناه په اړه (حدیث)

عن أنس (رضي الله عنه) ، قَالَ: إِنَّكُم لَتعمَلُونَ أَعمَالاً هي أَدَقُّ في أَعيُنِكُم مِنَ الشَّعرِ، كُنَّا نَعُدُّهَا عَلَى عَهدِ رَسُول الله (صلى الله عليه وسلم) مِنَ المُوبِقات.

د حدیث تخریج: داحدیث امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح، کتاب الرقاق، باب ما يتقى من محقرات الذنوب کې نقل کړی دی، د حدیث نمره ده: ۶۴۹۲

د صحابي لنډه پیژندنه:

أنس بن مالک بن النضر د مدینې منورې د انصارو د خزرج قبیلې څخه وو، مور یې ام سلیم بنت ملحان نومیده، مدینې منورې ته د نبي کریم ﷺ د هجرت په وخت کې د ده عمر لس کاله وو، مور بې بې یې هغه د اسلام د ستر پیغمبر د خدمت لپاره وګماره، او لس کاله یې د هغه ﷺ خدمت وکړ، تر څو چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ژوندی وو، نوموړي یې خدمت کولو، انس (رضي الله عنه) تقریبا د سلو کالو په عمر کی څه دپاسه په نویم هجري کال کې په بصره کې له دنیا څخه ستر ګې پټې کړې.

د مفرداتو معنی:

أَدَقُّ: باریک، لږ، کوچنی. أَعیُنِکُم: د عین جمع ده، عین ستر ګې ته وایي، یعني ستاسو په ستر ګو ګې. الشَّعرِ: ویختنه، نَعُدُّهَا: شمیره به مونږ هغه. عَهدِ: زمانه، وخت، المُوبِقات: د موبقة جمع ده، تباه کوونکې او هلاک کوونکی شی.

أنس (رضي الله عنه) وایي چې تاسو ځینې داسې کارونه کوئ چې هغه ستاسو په ستر ګو کې د ویختنه څخه هم باریک او کوچني وي، خو مونږ به دغه کارونه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په وخت کې د هلاک کوونکو شیانو څخه شمیرل.

تشریح: اسلام په هر اړخیز ډول د انسان د نفس تزکیه غواړي، او د دغه تزکیې لپاره ضروري ده چې انسان د هر ډول ګناه څخه ځان وساتي، ګناه لویه وي او که وړه خو هرو مرو په نفس باندې اغیزه کوي، د تزکیې په مخ کې خنډ ګرځي او د انسان اړیکه د الله تعالی سره ضعیفه کوي، د انسان د زړه نورانیت تیتوي، او هغه بصیرت او رڼا چې د تقوی په واسطه په زړه کې پیدا کیږي هغه په تیارو بدلوي.

هم دغه لامل دی چې اسلام هر قسم ګناه ناوړه بولي، او خپل پیروان د هغې څخه منع کوي، او نه خوښوي چې انسان د یوې وړې ګناه له امله هم د خپل رب نافرماني وکړي، سره لدې چې اسلام ګناهونه په لویو او وړو قسمونو ویشلي دي، ځینې ګناهونه به د سزا او پایلې له امله ډیر ناوړه وي او ځینې به لږ، خو هیڅ کله یې هم خپل پیروان د وړو ګناهونو په ترسره کولو نه دي ډاډه کړي، عمل خو له څه چې د وینا په اړه یې هم لارښوونه کړې ده چې داسې څه د خولې څخه مه باسئ چې ستاسو د هلاکت او تباهۍ لامل کیږي.

ابو هریرة (رضي الله عنه) د اسلام د ستر پیغمبر وینا نقل کوي چې: «په تاسو کې بعیو څوک د الله د خوښۍ یوه داسې خبره وکړي چې هیڅ پرواه به یې ونه لري، خو الله به یې د هغې له امله درجې پورته کړي، او یو څوک به په هم دغه بې پروایۍ سره د الله د خفګان خبره وکړي چې د هغې له امله به یې الله جهنم ته ګوزار کړي.»

ډیر خلک په ډیره بې پروایۍ سره د الله په هکله، یا د هغه د پیغمبرانو، کتابونو او دین په هکله د خپلې ژبې څخه داسې خبرې وباسي چې هغه د الله په وړاندې ډیره ناوړه شمیرل کیږي، او د هغه د خفګان سبب ګرځي، چې د هغې له امله دغه انسان د تباهۍ جوګه ګرځي، او که انسان د الله، د هغه د پیغمبر او دین د دفاع لپاره په ښکاره ډیره وړه خبره کوي، خو په حقیقت کې به هغه ډیره لویه او ثواب یې ډیر ستر وي.

په یو حدیث کې معاذ بن جبل (رضي الله عنه) وایي چې ما رسول الله ﷺ ته وویل: ما ته په یو داسې خبره حکم وکړه چې ما جنت ته بوځي، هغه مبارک راته وویل: په الله ایمان راوړه او د خیر خبره کوه ستا لپاره به ولیکل شي، او د شر خبره مه کوه، ګنې ستا په خلاف به ولیکل شي، ما ورته وویل: آیا مونږ په خپلو خبرو هم نیول کیږو؟ هغه راته وویل: خلک د خپلو ژبو له امله د جهنم په اور کې پر مخ غوزول کیږي.»

چې د ژبې د یو وړې خبرې له امله انسان د هلاکت سره مخ کیږي، نو د بدن د نورو غړو د وړو ګناهونو له امله به د تباهۍ سره نه مخ کیږي؟

هم دغه لامل دی چې کله انس (رضي الله عنه) خلک ولیدل چې وړې ګناه ته ګناه نه وایي او ډیر په زړورتیا سره هغه تر سره کوي، یا د ګناهونو سره دومره عادت شوي دي چې لویه ګناه هم ورته په ستر ګو کې وړه ښکاري، نو هغوی ته یې د نصیحت په ډول وویل: چې دغه ګناهونه خو به مونږ د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) په وخت کې ډیر لوی ګڼل، او تاسو ته اوس ډیره واړه ښکاري، او داسې یې کوئ لکه دا چې ګناه نه وي، یا د دې به هیڅ سزا نه وي، پام کوئ ګناه وړه مه ګڼئ، ځکه که ګناه هر څومره وړه شي خو بیا هم په پایله کې د انسان د تباهۍ لامل کیږي.

نو ځکه ټولو اسلام منونکو او په ځانګړي ډول د حق دلارې دعوتګرانو ته لازم دي چې د هر قسم ګناه څخه د خپل ځان د ساتلو کوشش وکړي، او په یوه پلمه او بله پلمه ځان ته ګناهونه روانه کړي، که یوه ګناه د عامو خلکو لپاره وړه هم وي خو د دعوتګرانو او د حق د لارې د پیروانو لپاره هغه لویه شمارل کیږي، او ډیر ځل د دعوتګر وړه ګناه د هغه په لار کې خنډ جوړوي، او د نورو خلکو لپاره د لویو ګناهونو د کولو بهانه پیدا کوي.

الله (جل جلاله) دې مونږ د هر قسم ګناهونو څخه وساتي. آمین

اعلام شکست آشکار آمریکا در جنگ افغانستان

حبیب الله یوسفزی

اوباما به اعلام اختتام جنگ، بر شکست آمریکا در افغانستان اعتراف کرد. رییس جمهور آمریکا بارک اوباما در پنجمین سخنرانی خویش به ملت آمریکا، صراحتا اظهار داشت که آمریکا امسال ۲۰۱۴ م جنگ افغانستان را خاتمه می بخشد و نیروهای خویش را از آن کشور به آمریکا بر می گرداند.

اوباما استثنایی در اظهارات خود نیز داشت که اگر اداره کابل با آمریکا پیمان امنیتی را عقد نماید درآن صورت تعدادی کمی از نیروهای آمریکا و ناتو در افغانستان باقی خواهد ماندند، تا به اصطلاح اوباما، به هراس افگنان موقع بازگشت به افغانستان و تهدید به آمریکا را ندهد. سخنان اوباما از زاویه های مختلف قابل بررسی و دقت است ولی اینجا سعی خواهیم نمود که این سخنان را روی اعلام اختتام جنگ در افغانستان و تاکید بر باقی ماندن شماری از اشغالگران آمریکایی تحت برسی و تحلیل قرار دهیم.

اعلام اختتام جنگ از طرف آمریکا خصوصا به زبان اوباما رییس جمهور و فرمانده اعلی تمام نیروهای آمریکای، صراحت بر اعلام شکست آمریکا در جنگ افغانستان است.

در حالی که فرمانده اعلی نیروهای آمریکایی بر شکست در جنگ اعتراف می نماید، پس ادعای باقی گذاشتن شماری محدودی از نیروها به امید حفظ وضیعت اشغالی افغانستان، کاملا نقیض اعتراف قبلی و نمایانگر ادامه پالیسی جنگ طلبانه آمریکا در جهان اسلام است، جنگی که اکنون برای ملت آمریکا هرگز مفهومی ندارد جز تحمل تلفات جانی و زیان های پی هم اقتصادی. زمانی که جنگ در تاریخ بشریت ازجانب نیروی یورش گر آغاز می شود، اختتام نبرد و جنگ حتما دارای پنج حالت می باشد.

۱ـ اختتام جنگ زمانی اعلام مي شود که جانب مقابل جنگ، با شکست مواجه شده و نابود گردد.
۲ـ درصورت عدم نابودی جانب مقابل، باید در اثر فشارهای نظامی سر تسلیم خم نماید و اسلحه بر زمین بگذارد.

۳ـ به میان آمدن سازگاری با هم، یعنی هر دو جانب بدون این که یکی بر دیگر برتری حاصل نموده باشند باید روی مذاکرات به یک توافق سومی دست یابند.

۴ـ به اثرفشارهای نظامی و کوبیش، جانب مقابل مایوس شده فرار را بر قرار ترجیح دهد وصحنه را ترک نماید.
۵ـ اینکه جانب آغازگر جنگ بدون اینکه کدام دست آورد داشته باشد، اعلان اختتام جنگ نماید و عقب نشینی کند ،در این صورت معلوم است که جانب یورشگر حوصله جنگی را از دست داده و با شکست مواجه می گردد.

بدون در نظرداشت موارد فوق، تصور بیرون رفت از جنگ و اعلان اختتام آن هرگز ممکن نیست. پس بر میگردیم به اعلام یک جانبه اختتام جنگ از طرف اوباما.

ـ آیا نیروهای آمریکایی تحت فرماندهی اوباما توانسته اند جانب مقابل جنگ یعنی مجاهدین افغانستان را نابود کنند؟

ـ آیا جانب مقابل آمریکا، روی فشارهای دوازده ساله نیروهای اشغالگر آمده اند تا اسلحه به زمین نهند و سر تسلیم به اهداف آمریکایی خم نمایند؟

ـ آیا روی کدام نشست و توافق مستقیم یا غیرمستقیم هردو جانب به کدام توافق سومی دست یافته اند تا روی آن جنگ خاتمه یابد؟

ـ آیا به اثر استعمال نیرو امریکایی (با استفاده از تمام امکانات جنگی عصرکنونی) مجاهدین از صحنه جنگ فرار نموده اند، تا میدان جنگ خالی بماند و نیاز به اعلام اختتام جنگ باشد؟

درصورتیکه جانب مقابل جنگ نابود نشده، بلکی نیرومندتر شده باشد، به فشارها هم تسلیم نه شده است، روی کدام توافق با آمریکا متارکه جنگ هم نه کرده و نیز پا به فرار هم نه گذاشته است، بلکی برعکس دوازده سال است که با ۴۹ کشور مجهز و نیرومند جهانی درگیر است، پس اعلام اختتام جنگ از طرف جانب آغازگر جنگ چه مفهومی را افاده می کند؟

پاسخ واضح است، آمریکا اعتراف نمود که دیگر نمی تواند جنگ افغانستان را با حجم و ثقلی که دارد تحمل کند، بلکی از موقف خود عقب نشینی می کند و به اعلام اختتام جنگ، دیگر این جنگ پرمصرف را باخت و میدان را ترک می نماید، این اعلام اگرچه در لفافه صورت گرفت ولی تمام جهان و بشریت شاهد است که آمریکا در ظرف دوازده سال بدون اینکه تلفات دیده باشد، مردم ملکی را به شهادت رسانیده باشد، ظلم و وحشت را بر افغانستانی های بی دفاع روا داشته باشد چیزی بیشتری انجام نه داده است.

نتیجتا اقتصاد خود را از دست داد، به تریلیون ها دالر ضایع شد، دها هزار عسکر آمریکایی که بدون شک آرمان ها، اهداف و نیز حق زندگی در دنیا داشتند روی پالیسی جنگ طلبانه آمریکا به هلاکت رسیدند، معیوب شدند، دچار مشکلات روانی شدند و رنج های جنگ فلاکت بار، بی هدف و بی نتیجه را تحمل نمودند.

با در نظرداشت اعتراف شکست، جزء دومی سخنرانی اوباما یعنی حرف از باقی گذاشتن چند هزار عسکر در افغانستان، انسان را متوجه می سازد که سیاسیون آمریکایی با موجودیت تجربه های دوازده ساله هنوز هم وضیعت را در افغانستان دقیق پی نبرده اند و هنوز هم می خواهند ناکامی های پی هم را به آزمایش گیرند.

پسوند باقی گذاشتن عساکر اشغالگر، می تواند دو هدف داشته باشد.

۱ـ آمریکا نمی خواهد و حاضر نیست جهانیان شکست آمریکا را آشکارا مشاهده کنند و آن را پی برند، به خاطر جلوگیری از اعلام آشکار شکست که واضحا تمام منافع آمریکا را که من حیث ابر قدرت جهانی از آن بهره می بورد به مشکلات جدی و عملی مواجه می سازد، آمریکایی ها هنوز هم از باقی گذاشتن عساکر در افغانستان حرف می زنند و به گونه وانمود می کنند که بر وضیعت کنترل دارند.

۲ ـ علت دومی حرف از باقی گذاشتن نیروها در افغانستان، هنوز هم امید کاذب سیطره بر منطقه است، که آمریکایی ها آنرا از موقیعت افغانستان در سر می پرورانند.

در عمل هردو علت فاقد صلاحیت تضمین اهداف آمریکایی ها می باشند.

ليکوال: استاد قيام الدين کشاف د کرزي د اداري لوړپوړي چارواکی
ترتيب: حافظ محمد خراساني

د ظالم تقويه لوی جرم دی

يو بام دوه هواوي

د روسي يرغلګر ځواکونو د يرغل په مهال ټولو جهادي ډلو هڅه کوله چې خپله کړنلاره د قرآن او حديث سره سمه وښيي، د مقابل لوري د ځپلو او مغلوبولو لپاره به يې په قرآني آياتونو او نبوي احاديثو باندي استناد کول او د هغوی د ناوړه اعمالو مذمت او غندنه به يې کوله.

د افغانستان د مجاهدينو د اسلامي اتحاد د مشر استاد عبدالرب رسول **سياف** په منظوري د استاد قيام الدين **کشاف** کتاب **اسلامي نظام** د تنظيم فرهنګي کميټې له لوري له نن نه ۳۲ کاله مخکې په کال ۱۳۶۲ هـ ش کې چاپ ته وسپارل شو.

کتاب يقيناً پر محتوا د اسلامي انقلاب د ځوانانو لپاره يو لارښود کتاب دی. خو خو د کتاب ليکوال او د تنظيم مشرتابه چې اوس مهال په کابل کې د **صليبي مزدوري** اداري لوړپوړي چارواکي او حاميان دي د همدې کتاب تر فتوا ګانو، بريدونو او ګوزارونو لاندي دي. او د (خپل خنجر په خپل سر) عملي مصداق ګرځيدلي دي.

موږ د **اسلامي نظام** د کتاب د لومړي ټوک، ۲۷۷ مخ يوه موضوع (**د ظالم تقويه لوی جرم دی**) له لاسوهنې څخه پرته کټ مټ را نقل کړي تاسو درنو لوستونکو ته يې د مطالعې بلنه درکوو. (خراساني)

د اسلام پاک دين چې څنګه د ظلم او ظالم تقبيح او غندنه کوي، همدغسي هغه چاته هم د کرکې په نظر ګوري، چې هغه د ظالم ملاتړ کوي، د ظالم د حکم اطاعت کوي، د ظالم نوکري او ماموريت کوي، د ظالمانو په رديف او قطار کښې دريږي، يا داسې چاري سر ته رسوي، چې له هغه نه د ظالم په حرکتونو باندي خوښۍ ځرګنديږي. د الله تعالی فرمان دی چې: و لاتطيعوا امر المسرفين. الذين يفسدون في الارض و لايصلحون. تاسي د هغو له حده تيريدونکو کسانو د حکم اطاعت مه کوئ، چې په ځمکه کښې فساد خپروي او اصلاح نه کوي، يعني دا چې د خدای د شريعت د حدودو پابندي نه کوي، د خدای احکامو ته غاړه نږدي، د خدای شريعت نه په خپل ځان تطبيقوي او نه نورو ته د دې موقع ورکوي، چې د هغه د انفاذ په لاره کښې حرکت وکړي، بلکې د دې په ځای فساد خپروي، ظلم رائجوي، د فحشاوو، فسق او فجور لاري تقويه کوي، د خدای د قوانينو په ځای د شيطان او طاغوت قوانين نافذوي، د نيکيو مخه نيسي او د بديو تعميم ته زمينه مساعد وي، يا د قرآن کريم په بل تعبير" و يصدون عن سبيل الله" خلک د خدای له لاري نه منع کوي او د شيطان لاري ته يې را اړوي،((يادونه: د ليکوال قلم دلته داسې غلط شوی، چې د ده راتلونکې ترې جوتيږي، ليکلي يې دي چې د شيطان لاري ته يې را اړوي، يعني ځان يې د شيطان په لاره کې ګڼلی، پکار خو داسې وينا وه چې د شيطان لاري ته يې ورا اړوي)) نو د دغه راز کسانو تقويه او د هغو مستقيمه او غير مستقيمه ملګرتيا د خدای د قهر او غضب موجب او د اسلام له دائرې نه د وتلو او خارجيدو معنا لري. د خدای د ګران حبيب حضرت محمد(ص) وينا ده: (من مشى مع ظالم ليقويه وهو يعلم انه ظالم فقد

خرج من الاسلام)، چا چې د ظالم ملګرتیا وکړه، د دې لپاره چې هغه تقویه کړي او دی پوهیږي هم چې هغه ظالم دی، په حقیقت کښې دی له اسلام نه وتلی دی. یو مؤمن باید د ظالم له ملاتړ نه په کلکه ځان وساتي که هغه ظالم فرد وي، که ډله، حکومت وي او که سلطنت وي.، مشهور تابعی حضرت عطاء بن رباح (رح) ته چا عرض وکړ، چې زما ورور د بنـي امیـه پـه حکومت کښې د کوفې د والي منشي دی، د چـارو فیصـلې کـول د هغـه وظیفه نده، البتّه کومې فیصلې چې صادرېږي، د هغه په قلم لیکل کېږي، که هغه دغه نوکري ونکړي، نو بل عائداتي مدرک یې نشته ، مفلس بـه شـي، حضرت عطاء په ځواب کښې د قـرآن کـریم د سـورهٔ قصـص ۱۷ آیـت ولوست، چې په هغه کښې د فرعون له حکومت سره د حضرت موسي (ع) چې لا په هغه وخت کښې پیغمبر نه و، تاکل شوي د مقاطعې اعلان کېـږي او وایي (قال رب بما انعمت علي فلن اکون ظهیراً للمجرمین) د دې آیـت لـه اوریدلو سره سم منشي وویل: له نن ورځـې وروسـته بـه د بنـي امیـه د احکامو په لیکلو کښې زما قلم و نه خوځیږي، حضرت عطاء وفرمایل: خیر نو الله به هم تا له روزي څخه محروم نکړي.

د روح المعاني د ۲۰ ټوک پـه ۴۹ مـخ کښـې راغلـي دي، چـې ضحاک خو یوازي د دې خبري لپاره د عبدالرحمن بن مسلم لیږل غوښتل چې هغه د بخارا د خلکو معاشونه هغو ته یوسي او پـرې ویـي ویشـي، مګر هغه له دې خدمت نه هم انکار وکړ. د هغه دوستانو هغه ته وویل: د دې خبري نو څه باک دی؟ هغه وویل: نه غواړم چې د ظالمانو پـه هـیڅ کار کښې مرستندوی اوسم.

د امام ابو حنیفه (رح) دغـه واقعـه د هغـه ټولـو مسـتندو سـوانح لیکونکو الموفق المکي، ابن البزاز الکروي، ملا علي قاري او نورو لیکلي ده چې د هماغه په امر د منصور عمومي قومندان حسن بن قحطبه پـدې وینا سره له خپلې وظیفې نه استعفاء ورکړې وه، چې تر نن ورځې پوري چې ما ستا د سلطنت د ملاتړ لپاره څه کړیدي، که دا د خـدای پـه لار کښې وو، نو زما لپاره همدومره کافي دي، خو که دا د ظلم په لار کښـې وو، نو زه پخپله عملنامه کښې د نورو جرمونو زیاتول نه غواړم.

ګرانو او محترمو لوستونکو! کله چـې لـه یـو غیـر عـادل مسـلمان حکومت سره مرستّه او د هغه تقویه کول د اسلام له نظره جرم دی، د هغه چا په باب څه فکر کوئ، چې هغه د یو کافر، دهري (صلیبي) حکومـت ملاتړ وي، یوازي کافر او دهري نه بلکې ظالم هم تر داسي اندازې پوري چې د فرعون او نمرود ظلمونه او د هغه د جبر او تشدد داستانونه یې لـه اذهانو څخه هیر کړل. د دغسي حکومتونو مثال یوې خوانـه پـه منځنـي ختیز کښې صهیونستي ښکیلاک دی، چې د فلسطین په مجاهـد ولـس باندي یې د کلونو په اوږدو کښې د وحشیانه مظالمو داسې لـړۍ روانـه کړیده چې درنده ځناور هم ترینه امان پناه غواړي، د هغه د ځوان نسـل په وینو باندي لاسونه سره کول خو لا څه، چـې د هغـو د تـور سـرو او معصومو ماشومانو او اطفالو په وژلو یې هم ابله ونکړه، که هر څو د نړۍ د خواخوږي بشریت لخوا محکومیږي پروا یـې نشـته او هماغسـې خپلـو ظلمونو ته ادامه ورکوي، له بلې خوا بل ژوندی مثال په افغانستان کښې د روس سفاک او خونړی وحشي ښکیلاک دی، چې په بې شرمانه ډول او بې موجبه په غاصبانه توګه یې خپل سره پوځونه له بـې شـمیره طیـارو، ټانکونو او راز راز درندو او سپکو مدرنو مهلکو او تباه کوونکـو وسـلو سره د اسلامي واړه هیواد افغانستان خاوري ته داخل کړیدي او له کلونو را هیسي د وحشیانه خونریزی پروګرام پر مخ بیـایي. نـه یـوازي لکونـه بیګناه ځوانان، زاړه، تور سري او ماشومان یـې ووژل، بلکـې پـه دغـه هیواد کښې یې د ژوند ټول وسایل هم تباه کړل. اوس نو که څوک د دغـو له خدایه منکرو روسانو او د هغو د بیدینه غلام صفتو مزدورانو نوکري او ماموریت کوي او د هغه په مقابل کښې په ټیټو سترګو اجوره اخلي. نه ها خوا ته خپلو ورانو کورونو ته ګوري، نه د خپلو ورونو وینو ته، نه خپلو سر تورو خویندو ته او په پلمه یې دا ده چې روزي ګټو او ورسـره د مسـلماني دعوه هم کوي، آیا د دوی دغه عظیم جرم د خدای او د مـؤمن ملـت پـه وړاندي د بښنې وړ ګرځیدای شي؟ هیڅکله نه، هیڅکله نه (او ربښـتیا هم هیڅکله نه)